برای اولین بار یک دولت مستقل که مرکزیت آن در حدود افغانستان امروزی است در غزنی توسط ترکمن تبار های الپتگین و سبکتگین ایجاد میگردد و توسط سلطان محمودغزنوی به یک امپراطوری وسیعی مبدل میگردد که حدود آن از هندوستان تا فارس بود. غوری‌ها جهانگشایان بعدی هستند که همزمان با ترک تبارهای سلجوقی با ایجاد یک امپراطوری وسیعی که تا ترکیه و ایران امروزی را احتوا میکند، جانشین آنها میگردند. خوارزمشاهیان بعد از آنها بالای این سرزمین‌ها اثر می‌گذارند که به تعقیب آن‌ها مغول‌ها به این سرزمین‌ها سرازیر شده و به تاراج می‌پردازند. تیموری‌ها و بابری‌ها و صفوی‌ها آخرین جهانگشایان در کشور ما بودند. این جهانگشایان و دولتهای مربوطهٔ آنها در پهلوی ویرانگریها، مدنیتهایی را هم ایجاد کرده و سبب مهاجرتهای نفوس به این مناطق و از این مناطق هم شده اند که اثرات اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی قابل ملاحظهٔ بجا گذاشته اند.

کوششها برای ایجاد یک دولت مستقل با یک هویت مستقل بومی در مقابله با حاکمیت گورگانیان هند و صفویان فارس با جنبشهای روشانی[3]، رحمان بابا و خوشحال خان در حوزهٔ دریای سند (قرون شانزدهم و هفدهم میلادی)، و قیامهای هوتکیان و ابدالیان در حوزه های قندهار و هرات  (قرن هژدهم میلادی) آغاز میگردد.

بنابر آن کشورمستقلی که در جهان امروز بنام افغانستان یاد میشود تهداب آنرا قیامهای میرویس خان هوتکی در سال 1709م در قندهار، اسدالله خان ابدالی در  سال 1717م در هرات و احمدخان ابدالی در سال 1747م بر خرابه های امپراطوری های مغولی، صفوی و افشاری در این سرزمینها میگذارند، در گذشته مدنیت‌های زیادی را تجربه کرده که کاوش‌های باستانشناسی آثار آن‌ها را در دسترس ما قرار می‌دهد. مهاجرت‌های زیادی هم صورت گرفته و در این مورد

[3] بایزید خان انصاری معروف به پیر روشان شاعر صوفی و انقلابی پشتون متولد 1525م وفات 1585م. وزیرستان شمالی.

تیوری‌هایی به ارتباط مهاجرت آریایی‌ها از شمال قفقاز، از اوکراین و سایبیریا به جنوب بطرف سرزمین‌های ما و مهاجرتهای از مناطق شرق به سرزمینهای غرب رود سند موجود اند. تمام این لشکرکشی‌ها، مدنیت‌ها و مهاجرت‌ها بالای ساختمان نفوس این مناطق ناگذیر اثر گذاشته اند.

برای بعضی‌ها مربوط ساختن تاجیک‌ها به "آریایی‌ها" و دیده پوشی از ریشهٔ "آریایی" پشتون‌ها به حد تعصب بالا رفته است، اما حقیقت این است که هرگاه نژادی که ما امروز به نام آرین از خیرات نوشته یک دانشمند فرانسوی در اخیر قرن هژدهم می‌شناسیم وجود داشته باشد که در قرن بیستم معادل فارسی دری آن به نام "آریایی" به وسیله یک ناسیونالیست ایرانی به نام رضا شفق اختراع شد، اقوام پشتون و تاجیک هردو شامل آن اند.

پروفیسور نظروف منشأ مشترک آریایی اقوام پشتون و تاجیک را مطرح می‌کند. مرحوم میر غلام محمد غبار و احمدعلی کهزاد از آریائیهای پختانه و دادیک نامبرده اند. برای بعضی فعالین سیاسی تاجیک قبول چنین فرضیة، هم نژاد بودن پشتون و تاجیک، در حقیقت نقض کامل تهداب ایدیولوژیک برتری نژادی فرضی آن‌ها بر قوم پشتون محسوب گردیده شدیداً آن را رد می‌کنند. حالا جای دارد تحقیق کنیم تا بدانیم که آریایی یعنی چه؟ منشأ این نامگذاری زبانی است یا نژادی؟ آریایی‌ها کی‌ها بودند و در کجا زندگی می‌کردند؟ آریایی‌ها از کجا آمده اند؟ آیا فرضیهٔ مهاجرت و کوچ آریایی‌ها از شمال قفقاز به جنوب به سرزمین‌های آسیای میانه، ایران امروزی، افغانستان امروزی و هندوستان حقیقت دارد؟ منشأ این فرضیه بر چه استوار است؟ آیا ایرانی‌ها آریایی هستند؟

در بیشتر از یک قرن اخیر بسیاری مؤرخین و جامعه شناس‌ها باور به کوچ یا مهاجرت آریایی‌ها از شمال قفقاز و جنوب روسیه به سه جانب، به غرب به جانب اروپا، جنوب به جانب ایران امروزی و جنوب شرق به جانب افغانستان و هند باور داشتند. باید اذعان کرد که این عقیده کوچ آریایی‌ها چندان سابقه تاریخی ندارد. برای بار اول سر ویلیام جونز انگلیسی در اواخر قرن هژدهم به شباهت‌های ریشه‌های زبان‌های هند و اروپایی پی می‌برد و اصطلاح زبان‌های هند و اروپایی را معرفی می‌کند. همزمان با او دانشمند فرانسوی به نام آدیپرون که اوستا شناس بود و اولین ترجمه اوستا را به زبان اروپایی (فرانسوی) انجام داد، در سال‌های 1760م می‌خواست اشاره بکند به قومی که اوستا را نوشته اند. او با استفاده از کلمهٔ آریا ویجه که در اوستا بود معادل فرانسوی آن را به شکل آرین Arian اختراع کرد و این قوم را آرین نامید. در دهه‌های بعدی نویسنده‌گان آلمانی به تدریج شباهت زبانی هند و اروپایی را به شباهت نژادی ارتقا می‌دهند چون به مساوات نژادی عقیده نداشتند و در جستجوی یک نژاد برتر بودند نژاد آرین را تبلیغ می‌کنند.

تا این زمان هنوز کسی اصطلاح فارسی دری "آریایی" را نساخته بود. در دهة آخر قرن نزدهم مرزا آقاخان کرمانی اولین شخص ایرانی است که به نژاد آرین اشاره می‌کند. رضا شفق در کتاب معروف "تاریخ ایران باستان" برای اولین بار از اصطلاح "آریایی" در قرن بیستم استفاده می‌کند. از آن به بعد اصطلاح "آریایی" به زیربنای ایدیولوژیک و نژادی ناسیونالیست‌های فارس، به مثابه یک نژاد برتر، با دنباله‌روی از آدولف هیتلر، مبدل می‌گردد که به موجب آن اسم رسمی فارس را به ایران مبدل می‌کنند، کتیبه‌های سنگی جعل شده هخامنشی‌ها از زیر خاک‌ها برون می‌آیند، پادشاهان هخامنشی آریایی می‌شوند، قبر کس دیگری را بنام کورو ش نامگذاری میکنند، آهورا مزدا خدای آن‌ها می‌شود و امثالهم.

امروزه بسیاری از محققین سرشناس در ایران به مهاجرت آریایی‌ها از شمال شرق به ایران امروز یا فارس باستان عقیده ندارند، کتیبه‌های هخامنشی را جعلیات ساخته شدهٔ دربار شاه می‌دانند، از جمله دکتور شاهرخ وفاداری پژوهشگر ایران باستان، رضا ضیا ابراهیمی پژوهشگر تاریخ ایران و استاد در پوهنتون آکسفورد در یک مصاحبه با تلویزیون فارسی بی بی سی در این مورد صحبت می‌کنند که به تیوری مهاجرت آریایی‌ها به عنوان یک نژاد عقیده ندارند. دکتور مازیار استاد ژنیتک در پوهنتون پورث سمث انگلستان در این مصاحبه

می‌گوید: "همچون مهاجرتی را علم ژنیتیک تأیید نمی‌کند. آن‌ها می‌گویند اینکه آریا در اوستا به یک قوم یا یک طبقه خاص در جامعه و یا به زبان اطلاق می‌شده ما چیزی نمی‌دانیم."

بر همین منوال استاد معاصر ایرانی دکتور مرادی غیاث آبادی در یک مصاحبه با بخش فارسی رادیو فرانسه می‌گوید مردم ایران باشنده‌گان بومی همین سرزمین ایران بوده اند و از جای دیگری به این سرزمین کوچ نکرده اند. در مورد آریایی‌ها او می‌گوید آریا در (اوستا) و آریو (کوشانی‌ها) مردم سرزمینی بوده در شمال و شمالغرب افغانستان امروزی بلخ و هرات.

در هماهنگی با این اظهارات این بار اول است که تحقیقات ژنیتیکی در مورد اقوام افغانستان منتشره جریده پلوس وان، چاپ بیست و هشتم مارچ سال ۲۰۱۲م به قرابت ژنیتیکی اقوام پشتون و تاجیک دلایل فزیکی ژنیتیکی ارایه می‌کند و تیوری مهاجرت آریایی‌ها را از شمال به جنوب بطور مستدل مورد سوال قرار می‌دهد.





# په کابل کې د چایو پیاله، که د پنځو لسیزو ناکامه تګلاره



**لیکنه؛ عبدالوحید وحید**

د افغانستان او پاکستان ترمنځ ترینګلې اړیکې په افغانستان کې د پاکستان د استخباراتي اداري د پخواني مشر لخوا د چایو د پیالې له څکلو څخه نه پیلیږي او نه هم همدلته ختمیږي، بلکې دغه اړیکې له پیچلیو کړلیچونو څخه تېریږي او ترینګلی تاریخ لري. د دواړو ګاونډیانو اړیکې له تاریخي پلوه ستونځمنې او له یو لړ داسې ننګونو سره مخ دي چې کله کله یې ترمنځ فزیکي شخړې رامنځته کیږي.

دَ دغو د اړیکو د ترینګلتیا ریښې د بریتانیې د حاکمیت په مهال له افغانستان سره د لاسلیک شوي ډیورنډ کرښې له تړون څخه سرچینه اخلي چې پاکستان یې د دواړو هېوادونو ترمنځ نړیواله پوله او افغانستان یې له لمړۍ ورځې څخه د پولې په توګه له منلو څخه انکار کوي. افسوناک اړخ یې دادی چې په دغه هکله سیاسي هلې ځلې او ډیپلوماسي نه، بلکې په تاوتریخوالي باندې ولاړه د نیابتي جګړو ستراتیژۍ کارول کېږي، خو شک نشته چې په دغه هکله د دواړو هېوادونو د حکومتونو او ولسونو ترمنځ د یوې هوکړې تر رامنځته کیدو پورې به کړکېچ دوام کوی.

د پاکستان د لمړي وزیر د مرستیال هغه څرګندونې چې وایي "پاکستان په کابل کې د چای پیالې د څکلو بیه ورکوي" د خورا اوږدې او پیچلې مسئلې د ساده ګرزولو هڅه ګڼل کېږي. دغه شان څرګندونې ممکن د افغانستان په هکله د پاکستان د هغو اوږدمهاله ناکامو ستراتیژیکو تګلارو په تړاو د مسئولیت منلو د اهمیت کمولو هڅې وي چې په سیمه ایز ثبات یې منفي اغیزې کړې دي. د یوې پیالې چای څکلو د ببې ورکولو پرځای به د پاکستان د مشرتابه لپاره ډېره ګټوره وي چې خپلې د څو لسیزو تاریخي تېروتنې ومني او له خپل ګاونډۍ هېواد سره د ډیپلوماتیکو اړیکو او ګډې همکارۍ له لارې د یوه باثباته راتلونکي بنسټ کیږدي.

د ترانزیتي او سوداګریزو مسائلو په برخه کې ترینګلتیا هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د کړکېچنو اړیکو یو مهم عامل دی. د پاکستان لخوا په یو اړخیز ډول په ډیورنډ کرښه باندې د دروازو بندولو ، له سوداګریزو تړونونو څخه سرغړونو او په افغان ترانزیت باندې د یو اړخیزو بندیزونو لګولو په څیر مسئلو باندې شخړې اکثرا د دواړو هیوادونو ترمنځ د ډیپلوماتیکو خنډونو د راپورته کیدو او د کړکیچ لامل شوي دي.

په پاکستان کې نا امني یقیناً د افغانستان لپاره د اندېښنې وړ خبره ده او باید افغان حکومت له پاکستان سره د دغه هېواد د مشرانو د اندېښنو په تړاو د امکان ترکچې مرسته وکړي، خو متأسفانه پاکستان په کور د ننه نیمګړتیاو محرومیتونو او خپلو ناکامو تګلارو ته له متوجه کیدو پرته او په دغه هکله د ډیپلوماتیکو فورمونو کارولو په پرتله افغانستان ته د ګوابنونو او پارووںکو ګوتځنډنه پالیسي ته دوام ورکوي. دغه سیاست په خپل ذات کې پوښتني راپورته کوي او په هیڅ ډول د توجیه وړ کړنه نه ده، بلکې له مسئولیتونو څخه د تېښتي او یا هم په عمدي توګه د اړیکو د خرابولو هڅه ده. بربنډ واقعیت دادی چې د نیابتي جګړو دوکتورین ناکامه او بدنامه تګلاره ده او د ګوابن لهجه کارول ګټوره ستراتیژي نه، بلکې پاروونکې ستراتیژۍ ده.

د پاکستان لخوا په کابل باندې د هرې واکمنې ډلې په مقابل کې د هغوی د مخالف وسلوال اړخ ملاتړ او په افغانستان کې اوږدمهاله شخړو ته لمن وهل هغه څه چې د پاکستان په تړاو يې د افغانانو په ذهنيت باندې خورا بدې اغېزې کړې دي، د افغانانو د باور کچه يې صفر ته راښکته کړې او له پاکستان څخه د افغانانو د کرکو لامل گرزيدلی دی.

د هغه افغان حکومت په مقابل کې درېدل چې د پاکستان دوست بلل کيږي او واک ته د رسيدو تر ورځې پورې يې پاکستان ملاتړ کړی وي هغه ذهنيت پياوړی کوي چې وايي په افغانستان کې د پاکستان دوست حکومت رامنځته کيدل د ستراتيژيک عمق د تگلارې برخه نه ده، بلکې داسې ښکاري چې پاکستان په افغانستان کې تلپاتې نا امني د خپل ستراتيژيک ژوروالي د تگلارې برخه گڼي. بناً دغه هېواد په کابل سرينا کې د خپل استخباراتي مشر د چاي څکلو بيه نه ورکوي، بلکې د ستراتيژيک عمق تر عنوان لاندې د افراطيت او تاوتريخوالي په اصل ولاړې د څو لسيزو ناکامو تگلارو بيه ورکوي او ددغو ناوړه تگلارو بدلون نه يوازې افغانستان ته گټه رسوي بلکې پاکستان هم د نا امنيو له توپان څخه ژغوري.

په افغانستان کې د پاکستان ناکامه تگلاره، نه په کابل کې د پاکستاني استخباراتي مشر د چايو له پيالې څخه پيل شوې او نه هم دلته ختمېږي. له لسيزو راپدېخوا دغه مطلقاً ناکامه تگلاره پاکستان ته د گټو رسولو پرځای په اوږدمهاله توگه ستونځې راپورته کوي، په افغانستان کې د پاکستان ضد ذهنيت ته وده ورکوي، افراطيت ته لاره هواروي، د افغانستان د حريم دنقض له امله په تاوتريخوالي باندې ولاړ افغاني غبرگون ته مشروعيت ورکوي.

له نيکه مرغه، په دې وروستيو کلونو کې، د پاکستان د عوامو او سياستوالو په منځ کې هغه ذهنيت وده کړې ده چې د افغانستان په تړاو په تاوتريخوالي باندې متمرکزه پاکستاني تگلاره ناکامه شوې ده، پاکستان ته ستونځې ايجاد کړې دي او بايد بدلون ومومي. دا بدلون به د دوه اړخيزو دوستانه اړيکو د پياوړتيا، د گډو گټو پربنسټ د سيمه ييز پيوستون او اقتصادي پراختيا لپاره د سيمې له هېوادونو سره په گډه د سترو اقتصادي پروژې عملي کول ښه نوښت وي او د سيمې د ولسونو لپاره به د پرمختگونو لاره پرانيزي.

د افغانستان په هکله د پاکستان د پاليسي جوړونکو ته مو مشوره داده چې په سيمه کې د سيمه ييز پيوستون له پروژو (تاپي/تاپ/ کاسا/ افغان ټرانز او داسې نور) څخه حمايت، د اعتدالي فکر ملاتړ ته ژمنتيا او له افغانستان سره په خپلو اړيکو کې په تاوتريخوالي باندې د راڅرخيدونکې تگلارې پرځای اقتصادي او سياسي اړخونو ته لومړيتوب ورکړي.

وخت ثابته کړه چې د پاکستان لخوا په افغانستان کې نيابتي جگړو ته د هڅونو او امکاناتو برابرولو، د سوداگريزو او ترانزيتي چارو په مخکې د خنډونو اچولو ستراتيژی، يوازې افغانستان ته نه، بلکې پاکستان ته هم زيانونه اړولي دي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د څو لسيزو بې باورۍ او د يو بل د موخو په اړه د ژورو شکونو کمول نه سترې کيدونکو هڅو سيمه ايز ثبات او د اتصال لپاره د عمل په ډگر کې خپله ژمنتيا ثابتول اړين گامونه دي.

په سيمه ييزه او نړيواله کچه روانو ځينو تحرکاتو ته په کتو داسې ښکاري چې په افغانستان کې د بهرنيانو له پياوړي او بربنډ ملاتړ څخه د برخمنې يوې بلې داسې نيابتي جگړې د پيلولو لپاره هڅې دوام لري چې اسلامي امارت به يې د مديريت او مهار کولو وړتيا ونلري. له همدې امله د يوه افغان په صفت له III څخه غوښتنه لرم چې له بهرني ملاتړ څخه د برخمنې نيابتي جگړې بدو عواقبو ته په کتو په کور د ننه او بهر په مختلفو کورنيو او بهرنيو تگلارو کې د اصلاحاتو په رامنځته کولو باندې تمرکز وکړي او افغانستان له يوه بل نه ختميدونکې بحران څخه وژغوري.

# د دولت او وګړو تر منځ د ټولنیز تړون ارزښت!



**پوهنمل دکتوراندوس رحمت څواکمن**

د یوه هیواد اغیزمنه پرمختیا د دولت او وګړو یا ولس ترمنځ له یوه پیاوړي تړون یا قرارداد سره اړیکه لري.

هیڅ هیواد له سولې، امنیت او ثبات پرته وده نه شي کولای او پرمخ نه شي تللای.

په یوه هیواد کې د پرمختیا د ممکن کولو لپاره له یوې خوا یوه داسې فعال دولت او بنسټونو ته اړتیا ده چې، د امنیت ټینګښت، د بشري حقونو ورکړې او ولسواکۍ ته ژمن وي او له بلې خوا یو داسې ویښ، لوستی، فعال او وطنپال ولس یا ټولنه په کار ده چې، د هیواد په پرمختګ کې رول ولوبوي.

دولتونه د خپل هیواد د پولو او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو، امنیت او ثبات ټینګولو تر څنګ نورې ډېرې مهمې دندې هم لري.

دولتونه اړ دي چې د خپلو وګړو د روغتیا، زده کړو، روزنې، پالنې او لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره لازمې مالي سرچینې هم ولري.

زیاتره بیوزلي هیوادونه د خپلو وګړو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره لازمې مالي اسانتیاوې او اړینې سرچینې نه لري.

له همدې امله په نړۍ کې د شتمن او بې وزلې د واټن د راکمولو لپاره، نړیوال سازمانونه دنده لري چې له بې وزلو سیمو او وګړو سره مرستې وکړي.

دا چې د بې وزلو هیوادونو په وروسته پاته والي کې کومو عواملو رول لوبولي دي، فقیر یا بې وزلي چاته ویل کیږي او اوس فقر او بې وزلي په نړۍ کې څرنګه او چېرې ده؟ پر دې به وروسته خبرې وکړم ، خو اوس بیرته د یوه هیواد د پرمختیا لپار د دولت او وګړو ټولنیز قرارداد یا تړون ته ورګرځم.

د دولت پر دندو او مسؤلیتونو سربیره، د دې تړون بل اړخ د یوه هیواد وګړي، اتباع یا ښاروندان دي.

تاسې د یوه هیواد د پرمختیا لپاره، د مسؤل او فعال دولت تر څنګ فعالو وګړو ته هم اړتیا لرې، چې وکولای شي خپل حقوق و پېژني او و یې غواړي، د خپلو دولتي او حکومتي مشرانو په ټاکنه کې مسؤلانه برخه واخلي ، همدارنګه له خپلو استازو او ټاکل شویو مشرانو بیرته د ځواب ویلو غوښتنه وکړي او کړنې یې وڅاري.

هر څومره چې د یوه دولت او وګړو ترمنځ یې، ټولنیز قرارداد یا تړون غښتلې او پیاوړې وي، په هماغه اندازه یو هیواد زیات او غوره پرمختګ کولای شي.

په کوم هیواد کې چې دا ټولنیز قرارداد نه وي، یا سم عمل ونه کړي او کمزوری وي، هلته سخته بې وزلي، بې عدالتي، نابرابري، بې ثباتي او نا امني پیښیږي.

که د ساري په توګه په نړۍ کې د لوږې او بیوزلۍ ځنې عوامل راوسپړو نو پوه به شو چې، د یو هیواد په بې وزلۍ کې د نورو عواملو تر څنګ ناکاره او ناوړه دولتونه هم خپل رول لوبوي.

که پوښتنه وکړو چې ایا بې وزلي د فاسدو دولتونو ګناه ده؟ نو ویلای شو چې، دا د یوه دولت دنده ده تر څو خپلو وګړو ته ډاډ ورکړي چې، دوی به لوږې او بې وزلۍ ته نه پریږدي او ورته به ټولنیز خدمتونه ترسره کوي .

خو که چېرې کوم دولت ناکاره او بیکاره وي او هیڅ کار ونکړي او یا لکه زموږ د تیر شل کلن جمهوریت په څېر فاسد وي، زیاتره سیاستوال او کارکوونکي یې یوازې د خپلو شخصي ګټو او شتمنیو په فکر کې وي نو بیا هرو مرو د ټولنې وګړي د بې وزلۍ، نا امنۍ، بې ثباتۍ او ناکرارۍ سره مخ کیږي.

په ډیرو افریقایي هیوادونو کې دا ډول فاسد حکومتونه او دولتونه واکمن دي چې ګڼ شمیر وګړي یې له لوږې او بې وزلۍ سره مخ دي.

ډیر پر مختللي هیوادونه او نور نړیوال بشري سازمانونه هم بیا په داسې فاسدو حکومتونو تکیه نه کوي او خپلې بشري مرستې د موسسو او اینجوګانو له لیارې سرته رسوي.

خو دا ډول مرستې چې په یوه هیواد کې اړوندو حکومتي ادارو ته نه ورکول کیږي، بیا نو په حقیقت کې مرستندوی سازمانونه او موسسې د دولت رول ترسره کوي او نور هم د همغو حکومتونو کمزورۍ او بې کفایتۍ ته لاره هواره وي.

د ساري په توګه په هایتي کې په سلو کې اتیا ښوونځي د مرستندویو سازمانونو تر لاس لاندې دي او دا په دې معنا ده چې هلته د ښوونې او روزنې وزارت پر زده کړو ډیر لږ کنټرول او اغېز لري.

په دې هکله د سومالیې ولسمشر حسن شیخ محمد، یوه عجبه خبره کړې ده او د نړیوالو مرستو ټولنې ته یې ویلي دي چې:

"هو موږ ناتوانه یو، هو موږ فاسد یو، هو ډیره قانون ماتونه او له قانونه سرغړونه شته، خو دلته یوازې د سومالیې یو دولت شته چې که له موږ سره د یوه دولت په څېر چلند و نه کړئ، موږ به هیڅکله هم یو دولت نه شو"

که بله پوښتنه وکړو چې آیا د لویدیځ پرمختللي پانګوال هیوادونه هم په نړۍ کې د بیوزلۍ یو عامل کیدلای شي؟ نو ځواب به هو وي، ځکه همدغه ښکیلاګر او استعماري هیوادونه وو چې، لسګونه کلونه یې په مریتوب، د مستعمره هیوادونو د شتمنیو او خامو توکیو په غلا او په نابرابرو سوداګریزو تړونونو سره، د همدې وروسته پاته او بې وزلو هیوادونو په بې وزلۍ کې لاس درلود.

باید اوس خپلې تیرې استعماري کړنې جبران او په نړۍ کې د بیوزلۍ په له منځه وړلو کې صادقانه او بنسټیزه پرمختیایې مرسته وکړي. خو دریغا چې اوس هم نیوکلونیالیزم یا نوی ښکیلاک په نوی بڼه دوام لري او په نړۍ کې زیاتره مالي سستمونه او سوداګریز تړونونه د پرمختللو هیوادونو استثمار او ناروا ګټو ته لاره هواروي.

که پر همدې فقر او بیوزلۍ نور هم تم شو، نو ویلای شو چې په ۱۸۲۰ کال کې د نړۍ په سلو کې ۸۴ وګړو په لوږه او بې وزلۍ کې ژوند کاوه. په ۱۹۸۱ کې دا شمیر په سلو کې ۴۴ ته راټیټ شو. تیر کال د بې وزلۍ یا فقر دا فیصدي په لومړي ځل په سلو کې له لسو ټیټه شوه.

دی ته په پام سره چې د نړۍ وګړي په همدې موده کې ۷ ځله زیات شوی هم دي. له صنعتي انقلاب وروسته د نړۍ وګړو د ژوندانه ډیرې اسانتیاوې ترلاسه کړې دي.

په ۱۹۹۰ کې 1.95 ملیارده وګړو په سخته بې وزلۍ کې ژوند کاوه. په ۲۰۱۲ کې دا شمیر ډیر راټیټ شو او 896 ملیونه تنو ته رسیده.

په ۱۹۸۰ لسیزه کې نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق په بیوزلو هیوادونو کې د مسکینانو او بیوزلو وګړو لپاره اقتصادي سیاست په پام کې ونیوه.

د نړۍ مشران داسې ګڼې چې باید تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې په نړۍ کې د سختې بې وزلۍ کچه صفر ته راټیټه کړي. خو دا چې دا کار څرنګه ترسره کړي او بریالي به شي یا نه، دا به وخت ثابته کړي، خو لا تراوسه ډیرې پوښتنې بې ځوابه دي.

دا چې چاته بې وزلي یا فقیر ویل کیږي، نو ویلای شو چې هر هیواد پخپله د بې وزلۍ درجه او د فقر کرښه ټاکي، خو په عمومي توګه ویلای شو چې هغه وګړي چې پر ځمکه یا خړو خاورو ویده کیږي، خیټه یې وږې او د خوراک لپاره پوره خواړه نه لري، خپل کوچنیان د بې وزلۍ له امله ښوونځیو ته نه شي لیږلی، د پوښاک لپاره لازم لباس نلري نو بې وزلي وګړي بلل کیږي. په پرمختللو هیوادونو کې هم بې وزلي وګړي شته، خو هلته د بې وزلۍ کچه یا سطحه بل ډول سنجول کیږي.

که څه هم په تیرو دیرشو کلونو کې د چین هیواد اقتصادي پرمختګ ، په نړۍ کې د بی وزلۍ د فیصدي په راټیټولو کې ډیره مرسته کړی ده او د ۱۹۸۱ او ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ چین د نړۍ په سلو کې ۷۰ د بیوزلي په کمولو کې اغیزمن تمام شوی دی.

د نړۍ په کومو ځایونو کې سخته بیوزلي شته او دوام لري؟

د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ د افریقا د لویې صحرا جنوب کې استوګن وګړي په سخته بی وزلۍ کې ژوند کوي. د ساري په توګه په مدغاسکر کې په سلو کې ۸۲، د کانګو په دموکراتیک حمهوریت کې په سلو کې ۷۷ او په بوروندی کې په سلو کې ۷۸ وګړي د بی وزلۍ په لوړه درجه کې راځي. همدارنګه د هندوستان په سلو کې ۲۱ تنه په مطلقه بی وزلۍ کې ژوند کوي.

له نیکه مرغه افغانستان د دغو ۱۵ هیوادونو په ګراف کې نشته، کوم چې په نړۍ کې د بیوزلۍ د زیات شمیر په لړلو سره ورځنې یادونه شوی ده او دلته یې نومونه، د ډیرو بیوزلو وګړو په لړلو سره په ترتیب سره یادوم:

هند د شاوخوا ۳۰۰ ملیونو بی وزلو وګړو په لړلو سره، نایجریا د ۱۰۷ ملیونو، چین د ۸۵ ملیونو، بنګله دیش شاوخوا د ٦٨ ملیونو، کانګو د ۵۹ ملیونو، اندونزیا د ۴۰ ملیونو، حبشه د ۳۴ ملیونو، پاکستان د ۲۳ ملیونو، تانزانیا د ۲۱ ملیونو، مدغاسکر د ۲۰ ملیونو، کینیا د ۱۹ ملیونو، فلپین د ۱۸ ملیونو، موزمبیق د ۱۵ ملیونو، اوګاندا د ۱۴ ملیونو او مالاوي د شاو خوا ۱۱ ملیونو بی وزلو وګړو په لړلو سره یادولای شو.

پایله: د هر هیواد د پرمختیا لپاره د دولت او وګړو ترمنځ یو اغیزمن تړون ته اړتیا ده چې، دولت خپله دنده سمه ترسره کړي او وګړي خپل مکلفیتونه سم درک او ترسره کړي. تر څو همداسی یو ټولنیز قرارداد او ولسي تړون د ملي ګټو، د هیواد د پرمختیا او د ولس د هوساینې سبب او وسیله شي.

له نېکه مرغه افغانستان د طبیعي زیرمو له امله یو ډېر شتمن هیواد دی، وګړو یې هم ښکیلاګرو ځواکونو ته د دی اجازه نه ده ورکړې چې شتمنی یې غلا کړي، هر استعماري او یرغلګر پوځ ته یې سخته ماته ورکړې ده او د خپل هیواد شتمني یې د هغوی له منګولو ژغورلی دي. په افغانستان کې بی وزلي شته، خو د ډیرو هیوادونه په پرتله سخته او زیاته نه ده.

که زموږ هیواد له جګړو وژغورل شي، عادل، کارا او پیاوړې نظام ولرو، دولتي واک لکه د تیر شل کلن دور په څېر یو ځل بیا په قومي، سیمه ییز او ژبني بنسټ ونه ویشل شي، هر وګړی ښځینه وي که نارینه کار، زده کړو او نورو ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري فعالیتونو ته برابر لاسرسی ولري، له طبیعي زیرمو مو معقول کار واخیستل شي او سر تا سري متوازن خدمات ترسره شی، نو بی له شکه افغانستان به په خپل ځان بسیا، او یو با امنه هیواد وي. همدارنګه تاریخي افغان ملت به د نړۍ د سیالانو سره سیال، پر خپلو پښو ولاړ او یو هوسا ویاړلې ملت وي.

سرچینه: decorrespondent او نوري بیلابیلې انترنیتي پاڼې





# نظم نوین جهانی در حال آمدن است

نویسند: لم تیک گی (Lim Teck Ghee)
ترجمه: میرعبدالرحیم عزیز

توجه رسانه های کنونی به انتخابات ریاست جمهوری امریکا بررسی تلاطم بی سابقه ای را که بر بازیگران کلیدی جیوپولیتیک و نظم جهانی کنونی تحت سلطه ایالات متحده تأثیر میگذارد، کاهش یافته است.

مجمع اقتصاد پیشرفته گروه هفت (G7) که منحیث کنیز طرح اقتصادی و سیاست خارجی ایالات متحده عمل کرده است، اکنون در آشفتگی قرار دارد. ایتالیه رئیس جمهور جدید منتخب از جناح راست افراطی دارد و موج محافظه کاری ملی گرایانه، ضدیت با تحکم قدرت، احساسات ضد مهاجرت و نوسانات انتخاباتی پس لرزه هائی در سراسر قاره طنین انداز شده است. امروز، فرانسه و آلمان، کشورهای پیشرو اروپائی، چنگال احزاب طولانی مدت را نه تنها به مبارزه طلبیده، بلکه تضعیف کرده اند. امانوئل مکرون در طول 3 سال آینده تقریباً یک رئیس جمهور ناتوانی است که نقش ضعیفی در سیاست داخلی و خارجی دارد. سرنوشت مشابهی در انتظار اولاف شولز قرار دارد. او مسئول یک دولت ائتلافی است که در جریان انتخابات اخیر پارلمان اروپا بیشتر به راست چرخیده و بیشتر دچار انشعاب شده است.

در همین حال، در جاپان، کیشیدا فومیو، صدراعظم، خود را از سمت خود در دولت و حزبش، حزب لیبرال دموکرات، کنار کشیده است. جاپان در مواجهه با اقتصاد ضعیف، رسوائی های سیاسی و پولی دامنگیر دولت حاکم و احزاب مخالف نامحبوب، در آینده قابل پیش‌بینی با رهبری ضعیف و غیر موثر و فاقد حمایت اکثریت قوی در یک حالت سکون قرار خواهد داشت.

جاپان بدون جایگاه در سیاست داخلی، اکنون غرض رهبری سیاست خارجی حتی بیشتر به ایالات متحده وابسته است. این

امر همینطور در دوری اش  از سیاست خارجی صلح طلبانه تر به سیاست خارجی با مصارف  نظامی بی سابقه از آغاز سال 2024 و گسترش آن تا سال 2027 مشهود است. جاپان علاوه بر همگرائی بیشتر با سیاست ایالات متحده در منطقه آسیا-اقیانوس با هدف مهار کردن و مبارزه با چین، محدودیت های صادراتی را برای فروش و عرضه سلاح و مهمات کشنده به سایر کشورها کاهش داده است. به نظر میرسد که  جاپان تجربۀ جنگ جهانی دوم و هیروشیما و ناکازاکی را فراموش کرده است.

**بعد از نوامبر چه اتفاق می افتد**

خواه ترمپ یا هاریس در انتخابات ریاست جمهوری امریکا پیروز شود، او باید مسائل داخلی را که کشور را تقسیم کرده و احزاب و رهبری سیاسی مربوطۀ آنها قادر به حل آنها نبوده اند، در اولویت قرار دهد.

مشاغل بهتر، تورم، مهاجرت، نژاد، سقط جنین، مراقبت های صحی، ستره محکمه و عدالت، جرم و جنایت و کنترل اسلحه – ترکیب و تأثیر متقابل مشکلات و نگرانی های اجتماعی-فرهنگی، اقتصادی و سیاسی داخلی سمی تر و غیرقابل حل شده است. هر فردی که برنده شود، هر چقدر هم که تفاوت زیاد باشد و هر چه که تشویق کنندگان در رسانه ها یا اطاق های مشورتی فکری می گویند، جامعه ایالات متحده - پس از انتخابات – با جمهوری خواهان و رهبران دموکرات و رای دهندگان در دو طرف حصار در مسائل داخلی چند قطبی و متفرق  باقی خواهد ماند.

در این اثناء، نظرسنجی های مربوط به اعتماد مردم امریکا به حکومت که به سال ۱۹۵۸ بر میگردد، در پائین ترین حد رسیده است. از اپریل ۲۰۲۴، اقلیت قریب به اتفاق ۲۲ درصد از امریکائی ها می گویند که به دولت در واشنگتن برای انجام آنچه درست است "تقریباً همیشه" (۲ درصد) یا "بیشتر اوقات" (۲۱ درصد) اعتماد دارند. سال گذشته، ١٦ درصد گفتند که تقریباً همیشه یا بیشتر اوقات به دولت اعتماد دارند که یکی از پائین ترین احصائیه ها در نزدیک به هفت دهه نظرسنجی بود.

آنچه همچنان قابل توجه بوده این است که اعتماد کمی به اکثر ١٦ نهاد اصلی قابل شناخت ایالات متحده وجود دارد. چه ریاست جمهوری، کنگره، قوه قضائیه، نظام صحی، کلیسا و مذهب سازمان یافته، بانک ها، پلیس، مکاتب دولتی، روزنامه ها و اخبار تلویزیون و غیره اعتماد عمومی به این نهاد ها که نشانه نوع زندگی آمریکائی هستند به سطوحی شبیه به کشورهای "شکست خورده" که تحسین کنندگان ایالات متحده در هنگام انتقاد از کشورهائی که هدف انتقاد قرار می گیرند، تمایل دارند به آن اشاره کنند، به شدت کاهش یافته است.

اگر رهبران ایالات متحده نتوانند به نهاد های خود اعتماد خلق کنند یا اعتماد و ارزش خود را به عموم مردم خود بفروشند، چه چیزی میتوانیم از آنها انتظار داشته باشیم که به متحدان خود، مالزیا یا بقیه جهان بفروشند؟

اکنون، نباید این توهم وجود داشته باشد که ایالات متحده – از طریق منابع عظیم، دسترسی و برتری مجموعه نظامی – صنعتی – تجاری – رسانه ای و اکادمیک خود (MICMA) و حمایت قشر حاکم در تعداد اندک کشورهای متحد وفادار- محرک و عامل اصلی جنگ ها، تسخیر نظامی، دیپلماسی توام با تهدیدات نظامی، معاهدات نابرابر، استثمار اقتصادی، تحریم ها و دیگر حقه بازی های کثیف خواهد بود.

ما می‌توانیم انتظار داشته باشیم که برای MICMA امریکا و شرکای جوانتر آن عمدتاً اروپائی، اما اکنون به شمول جاپان - بخصوص در بازار پرسود تسلیحات جهانی - این یک امر طبیعی است.

**بپرداز یا در غیر این صورت!**

با این حال، یک تفاوت مهم برای اعضای G7 و ناتو وجود خواهد داشت که ناشی از پیامد انتخابات ریاست جمهوری ایالات متحده است. هر کسی که برنده شود، اصرار دارد که کشورهای عضو با توجه به وضعیت نابسامان بدهی ملی ایالات متحده که اخیراً به رکورد ۳۴ تریلیون دالر امریکا رسیده است و کسری سالانۀ عظیم بیش از ۱.۵ تریلیون دالر تا کنون برای سال ۲۰۲۴، پیش بینی شده است، سهم خود را بپردازند.

به گزارش روزنامۀ فرانسوی لوموند، ترمپ خاطرنشان ساخت: "چرا دونالد ترمپ اعضای ناتو را به پرداخت نکردن متهم کرد؟"

گفتم، "تو پرداخت نکردی، تو متخلف هستی [...] نی، از تو محافظت نمی کنم. در واقع، من [روس‌ها] را تشویق می نمایم که هر کاری میخواهند، جام دهند."

روزنامه گاردین این مطلب را نقل کرده است:

او (ترمپ) گفت وگوئی با یکی از اعضای ناشناس ناتو را بازگو کرد که در آن گفت: "تو پرداخت نکردی؟ شما متخلف هستید؟ نه، من از شما محافظت نمی کنم. در واقع، من آنها را تشویق می کنم که هر کاری میخواهند انجام دهند. باید پرداخت کنی باید صورت حساب هایت را بپردازی."

به احتمال زیاد ادارۀ کامیلا هاریس در صورت پیروزی، موضعی مشابه ترمپ اتخاذ خواهد کرد و از ناتو و سائر متحدان ایالات متحده درخواست خواهد کرد که مصارف بیشتری بپردازند تا از امتیاز حمایت امریکا برخوردار گردند.

گروه هفت ( G7) و مردم ناتو شاید بتوانند خود را دلداری دهند که اصرار ایالات متحده مبنی بر اینکه دیگر پرداخت کنندۀ اصلی ناتو نخواهد بود، می تواند تأثیر متقابل مثبتی بر وفاداری و وابستگی آنها به سیاست خارجی به ایالات متحده داشته باشد. اگر این اتفاق بیفتد، ممکن است اولین گام برای پایان جنگ در اوکراین باشد و به برقراری صلح و امنیت واقعی در این قاره کمک کند.

رهبران آسیا و اقیانوسیه نیز بایست توجه داشته باشند. آنچه اعضای گروه 7 و ناتو از سال مالی ۲۰۲۵ به بعد با آن دست و پنجه نرم خواهند کرد باید در بودجۀ دفاعی آسترالیا، جاپان، کوریای جنوبی، تایوان و فیلیپین در نظر گرفته شود، جائی که بیش از ۷۵۰ مرکز نظامی ایالات متحده در اطراف جهان واقع شده است.

آنها در خواهند یافت - همانطور که استرالیائی ها با AUKUS متوجه میگردند - مصارفی که باید برای معاونت آقای بزرگتر ایالات متحده بپردازند برای آنها و نسل آینده مبلغی بیش از حد گزاف خواهد بود. این شامل عواقب طرف شدن در جنگی نمی شود که بر آن کنترولی نداشته باشند و هیچ برنده ای هم در آن وجود نداشته باشد.



# په ړوند تقلید اخته ولس، او خپل چارې سیاستوال



عبدالوحید وحید

افغان ولس له څو لسیزو راهیسې په مکرره توګه د واک، ځواک او ثروت د مجنونانو لخوا په وړ وړ شعارونو وغولول شو. د ولس په غولولو کې کله د هېواد پالنې له شعار څخه، کله د اسلامي نظام له دعوو او کله هم د دیموکراسۍ له نعرو څخه ابزاري ګټه پورته کړای شوه. البته هېواد هغو مشرانو زیات لوټ کړ چې د دین کارت یې د سیاست په مارکیټونو او د دیموکراسۍ په نیرنګونو کې استعمال کړ.

که په افغانستان کې سوسیالیزم په ګونډو شو، نو د خلق او پرچم ګوندونو مشران بدنام شول، خو د خلکو لخوا یې ناکامۍ او بدنامي ولمانځل شوه. که دیموکراسي ماته شوه، نو زموږ بلا یې ورپسې. د بن د تړون نوښتګر سپک شول او د هغو سیاسي سوداګرو سرونه ښکته شول چې د جهاد او خپل تاتوبي په سر یې معاملې وکړې او هېواد ته د پردیو ځواکونو په اوږو سپاره راغلل. هغه د لویدیځ په کلتوري اړخونو کې نغښتې دیموکراسي په افغانستان کې د منلو او زغملو وړ نه هم وه.

البته که اسلامي نظام او اسلامي ارزښتونه د شخصي او ډله ییزو ګټو لپاره کارول کیږي، د واک ترلاسه کولو او یا هم په واک کې د پاتې کېدو لپاره ورڅخه ګټه پورته کېږي، د اسلامي نظام تر نوم لاندې اتوکراتیک (استبدادي) نظام رامنځته کیږي او بالاخره په غیر مستقیم ډول سیکولریزم ته لاره هواریږي، نو د افغانستان په شان له دین سره په ژور ډول تړون درلودونکي هېواد کې خو به یې اغیزې او غبرګون حتماً بوږنوونکې وي.

اوس په افغانستان کې په فزیکي توګه امنیتي وضعیت د ډاډ وړ دی، خو نفسیاتي امن تالا ترغه دی. له سیمې سره د سوداګریزو اړیکو رغول او پراخوالي حوصله بښونکی دی، خو په ولس کې د محرومیت او په ځوان نسل کې د ناهیلي توب کچه له تصور څخه ورهاخوا لوړه ده. د بیا رغونې چارې په نسبي ډول ښې رواني دي، خو ورځ تربلې د ولس ویجاړیدونکی اقتصادي حالت د زغم وړ نه دی. د قوشتېپې پروژه د خوښیو پیغامونه لري او په لویو لارو باندې د کار جریان هیله بښونکی دی.

البته د انجونو په زده کړو باندې بندیز عادي ستونځه نه ده او نه هم لکه د ځینو چارواکو په آند د دغه بندیز له منځه وړل یوازې د بهرنیانو ناروا غوښتنه ده، بلکې هغه ستره نیمګړتیا ده چې له هیڅ ډول مشروعیت او توجیه پرته په افغان ولس د توپک په زور تحمیل شوې او د موجوده حکومت ټول مثبت اړخونه په مطلق ډول تر سیوري لاندې نیسي. د خپل ولس د نارضایتي او د واټن رامنځته کیدو لامل ګرزي ، د هېواد دښمنانو ته د تبلیغاتو فرصت په لاس ورکوي او د ولس په زړونو کې راټوکیدونکې د هېلو هره غوټۍ رژوي.

د ډاډمن امنیت، پیاوړې مرکزي قیادت، قرباني ته د تیار امنیتي ځواک درلودلو له مثبتو اړخونو او نورو خورا زیاتو فرصتونو سره سره په حکومتي جوړښت، ولسي ملاتړ او د حکومتولي د بنېټ په برخه کې متأسفانه نیمګړتیاوې شتون لري، د فساد او نورو ناخوالو په وړاندې اماراتي غبرګون قناعت بښونکی نه دی. له دې څخه ورهاخوا د اساسي قانون د نشتون او د حکومت په چلولو کې د چارواکو متفاوت سلیقوي چلن په

ځينو مواردو کې په استبداديت باندې اوړي. که د ولس او هيواد ګټو ته د ژمنو ځينو پاکو مشرانو ښه سليقه او درونډ چلن نه وای، نو ممکن اوس حالات ډېر بدل وای.

د نيکمرغه ټولنو د پرمختګونو په بهير کې په نُدرت سره د داسې پېښو بيلګې موندل کېږي چې د ولس په درد دردمند اود ملت په غم غمجن مشران د معجزې په ډول راپورته شوي، خپل ويده ولسونه يې را پاڅولي وي او د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره يې د مدني حرکتونو په چوکاټ کې منظم کړي وي.

البته معمول دادی چې ويده ولسونه، ناوړه پېښو، پرديو تيريو، د خپلو حاکمانو وحشتونو او د زماني جبر راويښ کړي دي او د ستونځو له ګرداب څخه د راوتلو لپاره يې ځواب ويونکي مشران رامنځته کړي دي. په نږدې ماضي کې موږ په بنګله دېش کې ددغه شان ستر تحول شاهدان يو، خو موږ لاهم څوک اسماني معجزو ته په تمه ناست يو او څوک د امريکا رحم او کرم ته سترګې په لاره يو چې راشي او زموږ د مخمسې حالت ته د پای ټکی کېږدي.

په ټولنه کې د زده کړو د کچې د ښکته والي له امله موږ د خپلواکي او غلامي ترمنځ د توپير پېژندلو په ګډون د مشرتابه په لټون کې هم ناکام يو. لاهم د ځواب ويونکي مشرتابه د رامنځته کولو پرځای د توپک په زور رامنځته شوي او يا هم له بهر څخه په پيراشوټي توګه را ديسانت شوي مشران را باندې حاکمان وي. په ړوند تقليد پسې روان يو، په خوبونو باندې باور لرو، لوږه، ستونځې او بدبختي په تقدير ور اړوو او په وړاندې يې چوپ پاتې کيدل صبر او نيکي ګڼو. په دکيانوسي باورونو کې نښتي، پرديو خيراتونو ته ناست او له نړيوالې ټولنې سره د سيالي کولو وړتيا مو له لاسه ورکړې ده.

که مو کله هم د خپل ملي ويښتابه کچه دومره لوړه کړه چې مشرانو ته مو د اساسي قانون له مخې واکونو او مسئوليتونو ترمنځ انډول رامنځته کړ او بيا مو له واکمنانو سره د احتساب معيارونه هغې کچې ته ورسول چې د ولسي ملاتړ ګراف د هغوی په يوه کړنه باندې ښکته او پورته کيده، که مو کله هم په ټولنه کې د توپک په زور د واک ترلاسه کولو دود منفور عمل بلل کيده، نو يوه شئ چې د واک وږي او د جېبونو ډکوونکي سياستوال را باندې حکومت نشي کولای، د استبداد مخه مو نيولې ده، د خپلواکي او پرمختګونو په وړاندې مو هيڅ دښمن خنډونه نشي اچولای ،ځکه چې ملت ويښ دی، مشران د احتساب په کټاره کې درېږي او د فساد مخنيوی شوی دی.

البته که لکه د اوس په څېر پاشلی ولس او په ړوند تقليد عادت ملت يو، له مشرانو څخه حساب نه غواړو، په تشو تشريفاتي القابو باندې يې نازو، امرونه يې له پوښتنې پرته په پټو سترګو منل لازم ګڼو، د مشرانو په سليقو او تګلارو باندې نقد ناروا کړنه ګڼو، د خپلو حقونو غوښتل له نظام سره د دښمنۍ په مفهوم اخلو، نو د توپک له خولې څخه راوتلي حاکمان را باندې مسلط او ويده ولس به د ښه او بد ترمنځ له تفکيک پرته د ړوند تقليد له مخې ورپسې روان وی. هېواد به د خپلو او پرديو لخوا چور او افغانان به څه وخت وروسته لکه د افريقا د ويدو ولسونو په څېر د خپلو او پرديو لخوا لوټ شوي هېواد ته لاس تر زنې ناست وي او هيڅ به هم په لاس نه ورځي.


**د دعوت رسنيز مرکز ملاتړ وکړئ**

له موږ سره د مرستی همدا وخت دی. هره مرسته، که لوه وی یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅی پیاوړی کوی، زموږ راتلونکی ساتی او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروی. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډېرې مرستی کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسی. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکی پته: DNB Bank AC # 0530 2294668
له ناروی بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:NO15 0530 2294 668
د ویپس شمېره: Vipps: #557320

**Support Dawat Media Center**

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments:
NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# همکاری‌های جیوپولیتیکی، اقتصادی، ضد تروریسم و ضد مواد مخدر بین ازبکستان و دولت تحت رهبری طالبان در افغانستان: یک تحلیل استراتژیک



احمد فواد ارسلا

اعلام اخیر توافقات تجارتی و سرمایه‌گذاری به ارزش ۲.۵ میلیارد دالر بین ازبکستان و دولت تحت رهبری طالبان در افغانستان که همزمان با سومین سالگرد تاریخ تسلط طالبان در افغانستان صورت گرفت، نشان‌دهنده یک تحول مهم در آینده جیوپولیتیکی آسیای مرکزی است. این همکاری نشان‌دهنده طرز فکر عمل‌گرایانه از سوی هر دو طرف است که منعکس‌کننده کوشش ازبکستان برای امنیت، فرصت‌های اقتصادی و نفوذ منطقه‌ای، در حالی که طالبان به دنبال مشروعیت، حمایت اقتصادی و تعامل بین‌المللی است، می‌باشد. این مقاله به بررسی ابعاد چندگانه تعامل ازبکستان با طالبان می‌پردازد و بر استراتژی جیوپولیتیکی ، همکاری اقتصادی و همکاری در زمینه مبارزه با تروریسم و مواد مخدر تمرکز دارد.

## ملاحظات جیوپولیتیکی

تعامل ازبکستان با دولت تحت رهبری طالبان در افغانستان از یک مجموعه پیچیده از ملاحظات جیوپولیتیکی در نظر گرفته شد است. به عنوان یک مملکت محاط به خشکه که در قلب آسیای مرکزی واقع شده، ازبکستان همواره به دنبال تثبیت خود به عنوان یک رهبر منطقه‌ای بوده و همزمان روابط خود را با همسایگان قدرتمندی چون روسیه، چین و ایران اداره کرده است. سقوط دولت مورد حمایت آمریکا در افغانستان و بازگشت طالبان به قدرت، یک تحرک جدید منطقه‌ای را ایجاد کرده که ازبکستان باید با دقت به آن رسیدگی کند.

برای طالبان، تعامل با ازبکستان نیز استراتژیک است. تصمیم و موافقه در مورد زمان سفر صدراعظم ازبکستان به کابل در سالگرد تسلط طالبان یک حرکت مشخص است که تسلط طالبان را به نمایش گذارد، زیرا این امر به طالبان نوعی از به رسمیت شناختن و مشروعیت بین‌المللی می‌دهد. با نهایی کردن توافقات تجارتی و سرمایه‌گذاری قابل‌توجه با ازبکستان، طالبان می‌تواند خود را به عنوان یک دولت که توانائی کار دارد و کار میکند و عمل‌گرا است که بر توسعه اقتصادی و همکاری منطقه‌ای تمرکز دارد، معرفی کند. این تعامل همچنین به طالبان کمک می‌کند تا وابستگی خود به کشورهای همسایه مانند پاکستان و ایران را متعادل کرده و قدرت بیشتری در روابط بین‌المللی خود به دست آورد.

از دیدگاه ازبکستان، نهایی کردن این توافقات نمایش دهنده از یک محاسبه استراتژیک برای تثبیت خود به عنوان یک بازیگر کلیدی در شکل‌دهی به آینده افغانستان است. تعامل مستقیم با طالبان به ازبکستان این امکان را می‌دهد تا بر امور داخلی افغانستان تأثیر بگذارد، بخصو در مناطق شمالی که ازبک‌های قومی حضور قابل‌توجهی دارند. این تعامل همچنین به عنوان یک متعادل‌کننده در برابر نفوذ سایر قدرت‌های منطقه‌ای عمل می‌کند و اطمینان می‌دهد که ازبکستان همچنان یک سهامدار حیاتی در هر گونه تجدید آرایش منطقه‌ای باقی می‌ماند.

علاوه بر این، تعامل ازبکستان با طالبان با استراتژی سیاست خارجی گسترده‌تر آن که حفظ تعادل بین قدرت‌های جهانی و منطقه‌ای مختلف است، همسو است. از طریق پیگیری یک رابطه عمل‌گرایانه با طالبان، ازبکستان می‌تواند استقلال خود را از نفوذ غربی حفظ کند و در عین حال روابط دوستانه‌ای با روسیه و چین حفظ کند. این طرز فکر و عمل منعکس‌کننده تمایل ازبکستان برای جلوگیری از وابستگی بیش از حد به هر بلاک قدرت خاص و اطمینان از محافظت از منافع ملی خود در یک محیط جیوپولیتیکی به سرعت در حال تغییر است.

**همکاری اقتصادی**

ملاحظات اقتصادی در خط مقدم تعامل ازبکستان با طالبان قرار دارد. اعلام توافقات تجارتی و سرمایه‌گذاری به ارزش ۲.۵ میلیارد دلار در جریان سفر صدراعظم ازبکستان به کابل، نشان‌دهنده فرصت‌های اقتصادی قابل‌توجهی است که ازبکستان در افغانستان می‌بیند. برای ازبکستان، افغانستان نه تنها یک بازار بالقوه برای کالاها و خدمات خود است، بلکه یک مسیر ترانزیتی حیاتی برای تجارت با جنوب آسیا نیز محسوب می‌شود.

یکی از محرک‌های اصلی اقتصادی این رابطه، علاقه ازبکستان به تقویت اتصال منطقه‌ای است. موقعیت جغرافیایی افغانستان به عنوان یک پل زمینی بین آسیای مرکزی و جنوبی، آن را به بخشی اساسی از هر شبکه تجارتی منطقه‌ای تبدیل می‌کند. با سرمایه‌گذاری در تهداب های اساسی اقتصادی افغانستان، بخصوص در حمل‌ونقل و انرژی، ازبکستان قصد دارد دسترسی خود به بازارهای جنوب آسیا را تضمین و گسترش دهد. این امر بخصوص برای ازبکستان که محاط به خشکه است و نیاز به تنوع‌بخشی به مسیرهای تجارتی خود وسیعتر از شرکای سنتی مانند روسیه و چین دارد، حائز اهمیت است.

برای طالبان، این توافقات اقتصادی یک شریان حیاتی است. اقتصاد افغانستان که از قبل به دلیل دهه‌ها جنگ شکننده بود، با تحریم‌های بین‌المللی و قطع کمک‌های خارجی بیشتر تحت فشار قرار گرفته است. توافقات تجارتی و سرمایه‌گذاری با ازبکستان، فرصتی حیاتی برای طالبان فراهم می‌کند تا اقتصاد را تثبیت کند، کار ایجاد کند و تهداب های اساسی اقتصادی را بسازد. این تحولات برای طالبان ضروری است تا مشروعیت داخلی کسب کند و توانایی خود در حکمرانی موثر را نشان دهد.




علاوه بر این، ازبکستان افغانستان را به عنوان یک بازار بالقوه برای صادرات انرژی خود می‌بینند. ازبکستان تولیدکننده اصلی گاز طبیعی و برق است و نیازهای انرژی افغانستان فرصتی را برای شرکت‌های ازبکی برای گسترش حضور خود در بازار فراهم می‌کند. با سرمایه‌گذاری در تهداب های اساسی انرژی افغانستان، ازبکستان نه تنها می‌تواند صادرات انرژی خود را افزایش دهد بلکه به تثبیت اقتصاد افغانستان نیز کمک می‌کند که این به نوبه خود به ثبات منطقه کمک می‌کند.

همچنین، همکاری اقتصادی بین ازبکستان و طالبان شامل سرمایه‌گذاری‌های بالقوه در تلاش‌های بازسازی افغانستان نیز می‌شود. پس از دهه‌ها جنگ، افغانستان نیازمند سرمایه‌گذاری‌های قابل‌توجهی در تهداب های اساسی اقتصادی ، زراعت و صنعت است. شرکت‌های ازبکی با تجربه و تخصص خود در این بخش‌ها، موقعیت خوبی برای ایفا کردن

نقش پیشرو در بازسازی افغانستان دارند. این نه تنها از نظر اقتصادی برای ازبکستان سودآور است، بلکه نفوذ آن را در افغانستان افزایش داده و اهداف جیوپولیتیکی آن را بیشتر می کند.

**همکاری ضد تروریسم**

نگرانی‌های امنیتی، بخصوص تهدید تروریسم، عامل مهمی در تعامل ازبکستان با طالبان است. افغانستان مدت‌ها به عنوان مرکز فعالیت‌های مختلف گروه‌های افراطی، از جمله القاعده و داعش، شناخته شده است. امکان این که این گروه‌ها برای بی‌ثبات کردن منطقه، از جمله ازبکستان عمل کنند، نگرانی بزرگی برای تاشکند است.

ازبکستان با تعامل با طالبان، هدفش کاهش تهدید تروریسم ناشی از افغانستان است. این همکاری بر اساس شناخت عمل‌گرایانه‌ای است که طالبان، به عنوان دولت دوفاکتوی افغانستان، توانایی کنترل یا حداقل تاثیرگذاری بر سایر گروه‌های افراطی فعال در مرزهای خود را دارد. برای طالبان، همکاری با ازبکستان در زمینه مبارزه با تروریسم برای کسب اعتماد و ثبات منطقه‌ای بسیار مهم است که به نوبه خود به طول عمر رژیم کمک می کند.

استراتژی ازبکستان شامل استفاده از رابطه خود با طالبان برای اطمینان از این است که خاک افغانستان به عنوان سکوی پرتاب برای فعالیت‌های تروریستی علیه ازبکستان یا سایر کشورهای آسیای مرکزی مورد استفاده قرار نگیرد. برای طالبان، این همکاری وسیله‌ای برای اثبات کنترل خود بر کل کشور، از جمله مناطقی که ممکن است پناهگاه گروه‌های تروریستی باشند، است. توانایی طالبان در مهار فعالیت‌های افراطی و جلوگیری از سرریز آن به کشورهای همسایه مانند ازبکستان، برای جایگاه بین‌المللی و ثبات داخلی آن بسیار مهم است.

علاوه بر این، تعامل ازبکستان با طالبان شامل تلاش‌هایی برای ارتقای ثبات در شمال افغانستان، جایی که ازبک‌های قومی متمرکز هستند، می‌شود. با حمایت از کنترل طالبان بر این مناطق، ازبکستان امیدوار است از ظهور گروه‌های افراطی که می‌توانند امنیت خود را تهدید کنند، جلوگیری کند. این همکاری همچنین با هدف جلوگیری از گسترش ایدئولوژی‌های افراطی از مرز به داخل ازبکستان است که تاریخچه‌ای از برخورد با افراط‌گرایی اسلامی دارد.

تمرکز ازبکستان بر همکاری ضد تروریسم با طالبان نیز تحت تأثیر محیط امنیتی گسترده‌تر منطقه‌ای قرار دارد. خروج نیروهای آمریکایی از افغانستان و خلاء قدرتی که به دنبال آن ایجاد شد، نگرانی‌هایی را در مورد تجدید فعالیت گروه‌های افراطی در منطقه برانگیخته است. از طریق تعامل با طالبان، ازبکستان به دنبال پر کردن این خلاء و جلوگیری از تبدیل افغانستان به پناهگاهی برای تروریست‌هایی است که می‌توانند ثبات منطقه‌ای را تهدید کنند.

**همکاری ضد مواد مخدر**

علاوه بر تروریسم، قاچاق مواد مخدر نیز یکی دیگر از نگرانی‌های عمده امنیتی برای ازبکستان در تعاملات خود با افغانستان است. افغانستان بزرگترین تولیدکننده تریاک در جهان بوده است و تجارت مواد مخدر منبع مالی قابل‌توجهی برای گروه‌های مسلح مختلف از جمله طالبان بوده است. جریان مواد مخدر از افغانستان به آسیای مرکزی تهدیدی جدی برای امنیت و ثبات منطقه، و همچنین برای سلامت عمومی و رفاه اجتماعی، محسوب می‌شود.

برای طالبان، همکاری با ازبکستان در زمینه مبارزه با مواد مخدر فرصتی است تا تعهد خود به خواسته های بین‌المللی را نشان دهد و وابستگی اقتصادی گروه‌های مسلح به قاچاق مواد مخدر را کاهش دهد. موفقیت در مهار تولید و قاچاق مواد مخدر نه تنها تصویر بین‌المللی افغانستان را بهبود می‌بخشد

بلکه پایه مالی شورش‌های احتمالی علیه دولت طالبان را تضعیف می‌کند.

همکاری ازبکستان با طالبان در زمینه مبارزه با مواد مخدر، بخشی حیاتی از استراتژی امنیتی گسترده‌تر آن است. با همکاری با طالبان برای مبارزه با تولید و قاچاق مواد مخدر، ازبکستان هدفش کاهش جریان مواد مخدر به داخل خاک خود و مهار نفوذ گروه‌های مسلح تحت حمایت مواد مخدر است. این همکاری ممکن است شامل تلاش‌های مشترک برای ریشه‌کن کردن کشت خشخاش، اختلال در شبکه‌های قاچاق مواد مخدر و ترویج معیشت‌های جایگزین برای دهقانان افغان باشد.

تعامل ازبکستان با طالبان در زمینه مبارزه با مواد مخدر منعکس‌کننده طرزفکر عمل‌گرایانه برای مواجهه با یک مشکل امنیتی مشترک است. از طریق همکاری با طالبان به جای انزوا، ازبکستان امیدوار است تا نتایج بهتری در مبارزه با قاچاق مواد مخدر و خطرات امنیتی مرتبط با آن به دست آورد. برای طالبان، موفقیت در همکاری در این زمینه می‌تواند به مشروعیت بین‌المللی بیشتر و احتمالاً کاهش تحریم‌ها منجر شود.

**نتیجه‌گیری**

عادی‌سازی و گسترش روابط ازبکستان با دولت تحت رهبری طالبان در افغانستان یک حرکت استراتژیک است که منعکس‌کننده تعامل پیچیده‌ای از ملاحظات جیوپولیتیکی ، اقتصادی و امنیتی است. با تعامل با طالبان، ازبکستان هدفش تثبیت نفوذ خود در افغانستان، افزایش فرصت‌های اقتصادی و مقابله با مکلات و خطرات امنیتی حیاتی مانند تروریسم و قاچاق مواد مخدر است. برای طالبان، این همکاری یک گام اساسی برای کسب به رسمیت شناخته شدن بین‌المللی، تثبیت اقتصاد افغانستان و تحکیم قدرت خود است.

این طرز فکر و عمل عمل‌گرایانه نشان‌دهنده تمایل ازبکستان برای حفاظت از منافع ملی خود در یک جنبه فکری منطقه‌ای به سرعت در حال تغییر است، در حالی که به هدف گسترده‌تر ثبات منطقه‌ای نیز کمک می‌کند. برای طالبان، همکاری با ازبکستان مسیری را برای دستیابی به مشروعیت داخلی و تعامل بین‌المللی فراهم می‌کند که برای بقای طولانی‌مدت رژیم و ثبات آینده افغانستان ضروری است.


## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړي شئ!

زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي یا لویه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پیاوړې او راتلونکی مو ژغوري. له دعوت رسنیز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امریکایي ډالر یا یورو مرسته وکړئ - دا یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. که تاسو کولی شئ، د مهربانۍ له مخې مو زموږ سره هره میاشت په منظم ډول ټاکلې اندازه مرسته وکړئ .له تاسو مخکې له مخکې مننه!

## به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!

زمان حمایت ما همین اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و یا کوچک، مطبوعات ما را تقویت و از آینده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/یورو حمایت کنید - فقط یک دقیقه طول می کشد. اگر می توانید، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنید . تشکر .

# د مشرۍ درس – ناکامیو منل



قدرت الله هېوادپال

په هغه ورځ ما ډېر مهم درس زده کړ. د ناکامۍ په صورت کې مشر مسئولیت اخلي او کله چې بریالیتوب وي نو هغه دا هر څه ډلې ته منصوبوي او هغوی ته یې پرېږدي. ما د مشرۍ تر ټولو مهم درس له کتاب نه بلکې له یوه ښه مشر زده کړ.

په غونډه کې له ښاغلي عبدالکلام څخه پوښتنه وشوه: ایا داسې پېښه رایادولی شئ چې وښیي مشر باید ناکامي څرنګه اداره کړي؟

عبدالکلام: زه به له خپلې تجربې درته کیسه وکړم.

زه په ۱۹۷۳م کال کې د هند د خلا څېړنې په اداره کې د سپوږمکۍ داغلو، چې عموماً د SLV-3 په نامه یادېږي، پروژې رئیس شوم. زموږ هدف د هند روهني په نامه سپوږمکۍ تر ۱۹۸۰ کال د ځمکې مدار ته داغل وو. ما ته مالي او بشري زیرمې دواړه راکړل شوی، خو په څرګنده توګه راته وویل شول، چې د ۱۹۸۰ کال له پای وړاندې باید موږ دا سپوږمکۍ حتمي مدار ته ولېږدوو. په زرګونو خلکو په ساینسي او تخنیکي ډلو کې دی هدف په لور کار کاوه.

د ۱۹۹۷م کال فکر کوم د اګست میاشت وه، احساس مې وکړ چې د سپوږمکیو داغلو ته تیار یو.

د پروژې د رئیس په توګه زه د څارنې او کنټرول خونې ته ولاړم، د سپوږمکۍ له داغلو څلور دقیقې وړاندې د کمپیوټر او اړوند ټولو ضروري توکو ازمویل مو پیل کړل چې له داغلو وړاندې په اتومات ډول له نظره تیرېږي. یوه دقیقه وروسته کمپیوټر دغه پروسه او داغل ودرول او پر پرده یې راښکاره شو چې ځینې شیان سم نه دي.

زما متخصصینو، چې څلور پنځه راسره هملته ولاړ وو، وویل چې د اندېښنې خبره نه ده، زموږ سپوږمکۍ کافي تیل لري، هر څه یې سم دي، له کمپیوټره به تیر شو او پخپله بې یې وداغو. نو ما له کمپیوټر صرفنظر وکړ او د سپوږمکۍ داغلو راکټ لاسي حالت مې فعال او سپوږمکۍ راکټ مو ولیږدوه.

د سپوږمکیو داغلو راکټ له څو مراحلو تیرېږي، په پیل کې هر څه سم وو، په دوهمه مرحله کې ستونزه پیدا شوه. د دې په ځای چې سپوږمکۍ د ځمکې مدار ته ولاړه شي، ټول راکټي سیستم وچاودید، په هوا کې یې سقوط وکړ او ټول سوځیدلي توکي یې د بنګال په خلیج کې راپریوتل.

پدغه ورځ د هند د خلا څېړنې اداری عمومي مشر، پروفیسور ساتیش ډې هون نړیوال او ملي خبریالان راغوښتي وو، سپوږمکۍ موږ سهار ۷ بجې له سویلي هند اندرا پرادیش داغله او خبري کنفرانس ۷ بجې او ۴۵ دقیقې وو. ټولې نړۍ زموږ دغه سقوط عملاً ولید.

پروفیسور ډې هون خبري کنفرانس ته پخپله کیناست او خبریالانو ځوابونه یې ورکړل. د ناکامۍ ټول مسئولیت یې په خپله غاړه واخیست، هغه وویل چې ډلې ډېر کار کړی وو، زیار یې ویستی وو خو نورې تخنیکي مرستې او وخت ته یې اړتیا لرله. موږ به بیا هڅه وکړو او زه باوري یم چې بل کال ته به بریالي شو.

زه د پروژې رئیس ووم او دا زما ناکامي وه، خو زما پر ځای، هغه د اداری عمومي مشر په توګه ټول مسئولیت په خپله غاړه واخیست.

ورپسې کال د ۱۹۸۰ په جولای کې، موږ بیا د سپوږمکۍ داغلو هڅه وکړه او دا ځل بریالي شو. ټول ملت خوښ وو، دا ځل بیا خبري کنفرانس وو، پروفیسور ډې هون زه ډډې ته کړم او راته یې وویل، چې: نن ستا ورځ ده، خبري کنفرانس ته کښېنه او خپل ځوابونه ورکړه، پخپله یوې ډډې ته شو.

په هغه ورځ ما ډېر مهم درس زده کړ. د ناکامۍ په صورت کې مشر مسئولیت اخلي او کله چې بریالیتوب وي نو هغه دا هر څه ډلې ته منصوبوي او هغوی ته یې پرېږدي. ما د مشرۍ تر ټولو مهم درس له کتاب نه بلکې له یوه ښه مشر زده کړ.

(د هند پخوانی ولسمشر ای. پي. جی عبدالکلام د وارټن هند اقتصادي غونډه، فیلاډلفیا، امریکا، مارچ ۲۲، ۲۰۰۸)

# راپور سال ۱۹۷۲ سفارت امریکا از دیدار با یک رهبر جوانان مسلمان در کابل



احمد فواد ارسلا

۳۰ سال بعد وقتی راپور های محرمانه سفارت و دیگر تشکیلات امریکا و دیگر ممالک که در ۲۰ سال دولت جمهوری ایجاد شده و منحل شده در افغانستان از طبف بندی محرمانه خارج شوند ومعلومات در دسترس محققین و تاریخنویسان قرار گیرد صد ها و حتی هزار ها چهره شامل در فعالیت های دولت جمهوری متذکره افشا خواهد شد و مورد استفاده محققین و تاریخنویسان قرار خواهد گرفت. در ذیل ترجمه یک راپور خارج شده از طبقه بندی محرمانه که در سال ۱۹۷۲ نوشته شده است برای استفاده محققین و تاریخنویسان افغانستان تقدیم میگردد.

باید در نظرداشت که راپور برداشت سفیر امریکا در آن وقت از معراج الدین (که نمیدانم کی بوده و بعدا چه کرده آیا امروز در قید حیات است یانه) ، اوضاع آن زمان و تذکرات تعریف شده معراج الدین توسط سفیر امریکا میباشد و محققین و تاریخنویسان منطقی که موضوعات را علمی تحلیل میکنند نه عقیدوی استنباط های خود شان را خواهند کرد.

**محرمانه**

**سفارت امریکا در کابل**

**۲۹ می ۱۹۷۲**

**فرستنده: رابرت نیومن**

**معراج‌الدین: تصویری از یک جوان مسلمان افراطی**

اطلاعات شخصی

معراج‌الدین ظاهر (معروف به فاروق):

تولد: 1949، ولایت لغمان، پسر یک ملا (فوت‌شده).

دو برادر: یکی در لیسه حبیبیه تحصیل می‌کند؛ دیگری (بزرگ‌تر) انجنیر برق است؛ هیچ‌کدام این دو برادر با گروه جوانان مسلمان ارتباطی ندارند.

معراج الدین فارغ‌التحصیل مکتب تخنیک افغانستان، 1968.

دو سال در پولیتخنیک پوهنتون کابل (حمایت‌شده توسط شوروی) تحصیل کرد؛ در 1970 به‌دلیل اعتراض علیه اساتید شوروی اخراج شد.

به تأسیس «جمعیت جوانان مسلمان» در پوهنتون کمک کرد.

ادعا می‌کند که به‌خاطر مبارزه با چپ‌گرایان سه ماه زندانی شده است.

گاهی مقالات ضدکمونیستی می‌نویسد.

گفت که در سازمان‌دهی تظاهرات ملاها علیه صدمین سالگرد لنین در می 1970 نقش داشته است. همچنین ادعا می‌کند که به تحریک «حادثه مترلام» در خزان 1971 کمک کرده که در آن یک متعلم پرچمی کشته شد.

با خود یک تفنگچه نوع کولت همراه دارد.

مقدمه

معراج‌الدین اولین‌بار در جنوری 1972 با من تماس گرفت و پرسید آیا می‌تواند یک شب به‌تنهایی و خارج از سفارت به دیدنم بیاید. خودش را فقط به‌عنوان «رهبر جوانان مسلمان» معرفی کرد و گفت که موضوع مهمی برای بحث دارد. من آدرس خانه‌ام را به او دادم و پیشنهاد کردم شب بعد برای صرف چای بیاید. او پذیرفت.

خودش را با نام «معراج‌الدین» معرفی کرد، که نام مستعاری بود که در دوران فعالیت‌هایش در پولیتخنیک انتخاب کرده بود. فاروق نام اصلی اوست. ابتدا وارخطا وعصبی به‌نظر می‌رسید و

توضیح داد که برای آمدن به خانه من باید محتاط باشد، اما کم‌کم آرام شد. او گفت که نام من را از یکی از کارکنان افغان سفارت گرفته، اما از افشای هویت او خودداری کرد.

پس از توضیح نسبتاً مفصل درباره فعالیت‌های ضدکمونیستی گروهش، به نکته اصلی رسید: آیا ایالات متحده، به رسم شناخت از خدمات ارزشمند گروه او علیه شوروی و کمونیسم، حاضر است در تأمین مالی یک دستگاه چاپ همکاری کند؟ او توضیح داد که گروهشان بودجه کافی برای راه‌اندازی یک جریده را ندارد و معمولاً به توزیع مقالات تایپ‌شده یا استنسیل‌شده محدود می‌شوند. او گفت که دو هفته‌نامه مذهبی (گهیز و ندای حق) ممکن است گاهی یک مقاله منتشر کنند، اما هیچ‌کدام متحد قابل اعتمادی برای گروه او نیستند.

برای تأمین مالی مبارزه گروهش علیه کمونیسم، او شروع به فروش بخشی از اموال خانوادگی‌اش کرده است. او در پایان گفت که ایالات متحده باید با گروه او همکاری کند، زیرا هم مسلمانان واقعی و هم آمریکایی‌ها در مقابله با ایدئولوژی‌ای که کاملاً در تضاد با سبک زندگی ماست، منافع مشترکی دارند.

پاسخ دادم که برای یک دولت خارجی – بخصوص ایالات متحده – دشوار است که در چنین فعالیت‌هایی در افغانستان دخالت کند. با این حال، برای نشان دادن حسن نیت (و به امید دیدار دوباره او)، از او خواستم چند روز به من فرصت دهد تا درخواستش را بررسی کنم. توافق کردیم که دوباره یک هفته بعد ملاقات کنیم.

هنگام خروج از خانه، او به‌ظاهر به شوخی گفت که گروه جوانان مسلمان برای جنگیدن با روس‌ها اسلحه دارد. به‌عنوان اثبات، یک تفنگچه نوع کولت (حدوداً کالیبر ۲۵) را از کمربندش بیرون کشید، لبخند زد و آن را به من نشان داد. پرسیدم که آیا اسلحه پر است؛ پاسخ داد که بله، و گفت که اسلحه‌های بیشتری هم دارند. دوباره لبخند زد. هنگام خداحافظی قول داد که «مدارکی» برای من بیاورد – نمونه‌هایی از مطالبی که او و گروهش منتشر می‌کردند.

او یک هفته بعد، طبق قولش، بازگشت. در این مدت، سفارت فرصت داشت تا صحت ادعاهای او را بررسی کند. او می‌توانست یک تحریک‌کننده باشد، اما طبق دوسیه های سفارت، به نظر می‌رسید که او واقعاً یک جوان افراطی است. او رهبر گروه نبود، بلکه یکی از اعضای آن بود. «مدارکی» که معراج‌الدین همراه خود آورده بود شامل مقاله‌ای به تاریخ ۱ فبروری ۱۹۷۰ از گهیز و بیانیه‌ای از ۱۱ مارچ ۱۹۷۰ بود که توسط محصلین مسلمان پوهنتون کابل منتشر شده بود. در این بیانیه، محصلین به «فعالیت‌های فاسد و ضددینی» اساتید شوروی در پولیتخنیک اعتراض کرده و از معراج‌الدین به‌عنوان یکی از قربانیان «تمسخر» و «تهدیدهای» این اساتید نام برده بودند. همچنین اشاره شده بود که او قربانی حملات همجنس‌گرایانه در لیلیه شده است. معراج‌الدین گفت که این اتفاقات باعث شکل‌گیری گروه جوانان مسلمان در افغانستان شد. او ادعا کرد که در نتیجه فشارهای این گروه، ۱۸ استاد شوروی (از جمله رئیس دیپارتمن کیمیا، کوسپین) اخراج شدند.

(نظر ما: دوسیه‌های سفارت تأیید می‌کنند که در آن دوره میان محصلین و اساتید پولیتخنیک مشکلاتی وجود داشت، اما اخراج اساتید شوروی به دلایلی که معراج‌الدین بیان کرد، در دوسیه های ما تأیید نشده است.)

در مورد درخواست کمک مالی، به معراج‌الدین توضیح دادم که فعالیت‌های دولت آمریکا در افغانستان به توسعه اقتصادی و پروگرام‌های فرهنگی و اطلاعاتی محدود می‌شود. توضیح دادم که با وجود هرگونه همدلی با اهداف گروه او، ما نمی‌توانیم مستقیماً در مبارزه آن‌ها دخالت کنیم. در پایان گفتم که تلاش‌های ما برای کمک به توسعه اقتصادی افغانستان به

تقویت استقلال این کشور و توانایی‌اش برای مقاومت در برابر نفوذ خارجی یا ایدئولوژی‌های بیگانه کمک خواهد کرد.

معراج‌الدین گفت که از تصمیم ما ناامید شده است. او اظهار داشت که کمونیسم هرگز بدون یک مبارزه قاطعانه که در آن یا اسلام یا کمونیسم پیروز شود، در افغانستان جایی نخواهد داشت. همچنین افزود که به نظر او، هیچ‌گونه مصالحه‌ای میان ایالات متحده و چین یا شوروی ممکن نخواهد بود.

معراج‌الدین از زمان دو ملاقات اول درجنوری، چندین بار بدون اطلاع قبلی به خانه‌ام سر زده است. آخرین بار اوایل اپریل بود که برای صرف نان چاشت به من پیوست. بدون دلیل مشخصی از آن زمان دیگر بازنگشته است، هرچند ممکن است هر روز دوباره به همان سادگی بیاید،مثل اینکه هیچ اتفاقی نیفتاده.

او به همین شیوه گاهی به دیدن جان گریسولد، رئیس تیم قراردادی USAID از پوهنتون ایلینوی جنوبی، که با مکتب تخنیک افغانستان همکاری دارد و جایی است که معراج‌الدین زمانی در آن تحصیل می‌کرد، می‌رود.

با وجود فعالیتش در گروه، به نظر نمی‌رسد معراج‌الدین از نظر فکری چندان مجهز باشد. گفتارش تمایل به افراط دارد. او یکی از سخنرانان تظاهرات گروهش است، اما هیچ‌یک از آن‌ها سخنور یا نطاق برجسته و کریزماتیکی نیستند. معراج‌الدین جسم کوچکی دارد (حدود ۵ فوت و ۷ اینچ) و در جمع خصوصی آرام صحبت می‌کند. همیشه لباس مرتب می‌پوشد – دریشی و نکتائی – و رفتار متعصبانه یا تندروانه‌ای ندارد. با این حال، تمایل به اغراق در ادعاهایش درباره «دستاوردهای» گروهش دارد. به‌عنوان مثال، او گفت که گروهش در خزان گذشته چهار چپ‌گرا را در مترلام کشته و چند نفر دیگر نیز در تصادمات پوهنتون در همان دوره جان باخته‌اند. همچنین ادعا کرد که او سخنرانی طولانی ضدکمونیستی محمد نبی، نماینده لوگر، را در جریان مناظره رأی اعتماد به دولت ظاهر شاه در سال ۱۹۷۱ نوشته است، ادعایی که اثبات آن دشوار است.

ادعای او مبنی بر اینکه گروهش در قتل مترلام دست داشته است نیز باید با احتیاط پذیرفته شود، زیرا این حادثه عمدتاً کار رهبران مذهبی محلی در لغمان بود، هرچند گروه او می‌توانسته باشد که در تحریک فضای مذهبی پرتنش آن منطقه نقش داشته باشد.

معراج‌الدین همچنین گفت که هنوز چهار ملا به‌دلیل حادثه مترلام در زندان هستند، از جمله امیرزاده، امام مسجد مترلام. او مطمئن بود که دولت به‌زودی آن‌ها را آزاد خواهد کرد و محاکمه‌ای برای «اعدام» یک کمونیست برگزار نخواهد شد.

او گفت که دولت اخیراً به رهبران مذهبی ولایات شرقی افغانستان پیام داده تا موضوع پشتونستان را کم‌اهمیت جلوه دهند. او اظهار داشت که دلیل این کار این است که دامن زدن به موضوع پشتونستان به «روابط برادرانه و اسلامی» میان افغانستان و پاکستان آسیب می‌زند. شواهد چند ماه گذشته در افغانستان تأیید می‌کند که رهبران مذهبی و مطبوعات دینی از فعالیت درباره این موضوع پرهیز کرده‌اند.



# د بشري حقونو څېړنه: هرڅه چې تاسو ورته اړتیا لرئ پوه شئ

ژباړه : نصیراحمد "څپاند"

## په دې څېړنو کې لاندې موارد شامل دي؟

د بشري حقونو څانګه باید څېړنې ترسره کړي ترڅو د رجحاناتو او معلوماتو سره تازه پاتې شي چې په صنعت او سازمان کې پیښیږي. پدې مقاله کې به موږ د هر هغه څه په اړه وغږیږو چې د بشري حقونو متخصصین ورته اړتیا لري د څېړنې په اړه پوه شي.

څېړنه د نوې پوهې رامینځته کولو او / یا په نوې او تخلیقي طریقه د موجوده پوهې کارولو په توګه تعریف شوې ترڅو نوې مفکورې، میتودولوژۍ او پوهه رامینځته کړي. پدې کې د پخوانیو څېړنو ترکیب او تحلیل شامل کیدای شي تر هغه حده چې دا نوې او تخلیقي پایلو ته لارهواروي.

د څېړنې دا تعریف د څېړنې او تجربوي پراختیا (R&D) د پراخه مفکورې سره مطابقت لري لکه څنګه چې په سیستماتیک ډول ترسره شوي تخلیقي کار شامل دي ترڅو د پوهې زیرمې زیاتې کړي ، په شمول د انسانیت ، کلتور او ټولنې پوهه او کارول. د نوي غوښتنلیکونو جوړولو لپاره د پوهې زیرمې چمتو کول.

## د څېړنو ځانګړتیاوې

د کره معلوماتو لپاره باید یو سیستماتیک چلند تعقیب شي. قواعد او طرزالعملونه د پروسې یوه لازمي برخه ده چې هدف ټاکي. څېړونکي باید د مشاهدو کولو یا نتیجې اخستلو پرمهال اخلاق او د چلند اصول تمرین کړي.

- څېړنه د منطقي استدلال پر بنسټ ولاړه ده او دواړه استخراجي او تخفیف میتودونه پکې شامل دي.
- هغه معلومات یا پوهه چې ترلاسه کېږي په ریښتیني وخت کې په طبیعي ترتیباتو کې د حقیقي مشاهدو څخه دي.
- د ټولو راټول شویو معلوماتو ژور تحلیل شتون لري ترڅو د هغې سره هیڅ ډول ګډوډي شتون ونلري.
- څېړنه د نویو پوښتنو د پیدا کولو لپاره لاره پیدا کوي. موجوده ډاټا د څېړنې لپاره د ډیرو فرصتونو په رامینځته کولو کې مرسته کوي.
- څېړنه په طبیعت کې تحلیلي ده. دا د ټولو موجوده معلوماتو څخه کار اخلي ترڅو په تحلیل کې هیڅ ابهام شتون ونلري.
- دقیقیت د څېړنې یو له خورا مهم اړخونو څخه دی. هغه معلومات چې ترلاسه کیږي باید دقیق ، ریښتینې، مستند او د خپل طبیعت سره سم وي. د مثال په توګه، لابراتوارونه د معلوماتو راټولولو لپاره کنټرولي چاپیریال چمتو کوي. دقت په کارول شویو وسایلو، د وسیلو یا وسا یلو اندازه کول، او د تجربې وروستۍ پایله کې اندازه کیږي.

## د بشري منابعو د څېړنې موخې

د بشري منابعو څېړنه د بشري منابعو د کړنو په وده کې خورا اغیزمنه ده او د بشري منابعود فعالیتونو ملاتړ کوي. لاندې موخې یا د بشري حقونو څېړنې دي:

- دا د څېړنې په اړونده ساحه کې د موجوده موقعیت ارزونه کوي.
- دا د راتلونکي پیښو او چلند نمونو وړاندوینه اسانه کوي.
- د اوسنیو پروګرامونو، کړنو او پالیسیو ارزونه د بشري حقونو د څېړنې له لارې ممکنه ده.
- دا د اوسني سازماني پروګرامونو، کړنو او پالیسیو د بیاکتنې لپاره د هدف اساس چمتو کوي.
- دا په منظمه توګه د کارمندانو ظرفیتونو او چلندونو رامینځته کولو لپاره لارې او وسیلې چمتو کوي.
- دا د وړاندیز شوي بشري منابعو پالیسیو او پروګرامونو ارزونه اسانه کوي.
- دا بدلون اسانه کوي، مدیریت ته وړتیا ورکوي چې زاړه تخنیکونه د نوي سره بدل کړي.

**په بشري منابعو کې د څېړنې میتودونه کوم دي؟**

**تاریخي مطالعه:**

تیر ریکارډونه دلته هدف ته رسیدواو ترلاسه کولو کې مرسته کوي. ټولې معتبرې اداري د خپلو کارمندانو ریکارډونه ساتي چې په څو اړخونو کې ستونزې رامینځته کوي لکه حادثې، د معاش او جوړښت، د کارمندانوادلون او بدلون، غیر حاضرې، فعالیت، رخصتي او نور. څېړونکي د تیرو ریکارډونو څېړنه کوي او د اوسني او پخوانیو کارمندانو سره د مرکو په ترسره کولو سره معلومات ترلاسه کوي. دا طریقه د ډیر وخت په اوږدو کې د سیستماتیکو تحقیقاتو اسانتیا برابروي.

**سروې:**

د سروې څېړنه په نسبي ډول ارزانه ده او د خسارې، ډله ایزې معاملې، دندې، د کارې ژوند کیفیت او داسې نورو په اړه د نظرونو لوی نمونې راټولولو توان ورکوي. پدې کې د څېړنې ساحې په اړه د یو لړ پوښتنو چمتو کول شامل دي. د افرادو یوه کافي نمونه غوره کیږي څوک چې په پوښتنلیک کې معلومات ډکوي بیا یې تحلیل کیږي او د نتیجو د راوړلو لپاره حساب شوی. دا طریقه د پوښتنو د غلط تفسیر محدودیت سره مخ کیږي. مګر سروې لویې نمونې کاروي، ځینې ممکن پوښتنې غلط تعبیر کړي، اکثریت به نه وي. د سروې طریقه په مختلفو شرایطو کې کارول کیږي چیرې چې خلک او سازمانونه ښکیل وي. دا طریقه وخت نیسي.

**د قضیې مطالعې:**

د قضیې مطالعې میتود له لارې په ورکړل شویو شرایطو کې د پام وړ اړیکو سیستماتیکه او ژوره څېړنه ممکنه ده. د قضیې مطالعاتو محتاط تحلیل ممکن د بشري حقونو مدیریت او بشري اړیکو په برخه کې پراخېغوښتنې رامینځته کړي.

**احصایوي مطالعات:**

احصایې په پراخه کچه په څېړنه کې کارول کیږي. د دې میتود لاندې د معلوماتوراټولول، طبقه بندي، تحلیل او تفسیر ترسره کیږي. مختلف احصایوي میتودونه لکه معنی، حالت، منځنۍ، تفاوت، ارتباط او ریګریشن، رجحانات، احتمال، سرچینې، د شاخص شمیرې د احصایوي پایلو د راټولولو لپاره کارول کیږي. د کمپیوټر په راتګ سره د احصایې میتودونه په عصري وختونو کې په زیاتیدونکي توګه کارول کیږي.

**د ریاضیاتو ماډلونه:**

د ریاضیاتو ماډلونه د متغیرونو ترمنځ د ځانګړو اړیکو تشریح کولو لپاره کارول کیږي. کمپیوټر د مدیریت په څیړنه کې د ریاضیاتي ماډلونو کارول پراخه کړي دي. ریاضي د متغیرونو ترمنځ د پیچلو اړیکو په معاینه کولو کې مرسته کوي او د پریکړې کولو ساده او مؤثره کولو توان لري.

**د سمولو موډلونه:**

د سمولو ماډلونه د تیوریو پر بنسټ دي. دا میتودونه د پرسونل د تدارکاتو او روزنې، ډله ایز معاملې او د تولید او موجوداتو کنټرول پورې اړوند ستونزو مطالعې لپاره کارول کیږي.

**ساحه یا عمل څېړنه:**

پدې طریقه کې د سازمان د غړو چلند مطالعه کیږي. دا یو ګټور میتود دی چې په سازمان کې د ګروپ چلند مطالعه کړي. کله چې تاسو په بشری منابعو کې څېړنې ترسره کوئ کوم بهیر باید تعقیب کړئ

سازمان د انسانانو څخه جوړ دی چې هلته کار کوي. د کار په ځای کې دوی ډیرې شکایتونه یا ستونزې لري چې د بشري حقونو د څېړنې پروسې لامل کیږي ترڅو د دوی د مخنیوي لپاره حلونه ومومي.

**د بشري حقونو څېړنه د لاندې لیست شوي څو مرحلو څخه تیریږي:**

- د ستونزې جوړښت
- د فرضیې جوړښت
- د اهدافو ترتیب
- د پوښتنو ډیزاین
- د څېړنې میتودولوژي
- د معلوماتو راټولول
- د معلوماتو تحلیل او تفسیر
- د راپور چمتو کول

**د بشري منابعو څېړنې اړتيا د لاندې دليلونو له امله رامينځته کيږي.**

- د پوهې هره څانګه په چټکۍ سره وده کوي چې د خلکو په ادراکې، چلند کې بدلون راولي. دا د بشري حقونو د نويو ستونزو د حل لپاره د بشري منابعو څېړنې په اړتيا ټينګار کوي. په هرصورت دا د HRM موجوده پوهه هم رامينځته کوي.
- د بشري حقونو د څېړنې له لارې د بشري حقونو د پالیسيو، پروګرامونو او کړنوارزونې نوې ميتودونه ممکن دي.
- د بشري حقونواوسنۍ پالیسۍ او کړنې د بشري حقونود څېړنې له لارې چمتو شوي نوي ميتودونو په رڼا کې ارزول کيدای شي او پلي کيدای شي.
- د بشري منابعو ستونزې د بيلابيلو مسلو په اړه د کارمندانو نا رضايتۍ له امله رامينځته کيږي چې صنعتي شخړې رامينځته کوي. د بشري حقونو د څېړنې له لارې د ستونزو وړاندوينه کيدای شي اود مخنيوي لپاره يې حل لارې چمتو کيدای شي.

سرچینه: The human Capital(Hub)



# "قانون" اسارت اسلامی افغانستان



میر عبدالواحد سادات

انگیزهٔ پرداختن به این موضوع، نشر سندی است که در روزهای اخیر از آدرس امیرالمومنین طالبان، تحت عنوان به اصطلاح قانون (امربالمعروف و نهی عن المنکر) نشر شده است.

آماج بحث ما را موارد آتی تشکیل می دهد:

سعی می نمایم تا بر مبنای عقلانیت سیاسی، بدون هرنوع روزمره زدگی و یا نسخه پردازی از برج عاج اروپا، با فکر کلان ملی و جوهر مترقی در مبارزهٔ تاریخی علم و جهل و جدل تاریخی سنت و تجدد که در صدسال اخیر در جدل مشروعه و مشروطه تداوم دارد؛ آرمان مشروطیت پدران سترگ معنوی ما را که در احوال جاری مبرمیت و فعلیت داشته و آینده نگر باشد، در برابر مانیفست زعامت طالبان و مافوق ارتجاعی و «اسارت طالبانی»، منشور منورانهٔ آزادی، ترقی و پدران معنوی ما و مشروطه خواهان را در برابر مشروعه قرون وسطایی آنان، مطرح نمایم تا وجدان آگاه بشریت، از «غمگنانه باغ» ما آگاه باشند که تراژیدی نیم قرن اخیر و جاری شان معلول و محصول مداخله، تجاوز خارجی و جفای بزرگ جامعه بین المللی است.

بدینترتیب، درین کسوف تاریخ، بقول معروف با تجسر، رک و راست، در برابر تاریخ، چنانچه همیشه گفته ام، بحیث شاگرد حقوق و فقه، بمثابه مدعی العموم افغانستان و مردم آن و منحیث یک روشنگر افغان، بخاطر دفاع از حقوق و آزادی مردم و حق گزار کشور به شاهراه صلح پایدار و توسعه، بر مبنای حب الوطن من الایمان، بدون هر نوع حب و بغض با چنگ زدن به مصالح علیای مادر وطن به این مسأله می پردازم:

در جنگ نور و ظلمت باید یکی گزیدن
یا راه نور رفتن ، یا ظلمت آفریدن

واکاوی مختصر این "قانون":

این سند در (35) ماده و چهار فصل زیر نام «قانون» با «فرمان» امیرالمومنین طالبان در جریدهٔ رسمی وزارت عدلیه بنشر رسیده است.

مبرهن است که بر اساس تعریف از قانون و شرایط شکلی و متنی مرتب برآن و همچنان بر طبق عرف از قانون گذاری در یک قرن اخیر، هر سندی را نمی توان قانون خواند. از جمله تداوم بحران بزرگ حقوقی و مشروعیت که طالبان در سه سال اخیر نتوانسته اند دولت قانون محور و متعارف را شکل بدهد . بدینرو اداره دیفکتوی طالبان فاقد صلاحیت حقوقی و اخلاقی برای برای انفاذ قانون می باشد. (باری رهبر طالبان گفته بود: «قانون ساخته دست بشر حرام است و کسی که آنرا حلال گوید به مثل آن است که گوشت خوک را حلال بداند»)

در(35) مادهٔ این سند، موارد مختلف و متناقض با هم ردیف گردیده است که مجموع مندرجات آن نمایانگر احوال پریشان حاکمان و ذهن و اندیشه یک ملای قریهٔ دور افتاده و در سطح کتاب های مبادی فقهی مبتدی است که در قرن (21) و تغییرات بزرگ در حیات اجتماعی بشر، از فهرست درسی مدارس اسلامی در کشورهای متمدن اسلامی مصر، ترکیه،

اندونیزیا از فهرست درسی مدارس شان حذف گردیده است. بیشترینه غیرمنصوص و اقتباس از کتاب های فتوا و اجتهاد فقهای قدیم است و به گفته فقها «ارجعیت» ندارد . پاورقی ها که هیچگاهی در عرف تقنینی سابقه ندارد ، همه به عربی و در بعضی موارد بی ارتباط جابجا گردیده است (طور مثال کتاب تاریخ شبلی) . بیشتر از ثلث حواشی های از (سلفی ها، حنبلی و اهل حدیث) و غیر حنفی است.

در فقره سوم ماده (17) نشر عکس ذیروح را غیر مجاز می داند و گویا رهبران شان بی روح اند که همه روزه تصاویر شان پخش می گردد. و یا در فقره (4) ماده (18) که «تحریک مشتری به گرفتن سودا را ، جرم می داند.

این سند به محتسب صلاحیت می دهد که تمام عرصه های زندگی شخصی و خصوصی شهروندان افغانستان از خانه تا حمام، سرک، مسجد و محل کار را برخلاف اصل قرآنی (و لاتجسسوا) تحت پوشش و مراقبت قرار دهد، برای گناهان (ماده دهم) مکتوم و حسب دلخواه تعیین تعزیر نماید و حتی افراد را حبس نماید.

جناب "محتسب" درین سند فعال مایشا و تام الاختیار است و هر حرکت و سخن را که خلاف «شریعت» دانست؛ ممنوع نماید. طور مثال در فقرهء یک ماده (17) در مورد فعالیت مطبوعات می خوانیم:

«نشر مطالب که از شریعت و مذهب مخالف باشد» و یا در ماده (21) از عدم اصلاح موی خلاف شریعت صحبت گردیده است.

این سند توهین به کرامت انسانی و وجدان بشری و ناقض تمام حقوق و آزادی های انسانی مردم است که در مغایرت عام و تام با دین، آیین، فرهنگ و تاریخ افغانستان قرار دارد و مناقض تمام قوانین، بویژه قوانین مدنی و جزایی افغانستان و نورم های پذیرفته شدهء حقوق بین المللی است.

جالب است که در ماده (22) دوستی با «کفار» را حرام خوانده است که به مفهوم ابطال حشر و نشر چندین ساله شان با دوستان... و عقد توافق نامه های پشت پرده است.

این سند در مغایرت با هر 30 ماده اعلامیه جهانی حقوق بشر قرار داشته و ناقض تمام ارزش های مندرج در میثاق های بین المللی است که افغانستان به آن الحاق و مکلف برعایت آن می باشد.

با تطبیق این «قانون» و این همه محتسب با صلاحیت عام و تام، مجموع افغانستان به زندان شهروندان آن مبدل گردیده است. البته آماج اصلی آن زنان است و زبان زن ستیزانهء سند تا آن حد خصمانه است که در ماده (14) حتی صدای زن را برخلاف آنچه مراکز معتبر فقهی حنفی، شیعه ، الازهر و ... نظر دارند، نیز عورت خوانده شده و این ماده بصراحت «اپارتاید جنسیتی» مصداق کامل پیدا می نماید.

زعامت طالبان با زن ستیزی و تحمیل اپارتاید جنسیتی، بیگانگی شانرا از تاریخ و فرهنگ افغانستان ثابت می سازند. چنین روش مذموم، در کشوری که مادر زبان دری رابعه بلخی است که حضرت جامی مقام والای معنوی آن عارفه را تمجید نموده است و زنان در شکل دهی قدرت شاهان جهانگشا همانند زرغونه انا و نازوانا سهم داشته اند و (60) سال که هنوز رهبر طالبان طفل بیش نبوده است، از همان قبیلهء خودشان محترمه کبرانورزایی فقید در جمع فعال ترین وزیر کابینه وقت بوده است و زنان برجسته (محترمه داکتر اناهیتاراتب زاد فقید از شهر کابل، محترمه معصومه عصمتی از شهر قندهار، محترمه شفیقه احراری از شهر هرات، محترمه رقیه ابوبکر از شهر کابل و همچنان محترمه حمیرا سلجوقی فقید بحیث سناتور منتصب) به همت خود و پشتیبانی بیدریغ مردم در پارلمان وقت انتخاب گردیدند.

اولویت و شرط اسلامیت ریش و حجاب است و یا بستن دروازهء کفر:

سوال اساسی این است که در افغانستان مسایل بی شمار و بحرانات بزرگ خانه برانداز وجود دارد که تداوم آن نه تنها قدرت طالبان را نابود می نماید بلکه هست و بود کشور را نیز به مخاطره انداخته است.

در افغانستان سه اکثریت بزرگ ( فقیران و مستمندان، زنان و جوانان ) وجود دارند که در احوال و شرایط اسفناک قرار دارند که بالاتر از نود فیصد بزرگترین تهدید برای افغانستان است. در حالیکه پیغمبر بزرگ اسلام (فقر را دروازه کفر) دانسته، اما "رهبر طالبان" با فراموشی این ارشاد پیغمبر، تنها به ریش و حجاب چسپیده است.

اخبار زیاد در مورد پروژه ای اقتصادی شنیده می شود: قوش تیپه ، پایپ لاین ها، کاسا یک هزار و ...و بر اساس تخلیل اقتصاد دانان مجرب تا چهل ملیارد دالر برای افغانستان وجود دارد. معلومدار است که با دوام بحران حقوقی و مشروعیت و تداوم انزوای بین المللی و عملکرد زعامت طالبان درین سه سال همه این پروژه ها از بین رفته و منافع ملی افغانستان قربانی لجاجت و تحجر رهبر و حواریونش میگردد و افغانستان در راستای پلانهای شوم و شیطانی دشمنان تاریخی ما و در کشمکش جاری جیوپولوتیک منطقوی و بین المللی به بحرانات جدید سوق داده می شود.

اضرار این "قانون" زعامت لجوج و تندرو طالبان:

- اسلام متساهل، معتدل و عنعنوی هزار و چند سال افغانستان که با عرفان و تصوف برخاسته ازین سرزمین به دین و آیین زندگی مردم مسلمان ما گردیده است؛ بدنام ساخته اند.
- مذهب میانه رو حنفی و شخص امام اعظم و همچنان روش عقلایی استاد بزرگوار شان امام جعفرصادق را در سطح فکر منجمد و عملکرد خشونت بار تان تنزیل داده اند.
- سیستم حقوقی اسلام را که در جمع سیستم های حقوقی جهان جایگاه و منزلت دارد، به ریش و حجاب خلاصه ساخته اند.
- این سند مشوق خشونت در جامعه بشدت پر التهاب، منقطب و کثیرالقوامی و مذهبی افغانستان و بسترسازی برای رشد بیشتر افراطیت و ذهنیت تکفیری است.
- از بوالعجبی های تاریخ که افزون بر استعمار، آفت دیگر ما که در دوام و منجلاب "استحمار" گیر می مانیم که درین سه شکست تاریخی یک قرن اخیر دمار از روزگار مردم مظلوم بیرون کرده و می‌نماید.

مردم حق دارند در برابر شما، فریاد وخشورانه حضرت سنایی را تکرار نمایند که:

مسلمانان، مسلمانان، مسلمانی، مسلمانی
ازین آیین بی دینان، پشیمانی، پشیمانی

اصل مفهوم امر به معروف و نهی از منکر در دین مبین اسلام: این مفهوم بحساب تفکیک و امر بر شایست و ناشایست در قرآن کریم در جملات خبری و در آیه آل عمران به لفظ امر(و لتکن منکم امته) آمده است که بر همگان واجب است تا در راه فلاح و رستگاری کوشا باشند. معنی لغوی معروف به عرف و عقل عرفی و اصل استحسان مذهب حنفی نزدیک است. بی جهت نبوده است که اصل امر به معروف و نهی از منکر را به «شرع» و «عقل» متکی دانسته اند.

البته تفسیرها، قرائت ها و عملکردهای ازین اصل در تاریخ اسلام وجود دشته است. واضح است که بنیادگرایان و تندروان ازین اصل استفاده سوء و ابزاری نموده اند. اصطلاح "محتسب" که به هیچوجه اساس قرآنی ندارد، در فرهنگ و ادبیات افغانستان بار منفی پیدا نموده است، چنانچه حضرت ابوالمعانی بیدل می فرماید:

صبرکن ای شیشه بر سنگ جفای محتسب
گردن این دشمن عشرت، خدا خواهد شکست

از تعصب، جاهلان دین هدا را دشمنند
عاقبت در چنگ‌این‌کوران عصا خواهد شکست

انگیزهء تمرکز استبداد شخصی رهبر طالبان و حواریون مقرب آن درنشر این "قانون"، استفادهء سیاسی و ابزاری از یک اصل دینی و تبدیل آن به شمشیر داموکلس بر فرق مردم و سلب حقوق و آزادی های آنان، بخاطر سیطره سیستم مخوف پولیسی و طراز کوریایی شمالی است.

سه سال حضور طالبان در قدرت مبین این واقعیت است که زعامت طالبان با ایجاد "ملاکراسی" طراز استبدادی شخص محور و تیوکراتیک، از شریعت «پیراهن حضرت عثمان» و سوته حافظ ساخته اند. تمام مسائل مربوط به حقوق اساسی مردم، تا آزادی زنان و تحصیل دختران را به شریعت حواله می دهند و هر کسی را که صحبت از حق و حقوق نماید، با شریعت (سوته حافظ) بر فرقش می کوبند. طور مثال در فقره یک ماده ( 17) در مورد مطبوعات می خوانیم:

«نشر مطالب که از شریعت و مذهب مخالف نباشد...»

تمرکز با لجاجت ادارهء طالبان به این موضوع و تشکیل یک وزارت مقتدر به این ارتباط، در واقع استفاده سیاسی از یک اصل دینی و تبدیل آن به شمشیر داموکلس بر فرق مردم و سلب حقوق و آزادی آنان است .

سخنگوی طالبان با تحکم خاطر نشان نمود که اگر مسلمانان بر این «قانون» انتقاد نمایند، ایمان شان را صدمه می زنند. چنانچه رهبر طالبان بعیت کردن را به جسم بی روح تشبیه نموده است.

زعامت طالبان با تطبیق این دستورالعمل مجموع «امارت» شانرا در محدودهء اداره "امر باالمعروف" خلاصه نموده و از شریعت چتر کلان برای کتمان فساد و وسیله فشار بر مخالفان داخلی و انقیاد وزارت داخله و سایر دوایر مربوطه ساخته است. با نشر و تطبیق این سند، گویا «یوم الحساب» روز قیامت را در روی زمین بر مظلوم ترین خلق خدا عملی می نمایند، تا با «دوزخ» ساختن زندگی شان راه بهشت موعود را بروی شان باز نمایند.

مکث مختصر به "افکار طالبانیزیم":

"طالبانیزیم" و آنچه از آدرس امیرالمومنین طالبان اهداف و سیاست اداره شانرا مشخص می سازد، ذهنیت تکفیری مبعث از مدرسه دیوبند پاکستان و نسخهء خاص برای افغانستان است.

"طالبانیزیم" قبل از همه فکرطالبانی، ایدیولوژی، تیولوژی و قرائت بدوی رهبری طالبان از دین مقدس اسلام است که بشدت افراطی، متحجرانه، مطلق گرا و منبعث ازمدارس دیوبندی طراز پاکستانی است.

"طالبانیزیم" ناقض حقوق و آزادی های مردم، بشدت زن ستیز است و در دشمنی با حضور زنان در جامعه و در جدل تاریخی مشروطه و مشروعه و در نهایت دشمنی با معارف، معرفت، روشنایی و علم قرار دارد و مبین و معرف آرمان ملای لنگ است که در اولین فرمان حبیب اله کلکانی نیز بازتاب یافته بود.

"طالبانیزیم" مغایرمنافع ملی و مصالح علیای افغانستان و در آخر کار به نفع مصالح و منافع دشمن تاریخی وطن ما، پاکستان تمام می شود.

برخلاف تصور شماری از روشنفکران، طالبانیزیم فکر مدون و منسجم است که زعامت طالبان از آدرس امیرالمومنین و امارت اسلامی بخاطر تحقق آن تلاش می نمایند. مانیفست طالبان در کتاب «امارت اسلامی» تالیف اندیشه پرداز اساسی شان شیخ عبدالحکیم «قاضی القضات» بیان گردیده است. کارشناسان ملی و بین المللی بشمول سازمان ملل متحد، پنج تا هفت تن را سکاندار اساسی زعامت "طالبانیزیم" وانمود می نمایند. این اختاپوت و اژدهای هفت سر، در یکی از مهمترین کانون های جیوپولوتیک جهان و در پیچیده ترین بازی های استخباراتی بین المللی "رسالت" دارند، تا ارزش های مدرسه «اکوره ختک» را در افغانستان مستولی و به سلیقه مولاناهای

خبیث و انگریزمشرب پاکستان و در مسیر اهداف کلان آن کشور سوق نمایند.

از بوالعجبی های تاریخ این است که در ورق گردانی روزگار، طالبان که تاجران دین (دین فروشان) را فرار دادند، اکنون خود، دین را گروگان گرفته و صاف و ساده فکر متحجر و دیوبندی خود را بمثابه اصل دین قرار می‌دهند و دساتیر امیرالمومنین خود را «عین» دین و واجب الرعایه می خوانند.

چنین جفا بر دین مستوجب چه مجازات است؟

دین که با (اقر أ) آغاز یافته و خداوند به قلم سوگند یاد نموده است و پیغمبر آن فراگیری علم را بر مرد و زن فرض خوانده است (طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة ) تنها به گذاشتن ریش و رعایت حجاب خلاصه نموده اند.

از قرار معلوم، سنت پیغمبر بزرگ اسلام متکی براصل (خیرالأمور اوسط ها) متکی است و شخص امام اعظم ابو حنیفه و مذهب حنفبی ، به یسر (آسانی و میانه روی) در قبال مسائل سیاسی و چه در برابر موضوعات فقه متمایل است و تمایل عقلانی استادش امام جعفرصادق نوعی رجهان به تعادل در تمام مذاهب وجود دارد. البته در میان مذاهب چهارگانهٔ اهل سنت، مذهب حنفی معتدل ترین، عقلانی ترین مذهب به‌شمار می‌رود که برپایه‌های قرآن، سنت، اجماع، قیاس، استحسان، عرف و مصالح مرسله استوار است.

در شریعت اسلام مسأله وجود دارد که پیوند با واقعیت خوانده می‌شود، بر اساس قاعدهٔ «لاینکر تغیّرالأحکام بتغیرالأزمان» تغییر احکام با توجه به تغییر زمان مورد انکار قرار نمی‌گیرد؛ می‌توان گفت که احکام با توجه به زمان و زمین تغییر می‌پذیرند و این تغییرپذیری مورد انکار نیست.

در اسلام متغیراتی وجود دارد که با توجه به واقعیت‌ها تغییر می‌یابند و واقع‌گرایی و انعطاف‌پذیری احکام اسلامی را نشان می‌دهد. احکام اسلامی با این ویژه‌گی می‌تواند با هر زمان و زمینی انطباق پیدا کند و ثوابت آن نیز محفوظ بماند.

رهبر طالبان در پرداختن به اصل امر به معروف، حتی امام غزالی را که از طرفداران تطبیق این امر بوده است و بر دو موضوع: «تأثیر گزاری » و «عدم ایجاد مفسده ها» تاکید می نماید، نادیده گرفته اند.

در حالیکه در ذهنیت تکفیری و فکر طالبانیزیم، هیچ مجال و ضرورتی برای اجتهاد جدید بملاحظه نمی رسد. این در حالی‌ست که اجتهاد تا دین و انسان وجود دارد؛ باید دوام تداوم داشته باشد.

ولی، هیهات و افسوس

در کشوری که از هزاران سال صحبت از نبرد تاریخی اهورا و نور، علم و دانش مطرح بوده است و کلام بزرگان فرهنگ با ذهن و روان مردم عجین بوده است و مردم از هزار سال بدینسو با حدیث پیغمبر یزرگ اسلام، درین شعر حضرت فردوسی آشنا بوده اند که :

چنین گفت پیغمبر راستگو

ز گهواره تا گور دانش بجو

هم اکنون بزعم رهبر طالبان و حواریون مقرب او ، بزور «مسلمان» می سازند!!!

"امیرالمومنین" » و حواریون او که با تاریخ وطن و جهان بیگانه اند، متوجه نیستند که در سرزمین زادگاه امام ابوحنیفه و کشوری که در بیشتر از هزار سال بزرگترین شخصیت جهان سترگ جهان اسلام همانند حضرت سنایی ، حضرت مولانا ، شیخ الرییس ابوعلی سینا ، فارابی و علی شیر نوایی، پیر روشان، رحمان بابا ،سید جمال الدین افغان و ... را داشته و بزرگترین امپراطوران و شاهان علم بردار دین اسلام بوده اند ، در غیر آن بخاطر «مسلمان» ساختن مسلمان ترین امت اسلامی جهان اسلام ، بار ملامت نمی کشیدند.

جا دارد کلام وخشورانهء حضرت مولانا از دیوان شمس را ( که باری در مظاهره افغانان مقیم دنمارک بخاطر تندیس های بامیان در ( 2001 م ) خوانده بودم، تکرار نمایم:

هزار ساله ره است از تو تا مسلمانی

هزار سال دگر تا به عهد انسانی

راه حل واقعی کدام است؟ چه بایدکرد؟ و چه میتوان کرد؟ مطابق به نصوص قرآنی، سنت پیغمبر بزرگ اسلام و تاریخ هزار و چند سالهء اسلامی افغانستان و همچنان مقتضیات قرن (21) و نیازها و منافع ملی افغانستان و خواست مردم ما، این به اصطلاح قانون (کان لم یکن) است و الزامیت ندارد.

هرگاه امر معروف و نهی از منکر واقعی مطرح باشد، این امر است که مردم به این اوامر گردن نه نهند. خلع چنین "رهبر" و این ذهنیت تکفیری و حواریون جاهل تر از رهبر شان است، اولویت اصلی برای نجات افغانستان و از اهم منکرات پنداشته می شود.

پس در گام نخست باید:

اداره امر بالمعروف لغو گردد و سرپرست این اداره به محاکمه کشانیده شود.

باید از همین اکنون و حتی بطور سمبولیک و در بیرون کشور، منار دوم و تاریخی علم و جهل، با آرزوی پیروزی علم در افغانستان طراحی گردد. بدون شک در صدر فهرست سیاه این منار، در جمع اربابان جهل، اسمای آقایان "رهبر" و دو "شهبال او" مسولان وزارت های تحصیلات عالی و امر بالمعروف درج می گردد.

در برابر این همه ظلم بر مردم مظلوم، تاریخ و دین و آیین افغانستان و آقای "رهبر طالبان"، در مقابله با "دارالخلافه قندهار" و ملاهای متحجر و کم سواد، باید به شخصیت بزرگ اسلامی و رهبر اولین مشروطیت کشور مولانا محمدسرور خان واصف قندهاری و رهبران بزرگ مشروطه خواه و آزادی خواه اقتدا نماییم که راه فلاح و رستگاری را در استقرار قانون و معرفت و معارف می دیدند.

مردم افغانستان با دین شان مشکل ندارند و منور واقعی هم دین ستیز نیست. اصلاً دین ستیزی، روشنگری نیست.

مشکل اساسی مردم با تاجران دین، ایدیولوژیک ساختن دین و تفسیر تندروانه از دین است. هرگونه تفسیر قومی، زبانی و مذهبی، دور شدن از درمان اصل زخم که همانا جهل است؛ می باشد.

دین مبین اسلام معنویت مسلط و دین و آیین مردم است که بگروگان گرفته شده است.

این حاکمیت قانون است که جایگاه رفیع معنوی دین را مشخص و از دستبرد جلابان سیاسی مصئون می نماید.

مردم و بویژه افغانان بیرون از کشور باید در یک «**حی علی الفلاح تاریخی**» به «**حبل المتین**» چنگ بزنند و بخاطر رفتن بیک نظام قانونمند، همنوا گردند. اکسیر اعظم، استقرار حاکمیت قانون و انفاذ قانون اساسی است.

نهضت مدنی سراسری در دفاع از حقوق و آزادی شهروندان بخاطر حقوق و آزادی، برابری ، مساوات و عدالت و اعمال حق حاکمیت ملی که بطور انحصاری و فقط و فقط مربوط مردم است، راه اندازی گردد.

اکنون زمانی آن گذشته است که مدرسه دیوبند بدستور انگریزان مصوبه صادر نماید و اخلاف ملای لنگ، شاه امان اله را لاتی، داود خان فقید را شهزاده سرخ، رهبران چپ را کمونیست و حامیان غرب را سیکولر و مباح الدم بخوانند.

اعتراض گسترده و همگانی افغانان در داخل و خارج کشور و بویژه در داخل اعم از زنان و برای اولین بار اعتراض روحانیون افغانستان و پیشنهاد مناظره با رهبری طالبان، مایه امید و در واقع پاسداری از «انقلاب امید» است

عدالت جوهر تاریخ و تحقق آن یکی از منابع مشروعیت است؛ آزادی رخ دیگر هستی انسان است که در فقدان آن انسان «می میرد»

همیشه بیاد داشته باشیم که :

گستاخی طالبان در نشر چنین اسناد، معلول ضعف جامعه بین المللی و سازمان ملل متحد در پاسداری از ارزش های قبول شده جهانی و تداوم سیاست های کجدار و مریز امریکا عامل و مشوق آنان است.

بدینرو :

بدون تگدی حقوق و آزادی خود از بیگانگان به وفاق منورانه و ملی متکی شویم! حق داده نمی شود؛ حق گرفته می شود و مردمی مستحق حقوق و آزادی است که خواستار آن باشند و برای آن مبارزه نمایند.

به آرزوی پیروزی علم بر جهل و نور بر ظلمت

با حرمت

# د پاکستان اټومي وسلو ګواښ



لیکوال سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

د پاکستان اټومي وسلې ځومره خوندي دي:

د پاکستان اټومي پروګرام ګواښ نړی اندېښمنه کړې ده. د ګاونډی هیواد هند سره د احتمالي هستوي جګړې پیل همدومره بالقوه وحشتناکه او ویرونکی ده، لکه دا پوښتنه چې د پاشلکیدونکي او له سقوط سره مخ پاکستان اټومي وسلې د ترهګرو لاسونو ته ورلویدونکي دي. د پاکستان اټومي وسلې د جګړې پټ خطر او پاکستاني پوځ کې د ترهګرپالو کدرونو شتون د خطر یوه بیساري سرچینه ګڼل کیږي. د شمالي کوریا په پرتله د پاکستان د اټومي ګواښ ځښت ډیر دی. دا شوني دي او د دې ګواښ شته، چې ترهګرو اورپکي ډلې د پاکستان اټومي وسلو ته لاسرسی ومومي. د پاکستان اټومي ځواک ورځ تر بلې د افراطیت او ترهګری په ګرداب کې ورډوبیږي. نن د پاکستان ډیری سیمې د یاغیانو لخوا کنټرولیږي او د پاکستاني حکومت تر ولکې وتلي دي.

د پاکستان اټومي وسلې د وسله والو ترهګرو ډلو ټېلو لاسته ورلویدونکي دي. د پاکستان سیاسی وضعیت چې هر څوک ارزیابی کوي، یوه خبره په کې ښکاره ده، چې پرته له شکه پاکستان په اټومي وسلو سمبالو هیوادونو کې یو بې ثباته ناامنه هیواد دی. یوازې د پاکستان پوځ یو ځانګړې ځواک په اټومي مېزایلونو او بمونو باندې کنټرول لري. اوس د دې خطرناکې وسلې ساتل او خوندیتوب ورته ډېر ګران شوي دي.

له بلې خوا ډیر شواهد دا هم په ډاګه کوي، چې د پاکستان پر اټومي وسلو د امریکا کنټرول خورا پراخ دی. د امریکې استخباراتو له اوږدې مودې راهیسې د پاکستان اټومي وسلو خوندي کولو لپاره بیړني پلانونه چمتو کړي دي. واشنګټن پوسټ راپور ورکړی، چې په دې پلانونو کې ظاهرآ داسې پلانونه هم شامل دي، د پاکستاني پوځ د نه همکارۍ کولو په صورت کې بیا به هم عملي شي. څکه په نړې کې د نهو زېرمه شویو اټومي وسلو ځواکونو په پرتله بل هیڅ یو هیواد واشنګټن لپاره د اندېښنې وړنه نه دی لکه پاکستان.

د پاکستان اټومي وسلې یو ځای نه ساتل کیږي، نه په بشپړه توګه سره ترلي شوي دي او سمدستي کارولو ته چمتو هم نه دي. اټومي پرزې او مواد په ټول هیواد کې په شپږو پټو ځایونو او ټونلونو کې سره ویشلي شوي دي. څو د هند احتمالي بریدونو اسانه هدف ونه ګرځي. د اټومي هستوي وسلو اجزاوې یا پرزې یې په جلا جلا توګه زیرمه کړي دي. دا د اټومي وسلو د غلا کولو په وړاندې محافظتي امنیتي اقدامات هم دي. د یوه اټومي بم اجزاوې یا توکې غلا کول هم ډیر خطرناکه پریوځي.

د اټومي انرجی نړیوالې اداري مشر محمد البرادعي څو میاشتو مخکې د جرمني په مطبوعاتو او رسنیو کې خبرداری ورکړ: ''یوه اټومي جګړه رانږدې شوي ده''[4] په هر صورت مصري ډیپلومات د دوو اټومي هیوادونو ترمنځ د اټومي شخړې یا جګړې په اړه لږ اندېښمن دی. خو نوموړی د دې خطر په اړه چې د اټومي وسلو ټېکنالوجي یا د اټوم بم جوړولو لپاره مناسب توکي د جنایتکارو او مجرمو رژیمونو یا پر نړیوال کچ د فعالو ترهګرو لاسونو ته ورلویږي. دا کیداې شي، چې د نړی پر کچ په جګړییزو بحراني سیمو کې یو اټومي بحران رامنځته کړي. حتی د راډیو اکټیفي موادو یا فعالو اټومي وسلو په کارولو سره ترهګریز برید د تصور وړ ګرځیدلی دی.

[4] Vgl. Der Spiegel, Nr, 5/2004, S. 104

په نړۍ کې د اټومي ګواښونو په اړه د اندېښنې وړ يو هېواد هغه پاکستان دی. دغه هېواد د کلونو راهيسې خپل اټومي پروګرام پټ ساتلي او تعقيب کړي دی او نن ورځ د پاموړ اټومي وسلې لري. د اوږدې مودې راهيسې د نړيوالې ټولنې ويره د ګاونډي هند سره د احتمالي اټومي جګړې په اړه متمرکزه وه. خو نن سبا د پاکستاني جنرالانو تر کنټرول لاندې رژيم ثبات او پايښت تر پوښتنې لاندې راغلي دی.

د 2001 کال د سپټمبر يوولسمې ورسته له امريکا سره د اسلام اباد واکمنو جنرالانو پيوستون او په افغانستان کې د طالبانو ضد په جګړه کې برخه اخيستل. اوس خپله پاکستان د کورنۍ جګړې سره مخامخ دی. د پاکستان ټول پوځي او ملکي رژيمونه د واشنګټن ګوډاګي رژيمونه وو او دي.

د پاکستان اټومي وسلو ازمايښتونو ډراماتيکې پايلې لرلې. په 2002 کال کې د اپريل مياشت کې د مشرف د وژلو لومړنۍ هڅه وشوه. د 2003 کال په ډيسمبر کې پر مشرف باندې دوه نور بريدونه ترسره شول.

پوښتنه دا ده، چې که دا قاتلانه بريد بريالي شوي واي او په ترڅ کې مشرف وژل شوي واې، بيا نو څه پېښيدل.؟ د پاکستان سقوط يا د يوې بلې پوځي کودتا په صورت کې دا هيواد د څومره لوی خطر مخامخ کيږي.

د 1985 راهيسې پاکستان په دې توانيدلي، چې د 235 درجې يورانيم درلودونکي اټومي وسلې توليد کړي او شاوخوا يو کال ورسته د اټومي وسلو د توليد لپاره کافي چاودېدونکي مواد درلودل. په 1998 کال د مۍ مياشت کې پاکستان د هند د اټومي وسلې ازموينې ته ورسته د ځمکې لاندې څو اټومي چاودېدونکي توکې وچاودول.

ښايي پاکستان تر اوسه 600 څخه تر 800 کيلو ګرامه په لوړه کچه غني شوي يورانيم توليد کړي وي. ويل کيږي، چې پاکستان له دې څخه تر اوسه 40 اټومي وسلې جوړې کړي او ښايي تر هند زياتې اټومي وسلې ولري. پاکستاني پوځ د اټومي وسلو جوړولو سره موازې د اټومي وسلو ليږدولو سيستمونو پراختيا جوړولو ته هم مخه کړې ده. چين د توغنديو په توليد کې ورسره مهمې مرستې کړې دي. وسمهال پاکستان منځنۍ واټن ويشتونکي توغندي او همدارنګه امريکايي ايف شپاړس او فرانسوي ميراج جنګي الوتکې ممکن د اټومي وسلو وړونکي په توګه وکارول شي او په اختيار کې لري.

د پاکستاني اټومي وسلو امنيت ته ځښت ډير اهميت ورکول کيږي. ځکه چې د هند د ځانګړو ځواکونو لخوا په پاکستاني اټومي تاسيساتو يا د اټومي وسلو زېرمه کولو تاسيساتو باندې د بريدونو ويره شته. د اټومي وسلو ځاې محرم ساتلو، محافظت او خوندي ساتنې سربيره د امريکايانو لخوا د هرې يوې اټومي وسلې د انفرادي اجزاوې په جلا کولو سره تضمين شوي دي. د پاکستان اټومي وسلې او د انتقال سيستمونه له يو بل څخه جلا ساتل کيږي. د اټومي وسلو سرخولې نه دي راټولې شوي، په دې مانا چې د يوارنيمو هستې د نورو اجزاوو او د چاوديدونکي مېکانېزمونو څخه بيل ساتل کيږي. په تيرو وختونو کې پاکستان عصري مډرن امنيتي ټيکنالوجي نه درلوده، په هغه وخت کې وسلې په الکټرونيکي ډول نه بندې يا د کارولو وړ نه وې.

په 2000 کال کې مشرف د ملي قوماندې مستقله اداره (National Command Authority -NCA)چې مشري يې ولسمشر کوله، تاسيس کړه. په دې اداره کې د اټومي وسلو پراختيا او احتمالي کارونې پوښتنې او پرېکړې مطرح کيږي. په دې اداره کې د پوځ استازي، لکه دفاع وزير، لوی درستيز يا د وسله والو ځواکونو قوماندان، د ملي امنيت شورا غړې په انفرادي کميټو کې ناست دي.

د پاکستان اټومي وسلې اندېښنې

د پاکستان اټومي وسلو بنسټيزه امنيتي ستونزه د اټومي وسلو په ډيزاين يا جوړښت کې نغښتې ده. په داسي حال کې چې د هند اټومي وسلو پروګرام په پلوټونيمو باندې ولاړ دی. د پاکستاني اټومي سرخولې په لوړه کچه غني شوي يورانيم لري. د پلوټونيم په پرتله يورانيم اټومي وسلو ته اجازه ورکوي، چې په نسبتآ ساده ډول فعاليت وکړي، کومو اټومي دولتونو چې په

فني او تخنیکی لهذ لړ پرمختګ کړي وي یا حتی د ترهګرو سازمانونو لخوا په ډېره اساني سره کنټرول یا کارول کیداې شي.

په هر صورت د سړي جګړې له پای ته رسیدو سره د نړیوالو پام په پیل کې د پخواني شوروي اتحاد اټومي وسلو او له دې سیمو څخه د اټومي وسلو او د اټومي تسلیحاتي هستوي وسلو تخصصي غیر کنټرول شوي پوهې خپریدو ته ورواوښت.

په نیویارک او واشنګټن کې د ترهګرېزو بریدونو او په افغانستان کې د طالبانو پر رژیم له برید سره سم پاکستان ناڅاپه د نړیوالو څارونکو د توجو مرکز وګرځید. که څه هم ظاهرآ د پاکستان پوځ او استخبارات د اټومي وسلو خوندیتوب تضمین کوي، خو دغه دواړه بنسټونه د افراطي ترهګرو سره د نږدیوالې او پټو اړیکو له امله ښه پیژندل شوي دي. د پاکستان پوځ او استخباراتو سربیره د پاکستان لوړ پوړي اټومي کارپوهانو هم د سختدریځو ترهګرو سره نږدې اړیکې ساتلې دي. د طالبانو لومړي واکمنۍ پر مهال ویل کیږي، چې د القاعدې غړو په افغانستان کې د اټومي وسلو په جوړولو کې د پاکستان د اټومي څېړونکو څخه د مرستې غوښتنه کړې وه.[5]

په 1980 لسیزه کې د پاکستان اې ایس اې اداري ته د امریکا د سي آی اې له خوا په افغانستان کې د شوروي اتحاد د اشغالګرو سرتیرو په وړاندې جګړه کې وده ورکړل شوه. مشرف پر افغانستان باندې د امریکایي هوایي بریدونو له پیل مخکې د پاکستاني اټومي وسلو له خراب امنیتي وضعیت څخه ښه خبر و. د امریکا له هوایي بریده مخکې مشرف د پاکستان اټومي وسلې شپږو نامعلومو ځایونو ته د لېږدولو امر ورکړ. د اټومي وسلو پروګرام کارولو په سیکتورنو کې د قوماندانانو او د نور پرسونل بدلولو کې بدلون هم ترسره کړ.

د رسنیو د راپورونو له مخې ویل کیږي، چې جنرال مشرف حتی په موقتي توګه په چین کې د اټومي وسلو ساتنې او د ذخیره کولو په اړه فکر کړی و، ترڅو د اوریکو ډلو ټپلو حلقو لخوا د احتمالي لاسرسی مخه ونیول شي.

[5] Vgl. Terrorists courted nuclear Scientists, in USA Today, 11.12.2003

د امریکا متحده ایالاتو امنیتي اقدامات

واشنګټن د سپتمبر یوولسمې تر ناورین ورسته د پاکستان اټومي وسلو ګواښ او امنیتي ستونزو ته متوجې نه و.

د 2000 کال په لومړیو کې مشرف له متحده ایالاتو څخه د پاکستان د اټومي وسلو د امنیت خوندي کولو په برخه کې د فني تخنیکي مرستې غوښتنه وکړه. متحده ایالات د اټومي وسلو د الکترونیکي یا بریښنایي امنیتي میکانیزمونو سیستمونو سره ډیره تجربه لري. د امریکا دغه سیستم د (Permissive Acktion Links- PAL) په نامه یادیږي. دغه سیستم د مجازی لیارې د ورسپارلو شوي عمل لینک نوم لري، په ډېره ډادمنه توګه اټومي وسلې کارول بندوي او یوازې د ولسمشر په امر د پیچلو شمیرو او کوډونو په کارولو سره بیا د ضرورت پر مهال خلاصیدلې شي.

د پاکستان اټومي وسلو په قضیه کې د بل کلنټن په مشرۍ امریکایي حکومت پاکستان ته د (PALs) سیستم یا نورو الکټرونیکي تخنیکي فني مرستو ورکولو څخه په لاندې دلایلو ډډه او انکار وکړ. د دې سیستم په ورکولو سره موږ د پاکستان د اټومي وسلې په رسمیت وپیژنو او پر نړیوال کچ به مشروعیت ورکړل شي. بل دا چې پاکستان د اټومي وسلو د نه خپرولو ترون (NPT) هم نه دی لاسلیک کړي. نو واشنګټن به د اړوندو ټیکنالوجي په ورکولو سره د نافذ شوي نړیوال قانون څخه سرغړونه کړې وي.

د ولسمشر جورج ډبلیو بوش له پرېکړې سره سم کله چې په افغانستان کې د طالبانو حکومت د پوځي زور له لیارې نسکور شو. د پاکستان اټومي وسلې ستونزه بیا له سره بیرنۍ شوه او لومړیتوب یې وموندلو. په پیل کې واشنګټن یوازې د تخنیکي مرستې چمتو کولو په اړه فکر کاوه، چې مخکې یې هم غوښتنه شوي وه. په هر صورت په چټکۍ سره دا څرګنده شوه، چې دا به په سیمه کې د ناوړه امنیتي وضعیت په پام کې نیولو سره کافي اقدامات نه وي.

د تخنیکي محافظتي میکانیزمونو پرمختللي سیسټمونو ورکولو ته باثباته فعال دولتي بنسټونه، جوړښتونه او د باور وړ تصمیم نیونکي باثباته پروسې ته اړتیا لري، ترڅو وکوالي شي دغه پرمختللي الکترونیکي شمېریزه کوډونه په خوندي ډول وساتلي شي. په داسي حال کې کله چې ټول رژیم د کورنیو مخالفتونو له کبله د ناکامۍ یا د سقوط له ګواښ سره مخامخ کیږي، یاغیان یا نوي پوځي حاکمان کولي شي اټومي وسلې سره د اټومي وسلو د خلاصولو پرمختللي سیسټمونه او میکانېزمونه دواړه تر لاسه کړي.

د امریکایانو له نظره، دوی باید د پاکستان اټومي وسلو ته لږ یا ډېر یا مستقیم لاسرسۍ ولري، ترڅو په خورا سختو شرایطو کې دوی اټومي وسلې د کارولو مخکې خونسا یا له کاره وغورځوي یا له هیواده بهر ویستلي شي.

په هر صورت د دې لپاره د پاکستاني حکومت رضایت یا هوکړې ته اړتیا لیدل کیږي. پوځیانو باید خپلو اټومي وسلو زېرمو ته د امریکایانو د لاسرسۍ لاره وربرابر کړي. دا معاملې خورا محرمیت ته اړتیا لري، ځکه چې د پاکستان اټومي وسلو د امنیت په اړه مالومات ښکاره کول، پاکستان کې د لاریونو څپې راوباسي. د دې ستونزې حل دا دی، چې واشنګټن څنګه د پاکستان د اټومي وسلو کنټرول ترلاسه کولي شي، له یوې خوا د اټومي وسلو مهمې حیاتی برخې د بېلګې په توګه د یورانیم هسته (Pit) یا د اور لګیدو یا د چاودنې مېکانېزم په برخه کې د ځانګړو وسایلو په ټرانسمیټرونو په نصبولو سمبال شي، چې دواړه حکومتونه پاکستان او امریکا د لیږدولو شویو اټومي وسلو موقیعت تل ترینه مالومولي او ټاکلي شي. له دې سره د اټومي وسلو غلا یا په غیر قانوني توګه د اټومي وسلو لږد په هر ځای کې ټاکل کیداې شي او موندل کیداي شي. دا ډول ټېکنالوجي د ډېره مودې راهیسې د تسلیحاتي وسلو د کنټرول په ساحه کې یا په اټومي وسلو سمبالو هیوادونو کې د (Tagging) اصطلاح ورته کارول کیږي. د اټومي وسلو کنټرول دغه مډرن میتود د اوږدې مودې راهیسې په اټومي وسلو سمبالو هیوادونو سلاح کوټونو او وسله ټونونو کې کارول کیږي.

په هرصورت دلته دا پوښتنه هم راپوته کیږي، چې په ترهګرپال پاکستاني غل پوځ باندې د دې پیچلو مډرنو تخنیکي وسایلو اعتبار کول څومره ګران کار دی. د دې تخصصي مسلک متخصصې حلقې کولی شي، چې د اټومي وسلو محافظتي میکانیزمونه ترینه لرې کړي یا د اټومي وسلو مهمې برخې د لیږدونکي وسلې څخه بېلې کړي، ترڅو د ترهګرو سازمانونو ته انتقال کړل شي یا دوی په خپله بیرته فعالې کړي.

د اټومي وسلو خوندیتوب یوه بله لاره دا هم کیداې شي، که چیرې امریکایي ځانګړي کوماندو د (Pitd) سیسټم ساتنه او مسوولیت په خپله په غاړه واخلي. بیا دوی کولي شي په پاکستان کې د کودتا یا سقوط په صورت کې د اټومي وسلو ساتنه وکړي او یا د نه کارولو وړ یې ګرځوي.

د دې امنیتي مېتوډ بېلګې یا مثالونه د سړې جګړې په دوران کې شتون درلود. کله چې امریکایي اټومي وسلې سره (Destruction Teams) د تخریب ټیمونه یا په اټومي وسلو سمبال ځواکونو د امریکا څخه بهر په نورو هیوادونو کې د اټومي وسلو زیرمې کولې په اټومي تاسیساتو کې ځای پر ځای کړي وو. د امنیتي تدابیرو له امله کله چې په کوربه هیواد کې سیاسي حالات ګډوډ کیږي یا له کنټروله وځي، دوی کولي شول خپلې اټومي سلې یو دم ویجاړې کړي.

د 2001 کال په اکتوبر میاشت کې د امریکا بهرنیوچارو وزیر کولن پاول پاکستان ته سفر وکړ. نوموړي پاکستان د اټومي وسلو په خوندي کولو کې د پراخې مرستو وړاندیز وکړ. دا امنیتي اقدامات ظاهرآ د پاکستان اټومي وسلو هراړخیز کنټرول په موخه و. مشرف دغه وړاندیز رد کړ، ځکه پاکستان د خپلو اټومي وسلو کنټرول په مکمل ډول له لاسه ورکولو. [6] څو ورځې ورسته په مطبوعاتو کې داسي راپورونه خپاره شول، چې امریکایي ځانګړي ځواکونه له اسرائیلي کماندوو سره په

[6] Vgl. David Albright, Securing Pakistan´s Nuclear Weapons Complex, Institute for Science and International Security, Washington, DC, 2001.

ګډه د پاکستان د اټومي وسلې تر خپل کنټرول لاندې راولي او په بیړني حالت کې اټومي وسلې له هیواده بهر ایستلو ته چمتووالي نیسي.

د همدې کال د نوامبر په میاشت کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر عبدالستار اعلان وکړ، چې د امریکایانو وړاندېز ومنل شو. له دې ورسته پاکستاني کارپوهان د امریکا لخوا په کار اچول شویو امنیتي اقداماتو باندې خبر کړل شول. دغه بیان واضع ښیي، چې امریکا ته د پاکستان د اټومي وسلو د امنیتي اقداماتو په اړه پوره واک او اختیار ورکړل شوی دی.

لږ موده ورسته د بهرنیو چارو وزیر عبدالستار یو بل بیان ولوست، په دې بیان کې ویل شوي و، چې د پاکستان اټومي وسلې د (foolproof custodial control) د بې خطره کنټرول لاندې راوستلې شوي دي، پرته له دې چې په دې بیان کې مشخص کړي، چې د پاکستان د اټومي سلو ساتونکي څوک دي.[7] د دغو کلماتو انتخاب هم په سیمه کې یو شور جوړ کړ او توده بحثونه یې راوپارول، دا بیان داسې تعبیر شو، چې ګواکې امریکا د پاکستان اټومي وسلو ته لاسرسې موندلې دی.[8]

د اټومي وسلو خوندي کولو لوړه بیه

دا سمه مالومه نه ده، چې پاکستان په ریښتیا سره د خپلو اټومي وسلو کنټرول په بشپړه توګه امریکایانو ته ورپریښی دی. په هر صورت خو د پاکستان اټومي وسلو ته د امریکایانو لاسرسی ظاهراُ ډېر پراخ دی. هغه څه چې د پاموړ دي، د امریکایي حکومتونه دې مهمې موضوع ته په خورا ارامښت، پرته له کوم تشویشه تماشا او نظر کوي. که څه هم دا پوښتنه د 2001 کال ترپایه پورې واشنګټن لپاره خورا لوړ لومړیتوب درلود. خو په اوس وخت کې د پاکستاني حکومتي چارواکو د اټومي چاودنو او ازمایښتونو له هغو سره سره په دې اړه ډېر لږ بحثونه کیږي.

د 2004 کال د جنوری په میاشت کې د یوه خبري کنفرانس په ترڅ کې ولسمشر بوش دا پوښتنه رد کړه. چې ایا د پاکستان اټومي وسلې امنیت خوندي دی، ولسمشر بوش یوازې د (هو) په ویلو سره موضوع بدله کړه. همدارنګه له دې ورسته د هند حکومتي چارواکو هم د پاکستان د اټومي کرکیچ د ثبات په اړه خپله خوشبیني هم څرګنده کړې ده.

واشنګټن په ښکاره توګه خپل هدف د ګواښونو، د ځینو مرستو او ملاحظاتو له لیارې ترلاسه کړي دی. په هر صورت بیه یې لوړه پرې کړې ده. پاکستان له امریکا څخه درې میلیارده ډالر اقتصادي مرستې ترلاسه کوي.

په 2004 کال کې د جولای په میاشت کې امریکې کنګرس 700 میلیونه ډالر تصویب کړل. په دې ورستیو کلونو کې پاکستان له یوه ممنوع شوي او منظوې شوي دولت څخه د امریکا یو متحد دولت په توګه په سیمه کې راپورته شوی دی. له دې امله امریکایان د پاکستان ډیکتاتوري ظالم رژیم طبیعت او په سیمه کې ترهګرېزو کړنو ته پام نه کوي او د بحث وړ ورته نه ښکاري. واشنګټن د مالي مرستو سربیره سیاسي ژمنې هم ورسره کړي دي. د متحده ایالاتو څخه یې داډ ترلاسه کړي، چې د خپل اټومي پیاوړي ګاونډي او اصلي دښمن هند هڅه ونه کړي، څو د پاکستان د اټومي ځواک کمزورتیا څخه ګټه پورته کړي.

په نهایت کې د پاکستان په اټومي وسلو سیکتور کې د امریکا مداخلت او ښکیلتیا د نړیوالو قوانینو له مخې مشکوکه ده او د نافذه قوانینو خلاف ده او دا اړیکې د اټومي وسلو د نه خپریدولو تړون (NVV) په رڼا کې د پوښتنې وړه دي.

په هرصورت امریکا دا لوړه بیه په یوه خورا حساسه او بې ثباته سیمه کې د خپلې ملي ګټې لپاره د یوه بې ثباته او سقوط ته ورروان ظالم پاکستاني رژیم د اټومي وسلو پوټنسیل خوندي کولو لپاره بېهوده هڅې ترسره کوي.

پاکستان مېزایل او توغندي لري، خو سړي نه لري، د مېزایلو نومونه یې زموږ د ویاړلي تاریخ د سړیو پرې ایښې دي.

پای

[7] Vgl. Ramindar singh, Covering September 11 and its Consequences, Joan Shorenstein Center

[8] Vgl. Are Pakistans Nuclear Weapons Now Under US Control?, in: The Hindustan Times, 30.09.2002

# تاریخچه کوتاهی از مقاومت بلوچ و افزایش اخیر تصادمات مسلحانه در ولایت بلوچستان پاکستان




Baluch Women demonstrate on the anniversary of Pakistan invasion of Baluchistan




Baluch Protesters declare Baluchistan is not Pakistan

نویسنده: احمد فواد ارسلا

در هفته‌های اخیر، پاکستان شاهد یکی از وسیع‌ترین و هماهنگ‌ترین موج‌های حملات شورشیان بلوچ در سال‌های اخیر بوده است. این حملات که با دقت زیادی پلان شده بودند، تهداب‌های کلیدی، ماموریت‌های پلیس و مسیرهای حمل‌ونقل را هدف قرار دادند، از جمله تخریب یک پل خط ریل که باعث مختل شدن ترافیک به سمت کویته، مرکز ولایت بلوچستان، شد. این تشدید اخیر، توجهات جدیدی را به شورشی که دهه‌ها در بزرگ‌ترین و غنی‌ترین ولایت پاکستان ادامه داشته، جلب کرده است. مقاومت بلوچ که ریشه در نارضایتی‌های تاریخی دارد، همچنان مشکل بزرگی برای دولت پاکستان به همراه دارد.

## زمینه تاریخی: ریشه‌های شورش بلوچ

تاریخ پیچیده بلوچستان نشان می‌دهد که این منطقه زمانی در آستانه استقلال بوده است. هنگامی که پاکستان و هند در اگست ۱۹۴۷ استقلال خود را جشن گرفتند، مردم بلوچ درباره آینده خود دچار تردید شدند. با اینکه بلوچستان دوره کوتاهی از خودمختاری را تجربه کرد که ۲۲۷ روز طول کشید، این آزادی کوتاه‌مدت به دلیل مانورهای بریتانیا و اقدامات محمد علی جناح، بنیانگذار پاکستان، به پایان رسید. در زمان تقسیم هند، بلوچستان به چهار ایالت شاهزاده‌نشین تقسیم شده بود: کلات، خاران، لاس‌بلا و مکران. این ایالت‌ها سه انتخاب داشتند: ادغام با هند، پیوستن به پاکستان یا حفظ استقلال. در حالی که خاران، لاس‌بلا و مکران تحت فشار پاکستان و بریتانیا تصمیم به پیوستن به پاکستان گرفتند، کلات استقلال را انتخاب کرد، تصمیمی که جناح در جلسه‌ای در اگست ۱۹۴۷ در دهلی از

آن حمایت کرد. در ۱۱ اگست ۱۹۴۷، کلات و مسلم لیگ پیمانی امضا کردند که استقلال کلات را به رسمیت می‌شناخت. با این حال، این دوره کوتاه آزادی به‌وسیله تغییرات قدرت تحت‌الشعاع قرار گرفت.

## نقش جناح و الحاق اجباری کلات

خان کلات، میر احمد یار خان، معتقد بود که مناطقی که در اواخر قرن نوزدهم توسط بریتانیا تصرف شده بودند، به او بازگردانده خواهند شد. با اینکه ابتدا استقلال کلات به رسمیت شناخته شده بود، بریتانیا در سپتامبر ۱۹۴۷ یادداشتی صادر کرد که در آن اعلام شد کلات قادر به مدیریت مسئولیت‌های یک دولت مستقل نیست. این امر مستقیماً به نفع رهبران پاکستان بود. در مارچ ۱۹۴۸، تحت فشار شدید جناح و ارتش پاکستان، کلات به‌طور اجباری به پاکستان الحاق شد. با وجود تلاش‌های خان برای کسب حمایت از رهبران منطقه‌ای و قدرت‌های بین‌المللی مانند هند و افغانستان، او منزوی شد. اردوی پاکستان سرانجام وارد مناطق کلیدی بلوچستان شد و در ۲۷ مارچ ۱۹۴۸، کلات رسماً با پاکستان ادغام شد. خان کلات، با وجود تردید، این الحاق را پذیرفت، تصمیمی که او بعدها آن را "دیکته تاریخ" توصیف کرد.

## شورش‌های اولیه: مقاومت و سرکوب

الحاق اجباری کلات باعث خشم بلوچ‌ها شد که آن را نقض حاکمیت و هویت فرهنگی خود می‌دانستند. در سال ۱۹۴۸، شاهزاده عبدالکریم، برادر خان کلات، اولین شورش را علیه دولت پاکستان رهبری کرد. اگرچه این قیام اولیه به‌سرعت سرکوب شد، اما زمینه را برای مقاومت‌های آینده فراهم کرد. در دهه‌های ۱۹۵۰، ۱۹٦۰ و ۱۹۷۰، شورشیان بلوچ بارها علیه حکومت پاکستان قیام کردند. هر یک از این شورش‌ها با عکس العمل شدید نظامی مواجه شد و در نهایت سرکوب گردید. با اینکه دولت پاکستان تلاش‌هایی برای آشتی با ملی‌گرایان بلوچ از طریق پیشنهاد خودمختاری بیشتر و مزایای اقتصادی انجام داد، این اقدامات به‌طور عمده بی‌اخلاص و ناکافی تلقی شدند.

مقاومت در سال ۲۰۰۵ بعد از آنکه نواب اکبر خان بگتی، رهبر برجسته بلوچ و والی پیشین بلوچستان، دست به اسلحه برد، ابعاد جدیدی یافت. خواسته‌های بگتی بر افزایش کنترل بر منابع طبیعی بلوچستان متمرکز بود. ترور او در سال ۲۰۰٦، که گفته می‌شود به دستور پرویز مشرف، حاکم نظامی وقت، انجام شد، باعث تشدید اختلافت شد و به دوره‌ای از تصادمات شدیدتر منجر گردید.

## تشدید اخیر: موج جدیدی از حملات

آخرین موج حملات شورشیان نشان‌دهنده تشدید قابل توجهی در جنبش مقاومت بلوچ است. شورشیان قومی بلوچ، از جملهاردوی آزادی‌بخش بلوچستان (BLA) و سایر جناح‌های ملی‌گرا، مجموعه‌ای از حملات هماهنگ را علیه ماموریت‌های پلیس، مسیرهای حمل‌ونقل و تهداب‌های حیاتی انجام داده‌اند. یکی از برجسته‌ترین حوادث شامل خرابکاری در یک پل خط ریل بود که ترافیک ریل به سمت کویته را متوقف کرد و به شدت ارتباطات منطقه را مختل کرد. این حملات از گسترده‌ترین حملات در سال‌های اخیر به شمار می‌آیند و نشان‌دهنده احیای مجدد جنبش ملی‌گرای بلوچ است. گروه‌های شورشی همچنان خواستار خودمختاری بیشتر یا استقلال کامل هستند و از دهه‌ها غفلت دولت، سرکوب نظامی و بهره‌برداری از منابع بلوچستان به عنوان نارضایتی‌های اصلی خود یاد می‌کنند.

## اهمیت استراتژیک بلوچستان: عواقب منطقه‌ای و جهانی

اهمیت بلوچستان وسیعتر از تصادمات داخلی آن است. این ولایت از نظرجیوپولیتیکی و اقتصادی ارزش زیادی دارد، بخصوص به دلیل نقش آن در دهلیز اقتصادی چین و

پاکستان(CPEC) ، که یکی از پایه‌های اصلی ابتکار کمربند و جاده چین است. پروژه‌هایCPEC، از جمله توسعه بندر آب‌عمیق گوادر، به منظور افزایش دسترسی چین به دریای عرب و منطقه وسیع‌تر اقیانوس هند طراحی شده‌اند.

با این حال، این پروژه‌ها اختلافات و تصادمات میان شورشیان بلوچ و دولت پاکستان را تشدید کرده‌اند. بسیاری از بلوچ‌های محلی خود را از مزایای اقتصادی CPEC و سایر طرح‌های انکشافی محروم می‌بینند، در حالی که حضور گسترده نیروهای نظامی برای حفاظت از سرمایه‌گذاری‌های چینی، خشم محلی را عمیق‌تر کرده است. حملات شورشیان به پرسنل و اموال چینی به‌طور فزاینده‌ای رایج شده است و بُعدی بین‌المللی به این درگیری افزوده است.

## نتیجه‌گیری

شورش بلوچ که ریشه در دهه‌ها نارضایتی تاریخی و اختلافات سرزمینی دارد، همچنان یکی از مشکلات پایدار برای پاکستان باقی مانده است. با وجود تلاش‌های دوره‌ای برای آشتی، موج اخیر خشونت‌ها نشان‌دهنده ماهیت مستمر مقاومت بلوچ است. با توجه به عواملی چون نفوذ فزاینده چین در منطقه که اوضاع را پیچیده‌تر می‌کند، یافتن راه‌حلی مسالمت‌آمیز برای این درگیری طولانی‌مدت همچنان دست‌نیافتنی به نظر می‌رسد. مبارزه برای حاکمیت و به‌رسمیت‌شناخته‌شدن توسط مردم بلوچ همچنان ادامه دارد و آینده این منطقه در هاله‌ای از ابهام باقی مانده است.


**د دعوت رسنيز مرکز ملاتړي شئ!**

زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي یا لویه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پیاوړی او راتلونکی مو ژغوري. له دعوت رسنيز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امریکايي ډالر یا یورو مرسته وکړئ - دا یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. که تاسو کولی شئ، د مهرباني له مخې مو زموږ سره هره میاشت په منظم ډول ټاکلي اندازه مرسته وکړئ .له تاسو مخکي له مخکې مننه!

AC# 0530 2294668 BIC (SWIFT-addressee): DNBANOKKXXX
A/C for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

**به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!**

زمان حمایت ما همین اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و یا کوچک، مطبوعات ما را تقویت و از آینده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/یورو حمایت کنید - فقط یک دقیقه طول می کشد. اگر می توانید، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنید . تشکر.

AC# 0530 2294668 BIC (SWIFT-addressee): DNBANOKKXXX
A/C for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

**Support Dawat Media Center**

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

AC# 0530 2294668 BIC (SWIFT-addressee): DNBANOKKXXX
A/C for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320


إنا لله وإنا إليه راجعون
ملي اتل او ملي شهيد
ګیله من وزیر




VOA

استاد ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی د دعوت سره مرکه کې:

# د ګیله من وزیر ترور او په پښتونستان کې د سوله ایز ملي انقلاب پیل



**دعوت: ګیله من وزیر څوک و ؟**

ځواب : ګیله من وزیر د شمالي وزیرستان د اسد خیلو اوسیدونکی په پښتونستان کې د مدني حقونو پیژندل شوی مدافع، مخکښ فعال او د پي ټي ام (پښتون ژغورنې غورځنګ ) د مرکزي شورا غړی و .

ګیله من وزیر په ټولنیزو رسنیو، غونډو او پرلتونو کې د پاکستان حکومت او پوځ پر امنیتي تګلارو ښکاره او کلکې نیوکې کولې او ځان یې ښې وسلې مبارز ګاڼه .

نوموړي په ۲۰۲۴ م کال کې نژدې اته میاشتې د ډیرو سختیو او شکنجو پر زغملو د پاکستاني امنیتي ادارو په زندان کې تیرې کړې .

ګیله من وزیر په افغانستان مین و، د افغانستان ملي بیرغ ته یې د تقدس تر کچې درناوی درلود او په پوره جرئت او متانت یې په مظاهرو، پرلتونو او غونډو کې کارول. دا هر څه په دې مانا و چې استعماري دسیسې د تاریخي افغانستان هویت حذفولي نشي.

ګیله من د شعر ویلو قریحه درلوده او تل یې پخپلو حماسي شعرونو کې د امنیتي ادارو له خوا د لا درکه او وژل شویو پښتنو د داعیې اوچتول، ولسي شعور را ویښول، د ښکیلاکګرو اصلي څیره خپلو خلکو ته ښودل، د آزادۍ اهمیت او نور ټولنیز مسایل را نغښتل.

**دعوت : د ګیله من وزیر په ترور کې به د چا لاس وي؟**

ځواب : د لاندې دلایلو پر بنسټ د ګیله من وزیر د وژلو تور د پاکستان پر استخباراتو لګول کیږي :

۱ -ګیله من د پاکستان پوځ او حکومت پر خلاف د فعالیت دوسیه لرله، اته میاشتې یې په زندان کې تیرې کړې، خو د زندان سزا د هغه په دښمنۍ کې نه یوازې کموالې را نشو وړلای، بلکې د هغه د دښمنۍ لمبو ته یې لا زیاته لمن و وهله .

نو ځکه د هغه ترور د پاکستاني استخباراتو په اجندا کې ځای و نیوه.

۲ -د پیښې څخه د څو اونیو په تیریدو هم، د پاکستان پولیسو نه غوښتل څیړنې پیل کړي. د پي ټي ام مشر، منظور پښتین پر پولیسو د پیښې په تړاو د نه اقدام په خاطر نیوکه وکړه. د اسلام آباد پولیسو په درواغو ویل د هغه د قتل دوسیه یې پرانیستې او پلټنې رواني دي خو د پنځو میاشتو پر تیریدو، پایله یې نامالومه پاته ده.

۳ -ګیله من وزیر په خپلو شعرونو او ویناووکې پوځ ته په خطاب کې پر حساسیت پاروونکو موضوعاتو لکه په پښتونستان کې د پوځ او آی، اس، آی په جنایتونو او د افغانانو په یووالي خبرې کولې. هغه په پوره میړانه د افغانستان ملی بیرغ د لر او بر پښتنو د یووالي د سمبول په توګه اوچت ساتلې و.

۴ -د پاکستان پوځ او آي ، اس ، آی د خپلو مخالفینو د ترور ناوړه سابقه لري : عارف وزیر، نقیب الله مسید ، عثمان کاکړ، ارمان لونی او د بلوچو آزادي غوښتونکو مشرانو لا درکه کیدل او وژل، د دولتي تروریزم نښه ده چې پاکستاني واکمنان یې د خپلو مخالفینو د ځپلو په پار د سیاسي کړنلارې په توګه کاروي .

**دعوت : د ګیله من وزیر وژنه به په پاکستان کې کوم سیاسي عواقب ولري؟**

ځواب: د ګیله من وزیر ترور او ورسره په تړاو کې د ولس انقلابي پاڅون د دوه دلایلو پر بنسټ د پاکستان د تو ټه کیدو نښې په ګوته کوي:

لومړی: پاکستان د پردیو په لاس جوړ شوې مصنوعي هیواد دي چې د خپل تاسیس څخه تر اوسه د پوځ په قوت ساتل شوی نه د افغانستان پخیر د خلکو په ملاتړ او زور .

نڼ په پښتونخوا او بلوچستانکې د پوځ اتوریته د ملیونو ګیله من وزیرانو له طرفه تر سوال لاندې راوستل شوی .

دویم: سربیره پر دې پاکستان په ژیوپولیتیکو لوبو کې د خپل شته والي منطق له لاسه ورکړیده. پاکستان د انګریزانو ( لویدیزوالو ) له خوا د سړې جګړې او دوه قطبي نړۍ د تقابل په چاپیریال کې د مذهب پر بنسټ جوړ شو، تر څو د هندوستان پر لور د کمونیزم د پرمختګ مخه ونیسي او په سیمه کې د لویدیز د ګټو ساتنه وکړي .

خو اوسمهال پوځ له یوې خوا په پښتونخوا کې د ۵۰ ملیونه پښتنو د حق غوښتونکې سوله ایزې مقابلې سره مخ شوی چې پر ضد یې د پوځي ځواک د کارولو څخه عاجز دی او له بلې خوا د خپلو جغرافیایی مهندسینو ( لویدیزوال ) د نفوذو د حوزې څخه د سیمې هیوادونو په ګټه د وتلو په درشل کې قرار لري. دغې پروسې د لویدیزوالو غصه راپارولې.

د پاکستان اقتصادي حالت مخ په خرابیدو دی. د یوې محتاطې احصائیې پر بنسټ د پاکستان د پور کچه د تیرو لسو کلونو په موده کې د ٦ زره میلونه ډالرو ( ٦ میلیارده ډالر ) څخه ۳۰ میلیارده ډالرو ته پورته شوې.

**دعوت: د ګیله من وزیر شهادت او د هغه نه وروسته د خلکو بیسارۍ عدالت غوښتنه د افغانستان پر اوضاعو څه اغیز لرلای شي؟**

ځواب : په ۲۰۱۸ م کال کې د پاکستان د پولیسو له خوا د نقیب الله مسید د وژل کیدو څخه وروسته په ډیره اسماعیلخان کې د ۲۰ کسانو په ګډون د پښتون ژغورنې «خود جوش» غورځنګ بنسټ کیښودل شو. وروسته د مظاهراتو او پرلتونو په ترځ کې په ملیونو

پښتنو خپل پیوستون د پي، ټي، ام سره اعلام کړ. نن پي، ټي ، ام د یوه پیاوړي قومي او ملي هویت پر بنسټ، د افغانانو ملي غوښتنې تمثیلوي.

د اکتوبر په ۱۱ نیته ( ۲۰۲۴ م ) په جوړه شوې لویه جرګې کې د خلکو پراخ او بیساري ګډون، وښودله چې په پښتونستان کې د یو آرام او سوله ایزه ملی انقلاب پوتانسیال مخ پر زیاتیدو دی .

داسې مالومیږي پاکستان د پښتنو دهضم په مقصد خپله وړتیا له لاسه ورکړې . د ګیله من وزیر د شهادت څخه وروسته د پښتونستان د خلکو انقلابي پاڅون د لر او بر پښتنو د یووالي زیری ورکوي.

خو؛ د بده مرغه، افغانستان په مطلقه ډیپلوماتیکه انزوا کې قرار لري او په هیواد کې داسې منل شوي واکمني نلرو چې د ذیعلاقه هیوادونو سره په تعامل د اوضاعو څخه ګټه پورته کړي. موږ ته طلایی فرصت برابر شوی چې د ډیورنډ د مصنوعي کرښې حذف د ذینفعو هیوادونو په ژیوپولتیک اجندا کې شامل کړو. خو د افغانستان اوسنی حکومت دا وړتیا نلري چې د هیواد په ګټه شته حالاتو ته پام واړوي.

نړۍ ویره لري مبادا د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د فتواګانو مخه د ډیورنډ کرښې هغې خوا ته وغځول شي، مکتبونه د جینکیو پر مخ وتړل شي او د ښځو پر حقونو محدودیتونه ولګول شي!

په لنډه توګه، د ګیله من وزیر ترور د پښتنو د ویښتیا انګیزه شوه. په پښتونستان کې د پنجاب د استعماري هژموني په وړاندې بالقوه مخالفتونه پر بالفعل دښمنۍ بدل شوه. خو افغانستان لا هم د ښځو د آواز د عورت توب او نه عورت توب په طلسم کې راګیر دی.



# مرگ پرشکوه گیله من وزیر!



کاندید اکادمیسین سیستانی

در جهان نتوان اگر مردانه زیست
همچو مردان میتوان مردانه مرد

مرگ گیله من وزیر چنان پرشکوه بود و خیره کننده بود که نظیر آنرا در منطقه بجز مرگ گاندی فقید نمیتوان سراغ داد. گیله من وزیر،شاعرحماسه سرای پشتونستان، در اوج جوانی (27 سالگی) مرگ را بر زندگی در زیر چکمه های استبداد رژیم خون آشام پاکستان ترجیح داد و جام شهادت



نوشید.

(ان لله وانا الیه راجعون)

## گیله من خود را فدای لوی افغانستان نمود

گیله من وزیر عضو جوان جنبش ملی تحفظ پشتون روز ۱۲ جولای۲۰۲۴ براثر سوء قصد گروهی از آدم کشان موظف شده از سوی سازمان جهنمی ISI در بیمارستانی در اسلام آباد درگذشت. و تخمین 60 میلون پشتون در پاکستان و افغانستان و سراسر جهان بخاطر از دست دادن این فرزند دلیر و نترس پشتون در گلیم غمشریکی و ماتم نشستند.

گیله من وزیر شاعر دلیر وشجاعی بود، شاعر آتش نفس و أتشین کلامی بود که روح اتحاد وهمبستگی و آزادی خواهی را در جوانان پشتون میدمانید. شاعری بود که به افغانستان عشق می ورزید وبه آرزوی رسیدن دوباره افغانستان به مرز تاریخی اتک شعرمی سرود و با صراحت و شجاعت این پیام را بگوش سردمداران پنجاب میرسانید که او از بند وزندان نمی هراسد و تا مرز افغانستان را در اتک نبیند دست از مبارزه نخواهد گرفت. اما افسوس وصدافسوس که این جوان پرشور و پرجاذبه در تاریخ 12 جولای در اسلام آباد در شفاخانه ای درگذشت و سراسر جامعه پشتون را در غم و اندوه خود بماتم نشاند. این ضایعه عظیم را به جامعه پشتون ،به مادر وخانم گیله من و به منظورپشتین رهبر جنبش تحفظ پشتون تسلیت میگویم.

تا جایی که من در این چند روز اخیر از شعر و سخنان گیله من در میدیای مجازی دریافته ام، او شاعر شجاع و دلیری بود که تمام حوادث ماحول خود را، تمام بد رفتاری های پولیس ونیروهای امنیتی پاکستان را با مردم پشتون بزبان شعر بیان میکرد و از ظلم و ستم پولیس پاکستان بر مردم محروم پشتون در پاکستان چنان صاف و روان سخن میزد که شنونده را مجذوب کلام خود میکرد . در تظاهرات و میتنگهای که برضد استبداد و استکبار نیروهای انتظامی پاکستان برگزار میشد وصدها هزاراز نفر از مردم قبایلی در آن شرکت می جستند، وقتی گیله من لب به سخن می گشود ده ها هزار مردم حاضر در میتنگ سراپا خاموش میشدند و به سخنان او گوش میدادند. گیله من سرشاراز غرور پشتونولی چنان پراحساس و پرشور صحبت میکرد که در هر بند شعرش مردم کف میزدند و با ابراز شور و ولوله او را تشویق به دوباره خواندن شعرش مینمودند و او با صدای رساتر و سیمای بشاشتر شعرش را

دوباره میخواند و احساسات مردم را بشور و هیجان می آورد و خشم مردم را نسبت به سیاست تبعیض آمیز دولت پاکستان بر می انگیخت.

شعر گیله من فریاد 50 میلیون پشتون محروم ازکمترین وسایل رفاه اجتماعی و حتی محروم از تعلیم و تحصیل بزبان مادری خود است. شعر گیله من شعر قیام بر ضد استبداد وستم حاکمان پنجابی بر قبایل پشتون است. شعر گیله من شعر اتحاد و همبستگی افغانها برای رهایی از ستم حاکمان پنجابی و رسیدن افغانستان به سرحد اتک است. شعر گیله من وزیر توده ها ی میلیونی پشتون را به شور وهیجان ووجد می آورد. گیله من شاعرآتشبن نفس بود وتاثیر کلام او را از روی ویدیو کلیپ های او میتوان دید و احساس کرد. گیله من بخاطر زبان آتشین خود و توانایی ایجاد شور وهیجان در مردم قبایل پشتون سه بار از سوی سازمان جاسوسی پاکستان زندانی شده و با انواع شکنجه ها اورا از گفتن شعر و صحبت برضد حکومت پاکستان برحذر کرده بودند. اما این شکنجه ها و لت وکوبها و برق دادنهای مرگ آلود بجای اینکه گیله من را بترساند و مانع شعر گفتن و سخنرانی هایش در گرد هم آئی های (PMT) گردد او را بیشتر از پیشتر در مبارزه با استبداد و استعمار پنجاب و داعیه افغانستان بزرگ تا مرز اتک مصمم تر می ساخت. بقول ملک الشعرا بهار:

پایداری و استقامت میخ سزد ارعبرت بشر گردد

برسرش هرچه بیشتر کوبند، استواریش بیشتر گردد

گیله من بعد از هر دور زندانی شدن و شکنجه دیدن، پایدارتر و سرسخت از دور قبلی در برابر رژیم استبداد و ترور پاکستان مقاوم تر میشد و بیشتر به افشایگری می پرداخت. قتل نامردانه این فرزند شجاع افغان که ترس را نمی شناخت و برای بیداری وهمبستگی افغانها سینه اش را سپر ساخته بود، به ناگاه سبب بیداری و هم بستگی غیرقابل تصور دستگاه جاسوسی پاکستان گردید. هیچگاهی پشتونها در دوسوی خط دیورند و در سراسر جهان تا این حد بهم نزدیک نشده بودند که مرگ گیله من وزیر آنها را بهم متحد و نزدیک ساخت. تا آنجا که میتوان گفت : حداقل از۴۰ تا ۶۰ ملیون پشتون را در دو سوی خط دیورند در پاکستان وافغانستان و



سراسرجهان به همدری واداشت وبماتم نشاند و حداقل دومیلیون نفر در روز دفن او درقریه اسدخیل وزیرستان حضوریافتند. درتمام کشورهای بزرگ جهان نمازجناره غیابی گیله من بجا آورده شد .چنین بزرگداشتی از مرگ یک شاعرحماسه پرداز زندان و شکتجه دیده را تاریخ جهان بعداز مرگ گاندی به یاد ندارد. مرگ گیله من پر شکوه ترین مرگ یک شاعرانقلابی بود.

نکته مهم در شعر گیله من اینست که او خود را هیچگاهی پاکستانی نمی شمردوبه همین خاطر با وجود تمام مشکلاتی که بدلیل نداشتن پاسپورت تابعیت با آن روبرو بود ولی تا اخرعمرپاسپورت پاکستانی نگرفت درحالی که پاسافغانی هم نداشت، واین ذهنیت را همواره در روح وروان فرزندان پشتون می دمانیدکه شما افغان هستید و در جای که زندگی میکنید خاک افغانستان تا پل اتک سرزمین تاریخی افغانستان است. گیله من براین موضع گیری اش چنان مصمم واستوار بود که اگر احیاناً به او اجازه داده میشد تا دست به قیام مسلحانه بزند، او با تدویر یک میتنگ میتوانست صد هزار جوان جنگجوی رامسلح از عقب خود بکشد. با چنین محبوبیتی بود که استخبارات نظامی پاکستان او را از سر راه خود پس کرد.

من به محبوبیت وقدرت کلام و نبوغ شاعری گیله من وزیر در میان جوانان پشتون زمانی پی بردم که دیدم روز 11 ماه جولای فضای رسانه های مجازی را عکسها و سخنرانی ها

و مصاحبه های گیله من پرساخته است. از رسانه های چون فیسبوم و یوتیوب و تیک تاک و بی بی سی و صدای امریکا دریافتم که براثر سوء قصد گروهی ازآدم کشان او در بستر بیماری افتاده و یاران باوفای (پی ام تی) در تلاش انتقال او به یکی از کشورهای اروپائی بودند و لحظه بلحظه اطلاع رسانی میکردند که کارگرفتن ویزای تداوی او را در کشور انگلستان حاصل کرده و طیاره انتقال او را به مبلغ 92 هزار پوند نیز کرایه کرده بودند ولی هنگام انتقال از بیمارستان پولیس اجازه انتقال مریض را ندادند، و ساعتی بعد درگذشت. بگفتهٔ داکتران معالج ضربه بر سر مریض چنان شدید بوده که فقط یک فیصد امید زندگی مریض باقی بود و اگر زنده هم میماند ممکن بود دوست و دشمن را از هم فرق کرده نمیتوانست.

برای قدردانی از این جوان آزادیخواه و استقلال طلب چون ساختن مجسمهٔ او (بحیث سمبول شجاعت و از خود گذری جامعه پشتون) وگذاشتن دریک مکان مشخص درشرایط کنونی ناممکن است، پیشنهاد میکنم تا یک مینار یادگار بنام گیله من وزیردریکی از محل گردهم آئی جنبش تحفظ پشتونها بنا گردد.

روح گیله من وزیرشادباد/برای شناخت بیشتر این شاعر جوان و نابغه شجاعت و دلاوری یکی از ویدیو کلیپ های ذیل را باز کنید:

https://www.facebook.com/share/v/zoqUxWwF1Fjhdypn/?mibextid=UalRPS

htttps://www.facebook.com/share/r/48SkMgY4DNEX2g6H/?mibextid=UalRPS

https://www.facebook.com/share/r/AGDp3mJkmUU6joWL/?mibextid=UalRPS



# ولې د شهید گیلمن وزیر شهادت لر او بر افغانان په شور راوستل؟



شاه محمود میاخیل

دا ځکه چې د هغه داعیې لپاره چې شهید گیلمن مبارزه کوله هغه داعیه ملي، حقیقي او د ولسونو غوښتنه وه او ده.

د شهید گیلمن وزیر مبارزه د افراطیت او د پاکستان استبلشمینټ په ضد وه چې د افغانانو (لر اوبر) په سیمو کې یې د څو لسیزو راپدیخوا اور بل کړی دی.

د شهید گیلمن شهادت ثابته کړله چې افغانان د افراطیت او تشدد خلاف دي. افغانان مسلمان دي خو افراطیان نه دي او نه د اجیرو افراطي ډلو حمایت کوي. افغانانو چې کوم اسلام د پیړیو راپدیخوا منلې، هغه افراطي اسلام نه و او نه دی چې ادا ځینې افراطي ډلې یې د پردیو د گټو په خاطر د اسلام نه د سیاسي اهدافو لپاره ترې سؤ استفاده کوي.

د شهید گیلمن وزیر شهادت وښودله چې افغانان په خپلو سیمو کې سوله ایز ژوند غواړي، امن غواړي او لکه د دنیا د نورو مهذبو قومونو غوندې تعلیم، ښه ژوند او سوکالي غواړي. له بده مرغه دا د پاکستان د

پوځیانو د استخباراتو په لاس جوړ شوي افراطي ډلې دي چې د افغانانو ژوند یې تباه کړیدی.

د شهید گیلمن وزیر شهادت وښودله چې اوس افغانانو (لر اوبر) خپل دښمنان پیژندلي دي او د ولس زور د خدای زور دی.

د شهید گیلمن وزیر شهادت وښودله چې د یو یا څو کسانو په وژلو، بندي کولو، ورکولو، زجر او شکنجې کولو باندې، د سیمې استخباراتو او افراطي ډلې نه شي کولې چې د افغانانو په منځ کې د ازادی او حق خود ارادیت فکر ووژني او له منځه یوسي.

د شهید گیلمن وزیر شهادت ثابته کړله چې څومره افراطي ډلې او د پاکستان استخبارات د تشدد نه کار اخلي، هماغومره د دوی په وړاندې د افغانانو کرکه او نفرت زیاتیږي، ملي احساس قوي کیږي او ګډ دښمن ته لر او بر افغانان متعهد کیږي.

د شهید گیلمن شهادت دا وښودله چې د پاکستان په لاس جوړ شوو افراطیانو که د افغانانو بیرغ په کابل کې راټیټ کړ خو دا ملي بیرغ بیا د امو نه تر اباسینه هسک شو او د میلیونونو افغانانو په زړونو کې یې ځای پیدا کړ.

د شهید گیلمن شهادت ثابته کړله که د افغانانو د مشرانو لکه د غازي امان الله خان او پاچا خان عکسونه د یو څو افراطي ملایانو له خوا په بر افغانستان کې مسخ شول خو دوی ونه کړې شول چې د افغانانو مینه د ملي شخصیتونو او ملي بیرغ سره او همداشان د خود ارادیت ملي داعیه د افغانانو د زړونو نه پاکه او مسخ کړي.



د شهيد ګيلمن وزير شهادت د افراطيانو پښې ولړزولې او د افراطيت لمن به د افغانانو په وحدت او يو ځای کيدو سره ټوليږي ځکه د هر څه نه د يو قام شعوري ويښتيا مهمه ده. د با شعوره او اګاه ملت د سيلاب په وړاندې بيا د افراطيت او استخباراتي پروژو خس و خاشاک نشي دريدلې.

د شهيد ګيلمن شهادت ثابته کړله، هغه سياسيون، شاعران، ليکوالان، او په نامه مشران او نور دوه مخي چې يوه ورځ د افراطيت ډول ته سندرې وايي او بله ورځ د قام په وير ژاړي نور د افغانانو په منځ کې ځای نه لري.

د شهيد ګيلمن شهادت ثابته کړله چې ګيلمن دوه مخې افغان نه و او په خپله مبارزه کې تر اخره ثابت پاتې شو نو ځکه يې د لر او بر افغانان په زړونو کې ځای پيدا کړ.

د شهيد ګيلمن شهادت ثابته کړله هر څوک چې د افغان قام په ګټه په ملي دريځ کې ثابت پاتې وي، هميشه به د افغانانو په زړونو کې ځای لري او د شهيد ګيلمن په شان به د تاريخ په کتابتون کې د دوی نومونه تلپاتې وي.

د شهيد ګيلمن روح دې ښاد وي او کاشکې يو ځل يې بيا سترګې راغړولې وې چې ليدلې يې وې چې د هغه ملي بيرغ او د هغه په جانان وطن، لوی افغانستان کې د دې څومره مينه وال دي.

د هغه ورځې په هيله چې د شهيد ګيلمن وزير او د ميليونونو نورو افغانانو ارمانونه د لوی افغانستان په خاوره تحقق پيدا کړي تر څو ټول افغانان سره يو شي او سوکاله، ارام او با عزته ژوند ولري.



# قتل گیله من وزیر- سوءاستفاده پاکستان از جنگ علیه ترور برای خاموش کردن صدای پشتون‌ها



Murdered Pashton Poet, social media influencer Gilaman Wazir



Pashton Waziri civilians displaced by Pakistan army operations for control of Pashto area in the name of war on terror



Pakistan Army General Asim Munir and other Pakistan Generals



نویسنده: احمد فواد ارسلا

بیشتر ناظران بر این باورند که موضع‌گیری گیلیمن وزیر، رهبر برجسته پشتون و شاعر در مورد خط دیورند و تظاهرات صلح‌آمیز در دفاع از پشتون‌ها، علت واقعی حمله خشونت‌آمیز در اسلام‌آباد پاکستان بوده که منجر به مرگ وی شد. گیلیمن وزیر که به خاطر شعرهای بلیغ و تعهد استوارش به مسئله پشتون‌ها معروف بود، نماد مقاومت صلح‌آمیز در برابر سختی‌ها بود. با تقریباً یک میلیون دنبال‌کننده در شبکه‌های اجتماعی، وی صدای بزرگی برای مقاومت صلح‌آمیز بود. او اخیرا در یک ویدیو که در شبکه‌های اجتماعی پخش شده بود گفته بود: "من این خطوط روی دست‌های خود را قبول نمی‌کنم و نیز خط روی پیشانی خود را نمی‌پذیرم، چطور از من می‌خواهید خط دیورند خیالی را قبول کنم؟ مگر من یا شما دیوانه ایم؟" مرگ نابهنگام وی سایه‌ای غم‌انگیز بر جامعه پشتون انداخته و سوالات اساسی در مورد تصاددمات جاری و استفاده از تاکتیک‌های ضدتروریسم در پاکستان مطرح کرده است.

## مبارزه پشتون‌ها برای حقوق

بخش بزرگی از مردم پشتون، یک گروه قومی که توسط فریبکاری استعماری بریتانیا با استفاده از خط خیالی دیورند تقسیم شدند و هزاران سال در منطقه زندگی کرده‌اند، مجبور شدند در پاکستان که به طور مصنوعی ایجاد شده زندگی کنند و از پشتون‌هایشان که در افغانستان زندگی می‌کنند، جدا شوند. در طول سال‌ها، پشتون‌ها در پاکستان مجبور به مبارزه برای حقوق و شناسایی خود شده‌اند که این مبارزه به اشکال مختلف انجام گرفته است و مقاومت صلح‌آمیز ستون فقرات این حرکت بوده است. جنبش تحفظ پشتون (PTM)، که در سال ۲۰۱۴ تأسیس شد، در خط مقدم این مبارزه بوده و برای حقوق بشر، عدالت و پایان دادن به قتل‌های زثر نام مبارزه با تروریزم و ناپدید شدن‌های اجباری تلاش می‌کند.

گیله من وزیر به عنوان یک چهره برجسته در این حرکت ظاهر شد و از شعر و خطابه‌های خود برای الهام‌بخشی و بسیج مردم پشتون استفاده کرد. آثار او اغلب به سختی‌های جامعه‌اش اشاره داشت و برای وحدت، مقاومت و مقاومت صلح‌آمیز در برابر ظلم مردم را به حرکت صلح آمیز دعوت میکرد. ترور گیلیمن وزیر  ضربه بزرگی به PTM و هدف گسترده‌تر پشتون‌ها وارد کرده است، زیرا محیط خطرناکی را که فعالان در آن عمل می‌کنند، برجسته می‌سازد.

## جنگ علیه تروریزم و پیامدهای آن

از اوایل دهه ۲۰۰۰، پاکستان به عنوان یک متحد حیاتی در جنگ جهانی علیه ترورفرض شده است، جنگی که عمدتاً توسط ایالات



متحده برای مبارزه با تروریسم در سراسر جهان هدایت می‌شود، و پاککستان زیر این عنوان برایی اهداف خودش ایفای نقش کرده است. این اتحاد منجر به کمک‌های نظامی و مالی قابل توجهی از سوی ایالات متحده به پاکستان شده است که هدف آن تقویت تلاش‌های ضدتروریستی در منطقه است. با این حال، عملیات نظامی پاکستان برای مقابله با تروریسم به دلیل تاکتیک‌های خشن و خسارات جانبی وارده به جمعیت غیرنظامی، بخصوص در مناطق قبایلی که بسیاری از پشتون‌ها در آن زندگی می‌کنند، به شدت مورد انتقاد قرار گرفته است.

استفاده دولت پاکستان از جنگ علیه تروریزم به عنوان بهانه‌ای برای سرکوب مخالفت‌ها و اعتراضات مسئله‌ای بحث‌برانگیز بوده است. منتقدان استدلال می‌کنند که روایت ضدتروریستی برای توجیه عملیات‌های نظامی و نقض حقوق بشر علیه اقلیت‌های قومی و فعالان سیاسی مورد سوء استفاده قرار گرفته است. PTM اقدامات دولت پاکستان را محکوم کرده به شمول عملیات اخیرعزم‌استحکام را نسل‌کشی توصیف کرده است. آنها در انتقاد از این اقدامات بسیار صریح بوده‌اند و اردوی پاکستان را به استفاده از ضدتروریسم به عنوان پوششی برای تداوم خشونت دولتی و ساکت کردن صداهای مخالف متهم کرده‌اند.

## میراث گیله من وزیر

میراث گیلیمن وزیر به عنوان یک شاعر و رهبر با روایت گسترده‌تر مقاومت پشتون‌ها در هم تنیده است. مشارکت‌های او در این حرکت محدود به توانایی‌های شاعری‌اش نبود، بلکه به نقش او به عنوان یک شخصیت وحدت‌بخش که از مقاومت غیرخشونت‌آمیز حمایت می‌کرد، نیز گسترش یافت. مرگ وزیر یادآوری تلخی از خطراتی است که کسانی که جرات می‌کنند علیه ظلم و بی‌عدالتی در پاکستان سخن بگویند، با آن مواجه هستند.

در پی ترور او، درخواست مجددی برای پاسخگویی و عدالت مطرح شده است. سازمان‌های حقوق بشری و نهادهای بین‌المللی از دولت پاکستان خواسته‌اند که یک تحقیق جامع در مورد مرگ گیلیمن وزیر  انجام دهد و به مسائل گسترده‌تر نقض حقوق بشر در کشور بپردازد. جامعه پشتون، که در سوگ از دست دادن یک رهبر محبوب به سر می‌برد، در تعهد خود به مقاومت صلح‌آمیز و پیگیری عدالت استوار باقی مانده است.

## نتیجه‌گیری

مرگ گیلمن وزیر لحظه‌ای احساسی در تاریخ مبارزه پشتون‌ها برای حقوق و شناخته‌شدن است. این موضوع مشکلات  مداوم اقلیت‌های قومی در پاکستان و تعامل پیچیده میان تلاش‌های ضد تروریسم و حقوق بشر را برجسته می‌کند. سوءاستفاده

پاکستان از جنگ علیه ترور برای هدف قرار دادن مناطق قبیله‌ای پشتون به بهانه عملیات ضد تروریسم منجر به نقض گسترده حقوق بشر شده است، از جمله قتل‌های فراقضایی، ناپدید شدن‌های اجباری و جابجایی بی‌شمار غیرنظامیان. این اقدامات نه تنها اعتبار تلاش‌های ضد تروریسم پاکستان را تضعیف کرده‌اند، بلکه چرخه‌ای از خشونت و سرکوب علیه مردم پشتون را نیز تداوم بخشیده‌اند.

جامعه بین‌المللی باید نقش مهمی در حمایت از عدالت و پاسخگویی در پاکستان ایفا کند. فشار دیپلماتیک و نظارت بین‌المللی می‌توانند به تضمین این که پاکستان به شکایات جامعه پشتون رسیدگی کند و تاکتیک‌های سرکوبگرانه خود را متوقف سازد، کمک کنند. جامعه بین‌المللی باید از سازمان‌های حقوق بشر و جنبش‌های مردمی مانند PTM حمایت کند، که تلاش می‌کنند تا به بی‌عدالتی‌هایی که مردم پشتون با آن‌ها مواجه هستند توجه کنند.

بدون شک میراث گیلمن وزیر نسل‌های آینده پشتون‌ها را در جستجوی صلح، عدالت و برابری الهام خواهد بخشید. زندگی و مرگ او یادآور اهمیت مقاومت مسالمت‌آمیز و استحکام روح انسانی در برابر سرکوب است. همان‌طور که جامعه پشتون در حال سوگواری از دست دادن او هستند، همچنان در تعهد خود به دستیابی به حقوق و شناخته‌شدنشان پایدار می‌مانند و به عنوان نمادی از قدرت استقامت و وحدت در مبارزه با بی‌عدالتی می‌ایستند.



# نوره مینه څنګه وي وطنه!

محمدیوسف صابر ـ ساپی

۲۰۲۴/۰۸/۰۵

ګیله من د لر او بر افغان ملت د یووالي ارمان له ځان سره خاورو ته یووړ. د واحد افغان ملت د «آن الحق» ناره چې ګیله من به د منصور په څیر په لوړه لوړه، په چیغو چیغو غږوله، اوس له هدیرې پورته کیږي، د افغان ملي بیرغ وړمې یې له قبره په ټوله پښتونخوا خپریږي.

ګیله من د دې سپیڅلي ارمان لومړنی قرباني نه دی او ښکاري وروستی به هم نه وي. د روښاني نهضت او د هغه پیروانو ایمل خان، دریا خان، خوشحال خان او د میرزاعلي خان ایپي فقیر د پلویانو له سرښندونکو مبارزو، د خدایي خدمتګارانو له جدو جهد څخه بیا د پښتون ژغورنې غورځنګ پورې، بې شمیره سرونه پدې لاره کې غورځیدلي دي. « نوره مینه څنګه وي وطنه!». د پښتنو د آزادۍ او د افغان ملت د یووالي غورځنګونو د مبارزو لړۍ یو شمیر ځانګړنې لرلې دي، چې کره کتنه ورته ښایي د اوسني ملي غورځنګ د ستراتیژیکي لارې سمون له پاره خورا ګټور تمام شي:



- کښته پښتانه د ډیرو ډیرو قربانیو، بیسارو سرښندنو او جنګي وړتیاوو سره سره، بیا هم تر دې دمه د یادونې وړ بریالیتوب ته نه دي رسیدلي. ناپیلیون نظر درلود، چې یو الجزایري جنګیالی د دریو فرانسوي عسکرو څخه هم قوی دی، اما یوه فرانسوي فرقه دریو الجزایري فرقو ته ماته ورکوي. دا خبره د پښتنو په هکله هم صدق کوي، هر پښتون د دري مغولي، انګریزي او پنجابي عسکرو څخه په جنګي قوت بر دی، اما بیا هم محکوم دي، ولې؟ ځکه چې انسجام نه لري.

- مغولي، بریتانوي او پنجابي استعمار عام ولس د ښوونې او روزنې له نعمت څخه اګاهانه محروم ساتلی دئ، د همدې بیسوادۍ له کبله، عام ولس استعماري ضد جګړو کې شعوري ونډه نه، بلکې احساساتي برخه اخیستې ده. احساسات پیاوړې وسیله ده، اما په یواځې ځان د بشپړ بریالیتوب له پاره کفایت نه کوي.

- خپل منځې بې اتفاقی او تربګني په پښتنو کې عامه ده . دا بې اتفاقي د دښمن له لوري اګاهانه اچول شویده او د پښتنو په تحت الشعور کې یې ټینګ ځای نیولی دی. همدا یې د دښمن په مقابل کې ټول قوت اوبه کوي. خوشحال خټک وایي:

پښتانه به اتفاق سره ونه کا
که نه ما به د مغل ګریوان پاره کړ

- که د پښتنو د آزادی بخښونکو مبارزو لړۍ په دوو مرحلو وویشو، نو ویلی شو چې، د لومړي دور مشران یواځې په جګړه اییزه مبارزه ولاړ وو. د مغولي ناکردو په مقابل کې پیر روښان او اولادې یې، ایمل خان، دریا خان او خوشحال خان د پښتنو د جګړو مشري کړیده، میرزا علي خان ایپي فقیر د انګریزي استعمار په مقابل کې د پښتنو جګړې رهبري کوله. اما ددې ټولو بیسارو جګړو او سرښندنو سره بریالیتوب ته و نه رسیدل. د دوهم دور غورځنګ یواځې د عدم تشدد لاره غوره کړیده. خدایي خدمتګارانو او اوس هم د پښتون ژغورنې غورځنګ ستراتیژیکي کړنلاره پر سوله ییزه مبارزه باندې ولاړه ده. د بریالیتوب څرک یې لا نه لګیږي.

- د برو افغانانو هڅې کله ناکله ځینې بریالیتوبونه هم له ځان سره لري: یو ځل د میرویس نیکه په مشری، بیا د احمد شاه بابا په قیادت او بیا د امان الله خان په رهبرۍ ټاکلو بریالیتوبونو ته ورسیدل، هغه هم بشپړ دوامداره او پایداره بریالیتوبونه نه ؤ. د افغانانو یو ګډ خصوصیت دادی، چې په خپلو منځونو کې د ټولو

بې اتفاقيو سره سره، د خارجي تيريو په مقابل کې، د يو-نيم خائن او جاسوس پرته، ټول سره متفق دي او په ګډه جنګيږي. له همدې کبله د سترو قدرتونو ( برتيانوي امپراتورۍ، شوروي زبر ځواک او د امريکا نړيوال ځواک ) تيري يې په بيساري ميړانه پر شا تمبلوي دي او د امپراتوريو د هديرې لقب يې ګټلی دئ، همدا دوامداره تباه کونکي جنګونه يې د وروسته پاتې او غميزو يو اساسي علت هم دئ.

پورتنی لنډ شاليد د پښتنو او ټولو افغانانو د اوسني کړکيچن حالت صفا هنداره ده.



د دې ځغلنده کره کتنې څخه د عبرت يو شمير درسونه راويستلی شو:

١ - د لرو پښتنو مبارزه د برو افغانانو د پيوستون او ملاتړ څخه جلا کوم برياليتوب ته نه شي رسيدلی، همدارنګه د برو افغانانو جلا هڅې دوامداره او پايداره پايلې نه لري. د انګريزي منحوس ډيورنډ کرښې د يو واحد وجود ملا ماته کړيده، ترڅو د ماتې ملا علاج و نه شي، نه د وجود بر آرام موندلی شي او نه د وجود کښته روغ حالت پيدا کولی شي. د ګيله من د شهادت څخه د رامنځته شوې فضا په خير، په تير کې هم څو ځلي، د تقسيم شوي هيواد د بيرته يووالي امکانات رامنځته شويدي، اما لکه نن هم، د افغان حکومت د سازش کاريو او بې ظرفيتيو له کبله د يووالي په ځای نور هم بيلوالی راغلی دئ. د کوزې پښتونخوا د ملي ګوندونو مشرۍ هم، د پښتون ژغورنې غورځنګ پرته، د مرزانو په څير سرونه په سوريو کې ننويستلي دي او دا يې د ځان او قوم د نجات لاره ګڼلې ده!

٢- سياست د علم او فن په توګه د مبارزې ټول ډولونه په غيږ کې نيسي، يواځې په جګړو يا يواځې په سوله ييزه مبارزه سياسي کامرانی نه ترلاسه کيږي. سياست ښايي د سياسي اصولو پربنسټ، نه د باورنو يا احساساتو په بنا په مخ يووړل شي. عدم تشدد د مبارزې خورا ستره انساني کړنلاره ده، چې ريال سياست لا تر اوسه پورې دې کمال ته نه دی رسيدلی. هغه چا چې سوله ايېزه مبارزه د باور او عقيدې په توګه پکاروله ده لکه خدايي خدمتګارانو، هغوی په سياست کې د مروج تشدد په مقابل کې ماته خوړلې ده. ګاندي او نيلسن مانديلا د عدم تشدد څخه سياسي استفاده کړيده، نه عقيدوي، ځکه نو برياليتوب يې هم تر لاسه کړ. غفار خان په خپل کتاب « زما ژوند او جدو جهد» کې په خورا درد سره، په ځرګندو ټکو بيان کړې، چې په پای کې معلومه شوه، عدم تشدد زموږ باور وُ او د کانګرس سياست... عقيده او احساسات کيدای شي د سياسي مبارزو يوه پياوړې وسيله وي، اما نه يواځنۍ وسيله. د عقيدې پر بنسټ بريالی سياست مخ په وړاندې نه شی تللی، لکه خلقيانو چې د مارکسستي عقيدې ی سره سم کاوه، يا نن يې طالبان د « اسلامي عقيدې» په اساس پرمخ بيايي. دا داسې معنی لري، چې کيمياوي تعاملات د فزيکي قوانينو په بنسټ سرته ورسوي... سياست د شطرنج لوبه ده، په تيره بيا ننني جيوپوليتيک، چې په خپل ماهيت کې هماغه د کلاسيک استعمار د اومو توکو سياست دئ. د شطرنج په لوبه کې هر ځوک چې ښه سنجش کوي، زيرکانه چال سنجوي، هم هغه لوبه ګټي. تصادفي نه ده، چې برژنسکي خپل غوره اثر « د شطرنج ستره تخته» نومولی دی. د ريال پوليتيک سره سم، نړۍ د شطرنج لويه تخته ده او سياستوال يې لوبغاړي دي.

٣- د نړيوالو قوتونو، سيمه ييزو ځواکونو او د هيواد دننني نيروګانو پر تله کولو او دقيق سنجش پرته هر اقدام د ماتې سره مخامخ دی او يا د موقتي، نسبي کاميابي باعث کيږي. که په پرمختللو هيوادونو کې د نړيوالې، سيمه ييزې او هيوادنۍ اوضاع مفصل تحليل او ارزونه د ځانګړو انستيتوتونو له خوا په دقيقه توګه د ارقامو او فاکتونو په بنسټ سرته رسيږي او بيا سياستوالو ته وړاندې کيږي او بيا د همدې ارزونې او ايډياو پر بنسټ تصميمونه نيول کيږي. افغان ملي نهضت ته هم ښايي هرومرو دا

ډول یوه مرجع، د خپلو امکاناتو په چوکاټ او خپلې وسې سره برابر خلق کړي، چې په منظمه توګه د خپلو غوښتنو او هیلو په بنسټ نه، بلکې د ارقامو او فاکتونو په اساس، نړیوال قوتونه او لوبغاړي، سیمه ییز قوتونه او د څواک اندازه یې او همدارنګه دننني لوبغاړي او د قوت اندازه یې په دقیقه توګه او عیني ډول وټاکي. د نړۍ، سیمې او هیواد د عیني وضعې له اوږد مهاله دقیقې ارزونې پرته هر اقدام او نه اقدام دواړه تباه کوونکي عواقب لري. د مثال په ډول، د خلک دموکراتیک ګوند مشرۍ ته د وخت د حکومت کمزورۍ ښه څرګنده وه، د واکمنو د تیرې په مقابل کې یې مخکې له مخکې چمتووالی نیولی ؤ. د میر اکبر خیبر د ترور وروسته رامنځته شوې وضع، چې د ګیله من د ترور سره په رامنځته شوې حالاتو کې ډیر ورته والی لري، د داود خان حکومت په ګوند حمله وکړه، مشران یې ورته بندي کړل، ګوند د مخکنې چمتووالي سره په خورا آساني سره، د داود خان واکمنۍ ته د پای ټکی کیښود. اما لوبه پدې ځای پای ته ونه رسیده، بلکې لدې سره پیل شوه. د خلک دموکراتیک ګوند د نړیوالو او سیمه ییزو قوتونو سنجش په درسته او دقیقه توګه نه درلود. د خلکو دموکرتیک ګوند په شوروي اتحاد ډېره لګوله، هغه «ستر قدرت» چې په خپله یې د زوال مرحله طی کوله. دا ډول غلط سنجش، په ښکاره توګه، د ګوند او ټول ملت له پاره تراژیدي انجام ودرلود.

۴- شپ شپ ویل، چې د لر او بر زیاتره مشران یې کوي، څه ګټه نه رسوي، په زړورتیا او ښکاره د واحد ملت غږ پورته کول د هدف روښانتیا ښي. هدف چې معلوم او څرګند وي،« ټولې لارې هدف ته رسیدلي دي»، هره لاره چې غوره او طی کړې هدف ته رسیږي. د بریالیتوب له پاره د لر او بر یو ګډ نهضت، چې سیاسي، مدني، نظامي، ښکاره او پټ سازمانونه ولري، هرومرو پکار دي. ګیله من د ډیرو نورو مبارزینو په خلاف، د ملنګ جان او منصور په دود، دا ناره په بیساري زړورتیا سره په جار غږوله او د ملنګ جان او منصور په سرنوشت اخته هم شو. بخت زاده دانش هم وایي: «...د قوم د بیداري ناره په جار وکړه قربان!»

۵- هغه تعلیمي انقلاب، چې په نړیواله کچه روان دی، هرومرو ټول افغانان هم په غیږ کې رانیسي. د ولسونود تعلیم او روښانتیا په لورهر اقدام د افغان ملت د یووالي په لور چټک ګام دی. دا ملت ګډ تاریخ او ګډ برخلیک لري. په تیر کې ډیر کله کښته پښتانه د پورته پښتنو له حال او احوال څخه ناخبره ؤ، برو ولسونو سره ددې

چې د کوزو پښتنو سره یې همیشه ملنګجاني خواخوږي ښودلې، اما واکمنو کړیو، لکه ننني، د خپلو غلطو باورونو، محافظه کاریو او مجبوریتونو له کبله د کوزو پښتنو مبارزې یواځې سرنوشت ته پریښې او جفاکارانه چلند یې لرلی دی.



اوس اوس افغان محوره ملي نهضت په کوزه پښتونخوا کې خپل اوج ته رسیدلی دئ او هغه هم په ځوان نسل کې، چې دې ارمان ته د رسیدو له پاره ډیره انرژي او ډیر وخت په اختیار کې لري. برخلاف ددې، په بره کې بیا ریښتیني ملي مفکوره په هغو سازمانونو او ګوندکیو کې پاتې ده، چې غړي یې زیاتره مسنه خلک دي، دا په خپله کمزوري ده. په منسجمو تنظیمونو کې یواځې د طالبانو په تحریک کې زیاتره ځوانان دي، چې ملي روحیه په کې د اسلامي روحیې په مقابل کې فرعي ځای لري.

لدې سره، د پاکستان دولت د خورا متناقض حالت سره مخامخ دی. یوې خواته، د استخباراتي اداري په شمول، ټول پوځ د هیواد ټولواک دی، چې په خورا مرموزه توګه د انګلیس او غرب له خوا اداره کیږي، د پوځ مشران هملته روزل کیږي، آن یو شمیر یې مخامخ عیسوي او یهودي میسونران دي (لکه قمر باجوه ، چې په کلیسا کې د عبادت په حال کې د یو افغان له خوا بې آبه شو) او له هغه ځایه ټاکل کیږي، یو شمیر یې د انګریزي افسرانو د پنجابي وینځو اولاده ده. دا دومره پستي او بې رحمي هم له همدغه ځایه سرچینه اخلي. د پوځ وسلې، تخنیک او تجهیزات ټول له غربه اماده کیږي، د اتومي وسلو صلاحیت یې هم هملته

دئ. دا پوځ، د سید عالم مسعود په قول، هماغه د برتیانوي هند پنجابي اجیر رنجیمنت دی چې په عربي ملکونو کې د عثماني امپراتورۍ په ضد د جګړو له پاره جوړ شوی وُ او بیا پاکستان ته په میراث پاتې شو او د پاکستان پوځ ترې جوړ شو. بلې خوا ته، د پاکستان ملکي واکمنۍ ده، چې د شانګهای د کلوب اصلي غړی دئ، هغه کلوب چې د غرب اساسي رقیب ګرځېدلی دئ، د چین سره په اړیکو کې دومره وړاندې تللی ده، چې آن ګوادر بندر پورې یې ټولې لارې ورته په اختیار کې ورکړې دي او تر ستونې پورې یې په پورونو کې ډوبه ده. د امریکا- انګلیس او چین په نننی رقابتونو کې د پاکستان د پوځ او ملکي واکمنۍ د لورو اختلاف د پاکستان د سرنوشت اساسي تناقض جوړوي. ددې تناقض حل نه د امریکا، نه د چین او نه هم د پاکستان په اختیار کې دئ. یواځې د نړیوالو سیاسي-اقتصادي لوبو طبیعي بهیر به ددې تناقض سرنوشت ټاکي.



راځئ یوه پلا، د فرانسوي ټولنپوه ( امانوئیل ټوډ) د وړاندوینې سره سم تصور وکړو چې امریکا د خپل ټول ننداره یې نظامیګرۍ او دیپلماتیک قوت سره سره، د رواني پیړۍ تر نیمایي پورې به نور یو نړیوال ځواک نه، بلکې د امریکا په وچه کې به یو سیمه ییز قدرت وي، پدې صورت کې به د پاکستان سرنوشت او پدې کې به د پښتنو برخلیک څه ډول بڼه غوره کوي!

د متحده ایالتونو « ستر اقتصاد» نن له تولیدیت څخه خالي شویدی، ټول ځای یې په نړۍ کې د چین تولیداتو نیولی دئ. په جغرافیوي لحاظ هم، امریکا زموږ له سیمې څخه لیرې پرته ده، اما چین زموږ په سر ولاړ دئ. د همدغو خودي ټولنیزو- اقتصادي لوبو په پایله کې، امریکا لدې سیمې ورو ورو په شا کیدو ته اړ کیږي او ورسره د پاکستان تړلی پوځ هم باید خپل بار او بستر د پناه په لور وتړي.

په دا ډول نړیوالو او سیمه ییزو لوبو کې، ښایي افغان ملي نهضت د خپلې خاورې او خپلو خلکو برخلیک په خپل لاس نیولو ته شعوري مخکې له مخکې چمتووالی ونیسي.

د پښتنو د آزادۍ او یووالي د لارې اساسي خنډونو سپړنه، موندنه او بیاپې لیرې کولو له پاره مبارزه د برپالیتوب حتمي شرط دئ. ددې خنډونو په ګوته کول خورا جدي، هراړخیزې او ژورې څېړنې ته اړتیا لري، چې ښایي ټول د نظر خاوندان په کې د زړه له کومې برخه واخلي. زه خپل نظر پدې اړه شریکوم.

د پښتنو د آزادۍ او یووالي د لارې اساسي خنډونه:

1 -د پښتنو د ازادۍ او یووالي اساسي او غوره خنډونه دننني او خپل منځي دي. تر ټولو دمخه، د عام ولس خپل منځي دښمني او تربګني او همدارنګه د سیاسي ډلو ترمنځ د ملي ګټو په خلاف سلیقوي رقابتونه او محافظه کاري د پښتنو ټول قوت په اوبو لاهو کوي، د مکار دښمن سره د مقابلې توان په کې نه پاتې کیږي. تر هغه چې لومړی د سیاسي ډلو ترمنځ د ملي ګټو په سر شعوري جوړ جاری و نه شي، تر هغه به د خپلواکۍ لمر هم و نه وینې. په افغانانو کې د ملي شعور کچه، چې د ټولې خاورې او ټول مملکت په هکله، د ملي ګټو او تاوان په هکله سوچ کولای وشي، خورا ټیټه ده. افغانستان د یو دولت په څیر، همیشه په هر لحاظ خورا کمزوی وُ: داود خان د څو افسرانو په ملتیا په ظاهر شاه پاچاهي واړوله، یو موټی خلقیانو داود خان راچپه کړ... امریکایانو د څو لنډغرو په مرسته د طالبانو لومړۍ واکمنۍ په یوه شپه کې له منځه یوړه... اما افغان د یو ملت په څیر د نړۍ د خورا پیاوړو، ګوتو په شمار ملتونو په کتار کې ودریږي. دومره ستر ګوزارونه چې یواځې زموږ د سترګو په وړاندې دا ملت وخوړل، که په بل هر ملت وارد شوي وای، ښایي د ځمکې له کرې څخه به نابود شوی وای. هند په خپل هومره سترووالي سره کلاسیک استعمار ته سر ټیټ کړ. د المان ملي غرور چې ګنې آسمان په ډبرو ولي، یواځې د انګلیس، امریکا،

فرانسې او روس د ګډو ضربو لاندې دوه پړقې شو، مګر چې په خپل لوړ ملي شعور سره بېرته يووالي ته ورسېدل. يواځې افغان ملت وُ چې د برېتانيا استعماري غرور يې په خاورو ولړه، يواځې افغان ملت وُ چې ستر شوروي يې ورته په پښو کې ولويده او دا يواځې افغان ملت وُ چې د څلوېښتو دولتونو اتحاد هم ورڅخه په تېښته وتښتېدل... هر ملت د خپلو تاريخي او فرهنګي ريښو په اندازه، لکه د ونو ريښې، هماغسې پياوړی وي او په همدغو ريښو سره د توپانونو په مقابل کې مقاومت کوي. چا ويل چې افغانان فرهنګ نه لري او د زرګونو کلونو تاريخ يې هسې خبرې دي!.. د ايراني تاريخپوه ناصر پور پيرار په ستره تاريخي علمي پانګه کې وګورئ، چې افغان ملت ته يې د څومره درناوی سر ټيټ کړی دئ. د عربي اسلامي هيوادونو عادي وګړو سره د زړه خواله وکړي، چې زموږ د عصر فرعونيانو په مقابل کې د افغانانو په مقاومت څومره وياړي! افغان ملت هم د نورو ملتونو په څېر خپل تاريخ او فرهنګ لري، يواځې دومره دئ چې تاريخ يې خورا جعل شوی او فرهنګ يې نه دی څېړل شوي.



افغانان په خپله خاوره مېنان دي، خپل سرونه پرې ښندي، اما د افغانانو مشکل د ملي شعور کمبود دئ. دا ستونزه په فيوډالي نظام کې او تر زياتې اندازې په قبيلوي او قومي طرز ژوند کې نغښتې ده، څمکه وال د وطن په سطحه فکر نه شي کولی، د هغه خاوره يواځې د خپل جايداد په پولو کې محدوده ده. د استعماري ميراث په توګه راپاتې قبيلوی او قومي دښمني افغانان نه پرېږدي چې غير له جنګه په اقتصاد او نورو برخو کې هم د نړۍ نورو ملتونو سره سيال شي او همدا اقتصادي وروسته پاتې والی يې د نورو ټولو مشکلاتو مور ګرځي. د يوې مدبرې سياسي مشرۍ لاندې دا دښمنی په خورا آساني سره په سالمې سيالۍ اوښتلی شي او همدا سالمه سيالی د هيواد د ژوندانه په ټولو ساحو کې د بيساري تحرک باعث کيدلای شي.

۲- د خپلې ژبې کم بهايي د پښتنو ملي هويت ته تر دښمن هم زيات تباه کونکی تمام شويدی. په ميليونونه پښتانه په بره، کښته او هند کې خپله ژبه پرېښې ده. د بنګله ديش ازادی بخښونکی ملي غورځنګ په ابتدأ کې د خپلې ژبې ساتنې غورځنګ په څير رامنځته شو او بيا په ازادي بخښونکي غورځنګ واوښت. ملنګ جان په خپل فطري او الهامي نبوغ سره د خپل ژوند په وروستي ناتمام شعر ( د افسوس جنون) کې، د پښتنو د برخليک دوه خورا غوره او تباه کونکې ستونزې په درد او فغان سره طرحه کړيدي:

- د پښتو ژبې هيرول او پرېښودل يې ملي خيانت ګڼلی دئ، هغه پښتانه چې پښتو ژبه يې هيره کړې ده، پدې بهير کې غير ارادي شريک ګڼي. ملنګ جان وايي:

هر سړي ته چې ودريږم وی افغان يم
خاص لمسی د احمدشاه او خوشحال خان يم
د خوشحال په پښتو ژبه نه پوهيږي
بله ژبه کې طوطي غوندې غړيږي
زه دا هسې افغانيت ته حيرانيږم
حيران څه، خدايږو ژړا راځي ژړيږم
چې افغان په خپله ژبه نه پوهيږي
نم د سترګو مې شيبه شيبه بهيږي
يو غريب که خيانت وکړي زيات او کم
په جزا باندې محکوم شي هغه دم
دې ملي خيانت ته نشته د چا خيال
راته وايه دا ثواب دی که وبال

- د سياسي شيخانو له خوا د ريښتينې قرآني عقيدو په ځای، د خورا غلطو باورونو تلقين د پښتنو څخه په ژوندانه مړي جوړ کړيدي:

يو خو غرق کړو ځينو ځينو شيخ صاحبانو
وايي درې ورځې ژوندون دی عزيزانو
د دنيا کاروانه واړه دي نيمګړي
په ژوندون يې پښتنو نه جوړ کړل مړي

۳ – په کبنته پښتونخوا کې د پښتو ډرامې د ګل خان څوکیدار د رول سره سم، یو څو تنه نه، د سیاسي ګوندونو په شمول، یو ګلخاني قشر رامنځته شوی دی، د امتیازاتو په سر کې ولاړ دي او د ملي-آزادیبخښونکي مبارزې د حرکت په مخ کې د خنډ (مانع) رول لوبوي. په افغانستان کې همدې ته ورته یو بوقلمون قشر په سیاسي صحنه کې خورا فعال دئ، چې د خلورو لسیزو په بدلونونو کې همیشه د واک په لوړه کې پاتې شویدی، ملي ارمانونه ورته بشپړ پردي دي.



۴ – د پښتنو د ازادۍ او یووالي د غورځنګ په مخ کې د د دننیو خنډونو سربیره، بهرنۍ علت هم شته دئ. د پاکستان دولت، چې د اسلام په نامه د اسلام په ضد د بریتانوي استعمار راپاتې میراث دئ، د پښتنو د ازادۍ او یووالي غوره خنډ دئ. هماغسې چې پښتانه په ټول هند کې د بریتانوي استعمار په ضد د آزادیبخښونکي پاڅون محرک او د اسلامي غورځنګ سرلښکر ؤ، د پنجابي چاراوکو د سترګو خار هم هماغه پښتانه دي. د پاکستان واکمنو د انګریزانو په ادامه د پښتنو د ټکولو له پاره له ټولو وسایلو (Hard power) او (Soft power) څخه استفاده کړیده. د دولتي هدفمنده ترورونو، وژنو، زندانونو سربیره، پښتو ژبه او د پښتنو تاریخ یې په پښتونخوا کې له درسي نصابه ویستلې دي.

ددې خنډونو له منځه وړلو پرته افغان ملي نهضت قوت نه شي موندلی او بریالیتوب ته نه شي رسیدلی. د ملي مبارزې اولیتونه بنایي له همدې ځایه وټاکل شي:

- د ټول هیواد په کچه د ملي شعور وده د ملي یووالي حتمي شرط دی. ددې له پاره په ولس کې د ښوونې او روزنې عامول اساسي رول لري. د ولس د لوړ ملي شعور پرته ملي واکمنی ممکنه نه ده او د تعمیم شوي تعلیم پرته ملي شعور شتون ناممکنه دئ. نن اسلامي امارت هغه خنډونه، چې د باندینیو خود غرضو کړیو په اګاهانه لمسون، یا په خپلو غیر شعوري باورونو سره، په هیواد کې د تعلیم د عامولو په مخ کې اچوي، د هیواد ملي واکمنۍ له پاره یې تباه کونکي عواقب نه شي سنجولی. لدې سره د هیواد اقتصاد اوږدمهاله د ګاونډیو سره له سیالۍ څخه لویږي، ځکه اقتصاد ډیرو کدرونو ته اړتیا لري. د هیواد روښان آندو ته پکار ده، چې دې نتیجې ته ورسیږي، چې نور د یو سیاسي شخصیت، سیاسي سازمان یا واکمنانو د بشپړ ملاتړ یا بشپړ مخالفت څخه لاس واخلي. ددې په ځای بنایي د هغو ټاکلی عمل په ملاتړ یا مخالفت ودریږي. په هیواد کې د سیاسي چلند دود همدا دئ، چې یا بشپړ ملاتړ دئ یا بشپړ مخالفت. دا د واکمنانو د سردرګمي او د هیواد په کچه د سیاسي بې ثباتی باعث کیږي.
- د ملي ژبې پراختیا او عوامول د ملي هویت غوره زمینه ده. که پښتنو په خپله «د مړې خیتې پاړسي» ته مخه نه وای کړې، داسې هر کس او ناکس به هم زموږ ویاړلی افغاني ملي هویت ته د سپکاوي جرئت نه وای کړئ! پښتو یواځې ژبه نه ده، په هغه کې زموږ ټوله فرهنګي شتمنۍ پرته ده، دومره بډایه شتمنۍ، دومره ژورې معنوي ریښې لري، چې پردیو ته لا څه کوي، په خپله پښتنو ته هم د درک وړ نه دي. څومره بې وقوفه سوداګر دي، چا چې خپله ژبه پریښې ده!
- سیاسي ګلخانان او بوقلمونان باید د سیاست له صحنې څخه وویستل شي. په کبنته پښتونخوا کې د ګلخانیانو قشر او په بر افغانستان کې ابن الوقته قشر د ګوښه کولو پرته د بریالیتوب او یووالي امکانات نه لیدل کیږي. بنایي ددې قشر لیکې تر دوامداره څارنې لاندې ونیول شي او تر ممکنه حده

د ملي يووالي غورځنګ ليکې ترې پاکې وساتل شي او په ټولنه کې د يو سپک قشر په توګه ګوښه کړای شي.

- تر ټولو دمخه د آزاديبخښونکي نهضت د مخکښانو لکه د ګيله من، عارف وزير، عثمان لالا، ارمان لوڼي، مشعل، نقيب مسعود... هدفي دولتي ترورونو د مخنيوي له پاره بايد چاره سنجي وشي. د خدايي خدمتګارانو مخکښان هم ترورېدل، دا ډول وژنو د مخنيوي له پاره غني خان د پښتني ځوانانو وسله واله ډله جوړه کړه او خپل پلار غفار خان، د عدم تشدد کرنلارۍ ته د وفاداري په خاطر، يې مخه ونيوله، اوس هم د هدفمنده وژنو مخنيوي له پاره بايد يوه چاره وسنجول شي، که نه د خدايي خدمتګارانو په څير او د مهاجرو د پياوړي نهضت په څير به د هرومرو ناکامۍ سره مخامخ کيږي. په روسيه کې د اکتوبر انقلاب وروسته انقلاب ضد ځواکونو د بلشويکي مشرانو د وژنو په موخه په «سپين ترور» لاس پورې کړ. يو وحشت يې برپا کړی وُ. څه موده وروسته بلشويکانو هم ددې په ضد « سور ترور» اعلان کړ. د هر بلشويکي مشر د ترور په بدل کې يې د سپيني اردو معادل مشر وژه. لدې وروسته انقلاب ايله ساه واخيستله.
- د اوسنۍ پيچلې وضعې څخه په استفاده، د دوکتور محمد عثمان تره کي د وړانديز سره سم، ملګرو ملتونو څخه د کښته پښتنو د سرنوشت په مورد د يو ريفرندم غوښتنه ضرور ده.

په نننۍ اسلامي امارت کې نه دا صلاحيت شته او نه هم دا ظرفيت. د دې ابتکار ښايي د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرۍ په غاړه واخلي. د دې امکان شته چې ملګري ملتونه د انګلو-ساکسون ګلوبال سيستم د يو سازمان په توګه، پدې وړانديز هيڅ خپل غوږ، و نه ګروي، ځکه چې د پښتني وطن-ناموس سره دا بدرفتاري له همدې ادرسه شويده، اما بيا هم لکه د لومړي جعلي ريفورنډم په څير، د جعل کاريو د ټولو امکاناتو سره سره، بيا هم د ستونزې د سوله ييز حل له پاره تر ټولو غوره لار ده.

پدې ډول، د ريښتيني ملي افغاني غورځنګ د بشپړ بريالیتوب له پاره د پښتنو او ټولو افغانانو استعماري ضد مبارزو ځانګړنو ته په ژور پام سره او د هغو څخه د ټاکلو عبرت در سونو اخيستل خورا ضروري او حتمي کار دئ. سربيره پردې د پښتنو د آزادۍ او د ټولوافغانانو د يووالي په مخ کې د پرتو خنډونو راسپړل او د منځه وړلو له پاره يې اګاهانه ستراتيژيک پلانيزه اقدامات هرومرو پکار دي. د رواني پيړۍ تر نيمايي پورې شل - پنځه ويشت کاله، د يو بشپړ ملت د برخليک ټاکلو له پاره، يو مدبرانه او موفقانه ټولنيز-سياسي اقدام ته، ډير وخت نه دئ، اما له پير روښانه تر ننه پورې څلور پيړۍ (د دراني امپراتورۍ د دورې پرته) بې سرنوشته ژوند خورا ډير ضايع وخت دئ.





# د ګیله من تاریخي ګیله

هارون حکیمي

جولای 12, 2024




د پښتون ژغورني په غورځنګ کي د حضرت نعیم وزیر یا ګیله من پښتین د مبارزې بارز رنګ، د هغه په وړاندي د مستبد رژیم غبرګونونه او بالاخره یې ځوانیمرګي زموږ د تاریخ یوه لویه حادثه ده. د ګیله من د بېلتانه ویر د نړۍ په کچه د افغانانو لویه تراژیدي ده او درنه جنازه یې، زموږ په تاریخ کي بې سارې ده.

په ډېره تنکۍ ځوانۍ کي د یوه فصیح شاعر، زړه ور مبارز او شعوري رهبر شهادت لویه ضایعه ده. د هغه د کورنۍ، د اروابناد د ولس، ارمانونو، د غورځنګ د ملګرو او مینه والو لپاره نه ډکېدونکې تشه ده او یو داسي درد دی چي د درمان تصور یې نه شي کېدلای. لوی خدای دې یې ابدي سفر ښکلی کړي.

خو په بې سارې توګه د ګیله من د محبوبیت، د هغه سره د خواخوږۍ، د ارمانونو سره یې د خواخوږو د ملاتړ زیاتېدل او د غم پر تغر یې د لر او بر تر دې کچې سره نږدې کېدل چي د ډیورنډ کرښې نښې یې هم محوه کړېدي او دغه راز، پر جسد یې د درې رنګه افغان ملي بیرغ غوړول هغه ویاړونه دي چي د نوموړي اروا به یې بې حده خوشحاله کړې وي.

که د نقیب الله مسعود شهادت د پښتون ژغورني د غورځنګ غوړېدو ته لاره پرانسته، د ګیله من شهادت به یې منزل ته په رسېدو کي تر هغې حادثې هم مهمه ونده ولري. له بله اړخه، د پښتون ژغورني غورځنګ بیا هم ثباته کړه چي د هغه ولس، چي

پخوا به يې زرګونه انسانان قتلېدل او يا ژوندي ورکېدل خو چا به يې پوښتنه هم نه سوه کولای، وينه اوس يوه بيه او د پور پوښتونکي لري او د اواز د پورته کولو د يوه يوه تن لپاره يې ميليونونه اوازونه پورته کېږي. چي دا د غورځنګ د لا پراخېدو




هيله پياوړې کوي.

زموږ د حقونو لپاره د مبارزې د دغي حادثې او غميزې لاملونه، چاپيريال او د راتلونکي لپاره پايلي ګڼ موارد لري چي هيله من يم په ځير به وڅېړل شي او د منزل په ټاکلو او مزل په روښانولو کي به کار ځني واخيستل شي. دلته غواړم يواځې پر يوه ټکي تمرکز وکړم چي هغه د اروابښاد حضرت نعيم د تخلص ټاکنه ده؛ چي ځان يې ګيله من احساس کړی وو او همداسي ګيله من په ابدي سفر روان شو.

**د پښتنو په قتل عام خاموش ملک او ملا**
**له تاسو دومره ګيله من يمه چي حد نه لري**
**ګيله من پښتين**

د ګيله من په شاعري کي بيا بيا په يوه او بله بڼه د ګيلو روحيه احساسېږي او ښکاري چي ګيله له خپلو کېږي، د ګيله من اشاري هم تر ډېره خپلو خلکو ته دي او د نورو په وړاندي يې نسبتاً د سپينو او مخامخ يادونو څخه کار اخيستی دی. هغه پوهېده چي تر نورو وړاندي يې د خپلو خلکو پوهاوی او خپلمنځي يووالی مهم دی ځکه د ګواښ لومړنی کربنه يې د خپلو خلکو ترمنځ پوري ور رسېدلې وه.

**په بل غشني په ټوپک ويشتلی نه يم**
**که ويشتلی يم خو بيا په خپل ټوپک يم**
**خوشحال بابا**

همدا خپل پښتانه يې پسي ورغلل او د ګل ځوانی او غوټيو هيلو سره يې ارمانجن تر دنيا تېر کړ. حتی مرګ يې هم يوه ستره خو خاموشه ګيله شوه؛ هغه ګيله چي د ده په خاموشۍ ميليونونو انسانانو بدرګه کړه.




د پېښي د خبر د اورېدو راهيسي تر اوسه فکر کوم چي د ګيله من د شاعرۍ روحيه، د تخلص ټاکنه او د بېلتانه غميزه زموږ د زرکلن مستند تاريخ ګيله مجسموي.

**-هغه ګيله چي د هند پښتانه واکمن جلال الدين غلجي به د خپل ګران وراره علاء الدين غلجي څخه درلوده چي د واک لپاره يې وواژه،**

**-هغه ګيله چي ابراهيم لودي د خپل اکا علم خان لودي او نږدې دوست دولت خان لودي څخه درلوده چي د بابر سره يې د ده په پرځولو، وژلو او د پښتنو د واک په ختمولو کي مرسته وکړه،**

**-هغه ګيله چي خوشحال خان د ټولو پښتنو، په ځانګړي ډول خپل زوی بهرام څخه چي د ده په وړاندي د مغولو سره ودرېد، درلوده،**

**-هغه ګیله چې میرویس نیکه به د خپل ورور عبدالعزیز ځخه درلوده چې د ده په وژنه کې یې لاس وو،**

**-هغه ګیله چې د اصفهان فاتح شاه محمود هوتک به د خپل اکا(تره) د زوی شاه اشرف هوتک ځخه درلوده چې د ده په قتل یې ښکېل وو،**

**-هغه ګیله چې شاه اشرف هوتک به د شاه حسین هوتک ځخه درلوده چې د نادر افشار په وړاندې د ملاتړ او یا د تېښتې پر مهال یې د پناه ورکولو پر ځای وژلو ته خلک ورلېږلي ول،**

**-هغه ګیله چې احمد شاه بابا د خپلو نږدې دوستانو ځخه درلوده چې د هند د جګړو پر مهال یې په خپل کور کندهار کې ښورښ ورته وکړ،**

**-هغه ګیله چې سدوزیو واکمنو به یوه بل ته د سترګو په ایستلو او واک بایللو پر وخت درلوده،**

**-هغه ګیله چې غازي ایوب خان، غازي محمد جان خان او ملامشک عالم به له عبدالرحمان خان ځخه لرله،**

**-هغه ګیله چې غازي امان الله خان به د محمد نادر خان ځخه د واک د انحصار له امله درلوده،**

**-هغه ګیله چې محمد ظاهر شاه د محمد داوود ځخه د کودتا او شاهي د ختمولو له امله درلوده،**

**-هغه ګیله چې نور محمد تره کي د خپل شاګرد حفیظ الله امین ځخه درلوده،**

**-هغه ګیله چې ډاکټر نجیب د خپل وطندار شهنواز تني ځخه درلوده،**

او هغه ګیله چې په یوه نه بله بڼه یا زموږ تاریخ جوړوي او یا ناویلي حقایق پر بنا دي خو موږ پېرۍ پېرۍ کېږي چې پام نه دی ور ته کړی.

دا ګیله زموږ له منځه پر موږ برید دی. دا ګیله په خپله د افغان په وسیله د افغان خپنه ده. انګېزه که یې حسادت، د واک لوږه، ناپوهي او بله هره پلمه وي خو زیان یې موږ ته رسېږي او ګټه یې نورو ته. هیڅ داسي ملت نشته چې بهرنی دښمن ونلري خو یوه ملت ته خطر هغه وخت جدي وي چې بهرنی دښمن یې په دننه کي نفوذ وکړي؛ چې له بده مرغه دغه نفوذ تر بل هر چا په پښتنو کي اسانه دی او د خوشحال بابا په خبره سر پورته کوونکي په کي وهل کېږي.

پښتانه واړه بد خوی
کور په کور کوي غورځی
چي یو سر کي په کي پورته
بل یې ووهي مغزی
خوشحال بابا




د نورو لاملونو ترځنګ د همدغي ګیلي په نظر کي نه نیول دي چي زموږ د ملت جوړوني او دولت جوړوني د بهیرونو مسیر نه دی پالل شوی او د واکمنیو په نږدې زرکلن تاریخ کي نن هم سره له دې چې د وګړو شمېر مو نږدې سلو میلیونو ته اټکل کېږي خو موږ نه یو توانېدلي چي یا سره یوځای شو او د خپلي ټولي خاوري واک خپل کړو او یا دننه د افغانستان په اوسنۍ نقشه کي یو پایېدونکي دولت جوړ کړو.

د اروابښاد ګیله من لنډ خو مُثمر ژوند او د هغه د مبارزې، شاعرۍ او شهادت لوی درس موږ ته د دغي ګیلي د درک درس راکوي او را یادوي چي که موږ په خپل منځ کي د یووالي لپاره زغم ونلرو او د ځانغوښتني او واک لپاره د پردیو موخي تعقیبوو، موږ به په ملت جوړونه او دولت جوړونه بیاهم ونه توانېږو.



# د زخمي ګيله من وزير سره

## محمديار

د وطن عشقي ملنګه!!!
غليم دې, هم له ژونده, هم له مرګه نفستنګه
په ژوند کې, په کوما کې, پسله مرګه هم په جنګه
د مرګ له تور پيغام د عزرايل سره ناسازه
ننګونه دې حيران دي له دې نوي رنګه ننګه
تا هره غمنامه ده په خندانه خوله لوستلې
را دروميې ته له ښڅګه خاندان, درس و فرهنګه
موږ نوم دئ اورېدلی تش د ننګ او غيرتونو
خو ته ټول عبارت يې د غيرت له ټوله رنګه
مرغی د آزادی دې د ځوانی د باز په سترګو
راوړې ده د تور ټپوس له تور چټله چنګه
سندرې, ترانې به دی له عرشه را غبرګيږي
محشره! انقلابه! له هر شوره سرآهنګه
تا ستر وزيرستان ته بېستون پر سجده کړ
فرهاد د ارادو دې مچې اخلي له کولنګه
خوشحال دې په کمال د سر د جنګ هېښ و خوشحال کړ
غدار سره دې وواهه وزيره سر له سنګه
هم لار پاچاخاني دې کړه د امن خپله لاره
هم ژبه دې اورشيندې زوروره له تفنګه
د ظلم, استبداد په مسلسلو سېلابونو
ملا ماته نه سوه ستا د ارادو ستره نهنګه
مسير د سرکښيو له آمو تر آباسينه
نه لوېږې له پيکاره, سور سربازه له غورځنګه
پر تا يې د خپل کور کلي کړی را تنګوله
اوس تا کړه د نړی ارته کړی ور باندې تنګه
د درد له هر پړاوه پس به بيا نوی پيدا سوې
ورک نه سوې له هيڅ ډار, هيڅه وحشته و نيرنګه
يو دا چې ذات صفات دې عبارت دي له ښايسته
بل تور, سور و زرغون دې څه ګلرنګه دي درې رنګه
چې ستا د وينو رنګ يې نقاشی د محلونو
که نن وي يا سبا وي دا مانۍ ده باندې ړنګه
يو چا په سوځېدو کې د عشق نوې جلوې وکړې
نصيب کې دې نور نه دئ دا منصب مين پتنګه
پاچا سوې, برم و شان سوې, لوی وجدان د سړيتوب
وزيره ګيلامنه د وطن عشقي ملنګه
جولای ۲۰۲۴



# د ګيلمن شهيد په وير کې

## وږمه سبا عامر

عمر دې لنډ د شوپرک په شانتې
خو د جمال او د کمال نه ډک وې
تا بس الوت غوښتو ګناه دې دا وه
او دوی په موټې کې بندې ساتلې
ښايست دې خپله درته غم شو کنه
دښمن دې مار شو او لړم شو کنه
په شين اسمان له بارانه نه وروسته
ته لکه زېړه زرغونه ښکارېدې
ښڅګه يې بوټې نه راوشکولې
ته خو لا پوخ نه وې اومه ښکارېدې
ته لکه خوب د پېښتنې پېغلې يې
احساس دې شته خو يادول دې ګران دي
ته د لومړۍ مينې د درد په شان يې
قسم په خدای چې هېرول دې ګران دي

د جولای ۱۴ مه
کال۲۰۲۴ پراګ

# مرثیه



نعمان دوست

دا څه شور دی، څه خبره ده رزمکه؟*
چې اسمان ریږدي او خوځي ټوله ځمکه
د هر چا شونډې آهونو پولی کړي
په ژړا وتلي سترګي له کولکه
زورور کسوف رڼا ورځ تیاره کړي
څه په بخت بیداره ښکاري شب پرکه
د وزیرو غر خالي غونډې ښکاریږي
ځاله تشه ده او باز دی نادرکه
شپه اوږده ده او جونګړه کې تیاره ده
چېرته لاړې، و څراغ په لاس هلکه
تماشا د تا د حسن ختمه نه وه
د ژوند لاره دې تمامه کړه چابکه
خوشال خانه ستا ارمان دا دی پوره شو
ارمانجن بابا! ډېر زیات شه مبارکه:
ګیله من د پېښتانه په ننګ کې ومړ
ګیله من ګور ته لاړ نشو له تلتکه**
څه د ګل په څیر ځواني شوه ترمې ترمې
د بلبلو چیغې رسي تر فلکه
"هغه مخ خورې نن په ګور کې په چنجیو
چې پیرزو نه وه د چا پرې یوه ځوانکه*** "
جمعیت د پاشل شوي قام ته ګوره
معجزې نه کمه نه ده دا بېشکه
چې دا دومره خلک ټول په تا نازیږي
د قاتل پر مخ همدا څپیړه کلکه
ټوټه شوی بدن ګونډې بیا کوشېړ شي
د کابل قد و رسیږې تر اټکه
ستا د روح تمثیل یې بیا ښه شان ادا کړ
ای ابداله، ای خوشاله ای هوتکه
ګیله من غونډې باتور چې غیږ کې لوی کړي
خدای خبر که شي پیدا بله ادکه
خدایه دومره خوشالي یې کور ته ور کړې
چې د غم تله یې ښه سمه شي سپکه
ګیله منه، د (نعمان) ملنګ دعا ده
ستا باغچه دې وي له سرو ګلونو ډکه

۲۳ /چنګاښ/ ۱۴۰۳

*شمالي وزیرستان، د شهید ګیله من د اوسیدو سیمه
**خوشحال بابا د خپل ځوانیمرګ زوی په مرثیه کې ویلي و:
کاشکې ځوان د پښتانه په ننګ کې مړ وای
نه چې ګور لره روان دی له تلتکه
***د همدې مرثیې یو بیت دی



ګیلامنه کتابونو کې به پروت وې
ګیلامنه تاریخونو کې به پروت وې
ګیلامنه ته به مونږ نه جدا نه شې
ګیلامنه زمونږ زړونو کې به پروت وې
ګیلامنه د حجرو زینت به جوړ شې
ګیلامنه محفلونو کې به پروت وې

درمند مومند



# د وريښمو کاروان



چلوونکې او مسئوله: شيبه ګهيځ

د وريښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او ليکوالانو له پيژاند نيولې تر طنزونو، لنډو کيسو، ادبي ټوټو، ادبي څيړنو او نور بيلابيل ادبي او غير سياسي ليکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلومات ورکولو په موخه خپريږي. د دې برخې د لا پراختيا او غوړيدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هيله يو.

dawatafghanmedia@gmail.com

## تقوا برهان شکوري

حميده د عبدالشکور لور په۱۹۹۷م کال د کندهار ښار د باميزو په کوڅه کې زېږېدلې ده. هغې ځان په ادب او شاعري کې«تقوا برهان شکوري» نومولې ده. زده کړې يې تر پنځم ټولګي د کندهار په عينو ليسه او بيا له هغې وروسته د کابل له سلطان راضيه ليسې څخه له دولسم ټولګي فارغه ده. ۱۳۹۵ ل کال د کانکور ازموينې په پايله کې د کابل پوهنتون ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې ته بريالۍ شوه؛ خو دا چې پلار يې غوښته هغه ډاکټره شي د هغه د هيلې پوره کولو په موخه يې خاتم النبيين پوهنتون کې طب پوهنځی پيل کړ. تقوا برهان شکوري په ۲۰۲۴م کال د جنيد شريف د شعرونو دويم مقام جايزه ګټلې او د شعرونو يوه ټولګه يې د (تقوا ميکده) په نوم چاپ شوې ده.

د تورو شپو ديوال يې نړولی دی راځي
هغه لمر په لاسونو کې نيولی دی راځي
فرعون له خپل تخته را لويدلی دی راځي
موسی پر کوه طور بيا راختلی دی راځي
په غېږ کې د ملکو وارث د ذوالفقار دی
د خير ځنځير يې خپله شرنګولی دی راځي
معلومه معشوقه ده په صف کې د عشاقو
انوار يې له وزره څڅېدلی دی راځي
وصال د رمز مکان دی د اور پر لمن باندې
بلال يې د فراق لمبو سوځلی دی راځي
ګل فام رخ يې موذنه اذان دی سپيده دم کې

محراب يې په تندي کې رب ټاکلی دی راځي
خاموشه نيستان سو د شپېلۍ د بڼ محتاج
محفل يې د رندانو رقصولی دی راځي
جلوه که وي قاتله ياغي يې پروا نکړي
غلام ته يې هر حکم نازولی دی راځي
هيڅ تنده ماته نسوه د سرو سترګو و جام ته
ساقي چې د ازله ځنګولی دی راځي
د شک ځای پکښې نسته که سور د اسرافيل سي
تقوا محشر په خپلو پښو راغلی دی راځي
تقوا برهان شکوری

چي داغ يې بوي د مشک کړي، ځيګر روغ ورمړ په تاوان کي
يوه ورځ دي را نه سي چي سر روغ ورمړ په تاوان کي
چي سر په تن وي پوري، هغه عشق مکمل نه دئ
ماښام رقص د بسمل وي، سحر روغ ورمړ په تاوان کي
راغلي دي معراج ته د لقاء يمه له وخته
خداي مه کړه چي له وصله، وزر روغ ورمړ په تاوان کي
نوبت چي د ساقي د ګواهي سو ميکده کي
مدهوشه ځنګېدلي ساغر روغ ورمړ په تاوان کي
چي خاورې په نظر باندي کيميا کړي خواره جسمه
کم بخته يم چي داسي نظر روغ ورمړ په تاوان کي
امسا سره يو څوک له ليري وينم را روان دئ
موسیٰ وايي له طوره ګذر روغ ورمړ په تاوان کي
په دومره سخاوت که دې بيا هم وم ګدا خير دئ
زه تش کچکول په لاس کي له در روغ ورمړ په تاوان کي
تهمت د ټول جهان مي تقوا غوټه په پلو دئ
هنر يمه بې جنسه بشر روغ ورمړ په تاوان کي
تقوا برهان شکورى

+++++++++++

چاک سينه دي لومړی ور د سمواتو
پکښي پروت دی اتلسم جز د آياتو
د مطرب بې خوده رقص دي له شرنګه
په نڅا بې پښو محفل د کايناتو
بې ريا عبادتونه مي پر ځاي کړل
ستا خالونه زما تسبيح د مناجاتو
په کوزه کي دريابونه يو ځاي راوړي
خراب پوه دي په کارو د خراباتو
په اويا لارو به ورسېږو يو ته
عشقه نور پرېږده موږ بس يو د اثباتو
چي دي لطف کله احساس کړم له کرمه
هر وېښته مي سي مرشد د کراماتو
څه بې خونده ټول وجود سي، په شيبه هم
فارغ مه سه دوه ليمه د ملاقاتو
منصور ووېل چي ډېر ښه يم په دار کي
دلته څوک خبر د اناالحق د ذاتو؟!
لکه پاته چي کتمير له کهفه نه سو
زما سپی زړه داسي تېر له مقاماتو
چي بې حاله يې ليکمه پناه غواړم
تقوا زه د داسي تورو د خيالاتو
تقوا برهان شکوري

++++++++

د آمنې غېږ کي پرته ، درسته جلوه د ايمان
آسمان ځليږي ، مځکه سمه فرشته د ايمان
خال پر جبين د معشوق نه وي ، لکه نوم د احمد
څنګ يې علي، حسن ،حسين جُز فاطمه د ايمان
د جنتو سرداري ، هم دې رب ټاکلې پنځه
لور د پيشوا، ام الکبرا ، بی بی عايشه د ايمان
په خام نظر مه ګوره ، کور که د فرعون هر څو
سمبول د کفر دی، خدای ورکړل آسيه د ايمان
بې زوجه روح ساتي، په نس کي مبارکه مريم
چي همنشين وي د پنج، لوړه يې رتبه د ايمان
تعداد د فرض لمانځه، پنج داخل وختونه دي پنج
د دنيا اصل سو پنج، ګل کوي غنچه د ايمان
پېغمبرانو صف پر صف ، نيتونه وترله
د عشق حضور دی، او حاضره ده سجده د ايمان
زبور، تورات، انجيل، منسوخ، قرآن دی ختم نزول
کامليدله د نبيانو ، سلسله د ايمان
کاخ د کسرا يې ، د راتلو په زيري خود نړيږي
د کاينات ژبه اخته، په کليمه د ايمان
خوشبو خرقه د ولايت يې، پر اوږو واچول
زرين لمنه يې طواف ته ده، کعبه د ايمان
ښبل يې په ”لايصدعون“ وايي ”لاينزفون“
پر مخ مو خلاصه ده مستانو، ميکده د ايمان
د سترګو نور يې محبان کړي، ميلمانه پر تنده
ډکه را پورته کړي ورغوي کي، پياله د ايمان
ازل هغه ورځ د ابد لاسونه ، ښکل کړل پنهان
فصل په وصل بدليدی، هره لمحه د ايمان
د عشق مزل دی، د رڼا څرک هر کنار ته وينم
د تقوا هر رګ لاره لاره ، ده کوڅه د ايمان
تقوا برهان شکوري

ځاه ته مو واچوي، ملکه سي لیدو ته راسي
په خوب مو کښېباسي، کاروان سره مو تلو ته راسي
په عام بازار کي مو سودا کړي، خریدار خریدار؟
هم مو قیمت وټاکي لوړ، هم اخیستو ته راسي
د ګل غوټۍ کړي رانه جوړه په ګل دسته نظر
په موسکو شونډو، تر بوستانه غوړیدو ته راسي
دا د ازله مست دي، چا يې مستي و موندله
لیدلي چا نه دي پیالې چي تشېدو ته راسي
موسی دي ځي طورِ سینا ته ارني دي وایي
چي لن ترا اوري، هغه دي اوریدو ته راسي
نه مو له قاله خام خبر سوه نه له حاله خبر
عشق دي له کومه اوره جوړ دی پخیدو ته راسي
ستا د ښایست دریاب سکاره کړل زما پاخه هډونه
خبره نه وم چي اوبه به سوځیدو ته راسي
شپه مو د تورو زلفو قدر کړه تقوا تمامه
تر سپین رخساره چي رسېږو لمر ختو ته راسي
تقوا برهان شکوري

++++++++++++

موږ په عشق پخېږو، په لمر پوخ انګوره هره ورځ
برخه د الست ده ، زېږوه مو نوره هره ورځ
ځو پلونه تازه دي، پر ځو پلونو خاوري واوښتې
یو خیام که لاړی، راځي زر مخموره هره ورځ
زړه رقص د بسمیل دی، پاته سر پر تن آدب نه دی
ځي په دغه شرط تر داره سل منصوره هره ورځ
لیري که له سترګو د یعقوب سوي یوسفي حسنه
مصر کي خرڅیږه، له کعنان مستوره هره ورځ
وي له سوځیدلي سینې پاته په کمیس کي داغ
خام دي چي راوړي د سینې اور تنوره هره ورځ
پرېږدي د کعبې لمن صنعان کړي د ترسا مرید
هري پیرۍ پرېښودل، یو ځو مشهوره هره ورځ
ستا په قدم ږدي قدم، رسېږي تر معراج پوري
ما کي یو موسی دی ، چي راځي تر طوره هره ورځ
ما یې خوند لیدلی تقوا ، زما قاتل زما طبیب
ښه دی چي زه یمه ، په سینه رنځوره هره ورځ
تقوا برهان شکوري

++++++++++

خوشبوداره تر عنبر، نازک تر ګلو
سلامونه ستا د عشق پر نازولو
آهو ذات مي صید ته ناست شپږ خدا دئ
که يې فخر په نصیب سو د ویشتلو
په یوه جلوه يې دومره کړي آسانه
ابراهیمه قرباني د اسماعیلو
یزداني دئ، ازلي دئ، دغه یو «زه »
لدني دئ په قطار کي د بسملو
زړه مي ګرم د دلبر په دلبري دئ
کنې ژوند کي پاته څه د تېرولو؟
سل نمروده دي ولاړ، د اور تنور ته
بوستاني نظر دي تېر کړه پر خلیلو
سپاهیان د ابرهه رسي، کعبې ته!
او آسمان دي لا خالي د ابابیلو؟
هم مو وژني، هم مو دفن ته را درومي
ورک قابیل سو، په دي منځ کي له هابیلو
شپه پخه ده چي مخموره ګریوان چاک کړي
وخت نژدې د میکدې د خلاصولو
ستا په قدر، یو خبر تر هوښیارانو
لیونتوب کي یو بهتره تر عاقلو
تقوا ما وویل څوک وربانديي پوه سوه؟
څوک به څه پوه سي زما په ناویلو
تقوا برهان شکوري



لنډه کیسه

# ستني شوي شيبې



عبدالوکیل سوله مل

نه پوهېږم ولې مې دباندې ليدلو ته تلوسه شي !؟ له خوکۍ پاڅېږم، د کوټې کړکۍ پرانېزم، بهر وګورم، وينم چې د لمر تودې وړانګې لکه تود طلايي خادر په ټول ماحول پلنې دي، نرۍ باد هم وزرې پرانېستي دي، په ټولو شيانو لاس را کاږي، د باد له نرمو څپو نه د ونو او بوټو له ښورېدا يوه نرمه خوبولې موسيقي اورېدله کېږي. کړکۍ نوره هم پراخوم. په لوی سړک کې ډله - ډله زلمي او پېغلې رواني دي، هلکان د سترګو څر کوي، نجونې خپل اوربلونه غورځوي او د مستو آسانو د نالونو د ټکهاپه څېر بې د اوږدو بوټانوکړپا خېزي.

له کړکۍ د کوټې منځته بېرته راګرځم، د لوست تنده مې راپارېږي ،د کتابونو الماری ته مخامخ درېږم، پو بو کتاب اړوم رااړوم ،غواړم کتاب ولولم، د کتاب په غوراوي فکر کوم. نه پوهېږم ولې مې له تاريخ پرته نورو پېرو او څوټوکيزه کتابونو لوستلو ته زړه تنګيږي. خو عجيبه ده نن مې د مارسل پروست (د ورک شوي زمان په لټه

پنډ ناول لوست ځانته راکاږي. . لومړی ټوک يې را واخلم، لوستل يې پيل کړم، خولا مې څو پاڼې لوستی نه وي ،چې خوب را باندې غلبه وکړي او که چرت کې لاړ شم. د کتاب د لوست لړۍ مې وشليږي ، نابېره لکه لوی بم چې وچوي، ګرز شي او ما له درانه خوب اوچرته را وباسي. سترګې پرانېزم، چارچاپېره وګورم، خونه تياره نيولې وي. ودرېږم، د کوټې له منځه آسمان ته وګورم، آسمان هم تياره او لړو نيولی وي. هک پک شم، له ويرې مې خوله وازه پاتې شي. ورېږدم، له ځانه سره ووايم:

داڅنګه؟ دومره زر شپه شوې ده! ـ

کتاب په لاس کې ونيسم:

ـ ما خو ټولې درې پاڼې هم نه دي لوستې، دومره لويه ورځ څنګه په منډه تېره شوه؟ روښنايي څنګه په څغاسته په تورتم او تياره واوښته؟ ورځ څنګه د سترګو په رپ کې شپې ته لار ورکړه؟ فکر نه کوم چې خوب او که چرت به مې نيمه ګړی هم نيولې وي!

له ځان سره کرم ريبم، سودا رالويدلې ده، دې معجزې ته ګوته پرغاښ يم، څنګه زر دومره له ځانه پردی شوی يم؟ له ځانه پوښتم:

ـ څو بجې دي؟ زه خو په ورځ کې چېرې هم دومره نه يم بيده شوی او نه مې هم دومره اوږد چرت که وهلی دی. که چې مې د کتاب لوستل پيلول ټکنده غرمه او يوه بجه وه. سترګې ومږم، بيا دباندې وګورم:

ـ دا خو ټکه توره تياره او نيمه شپه ده. آسمان لړو پوښلی دی. ستورې نه ښکاري،

په دېوال کې را ځوړند ساعت ته سترګې ونيسم، خوله مې وازه پاتې شي، سترګې مې ټېغې راووځي، ستنه ولاړه ده، ټکهار يې نه خيژي، ور نږدې شم، سر ور وړاندې کړم، نور هم ورته ځير شم، سودا مې لا زياته شي، ځکه د ساعت ستنه نه يوازې دا چې ځای پر ځای ولاړه ده، ګړی هم شاته تللې ده، عجيبه ده، نه پوهيږم ولې، سربداله شم او اندېښنې مې واخلي، بيا له ځانه وپوښتم:

ايا زمان شاته هم ځي؟ څنګه شوني ده چې نابېره او د سترګو په رپ کې دې ورځ په شپه واوړي؟ ـ

دزمان بدلون او شاته تګ مې د زمان په باب ټوله فلسفي پوهه او ددوي د پنځونکو : (سقراط ، ارسطو ، اپلاطون ، هيګل ، کانت ، هايدګر .......) نظريات پر ماغزو بوج راوړي ، له ځان سره ووايم :

ـ له  له (لاسه تللي زمان ) وروسته به هرومرو د کانت ( نقد عقل محض ) او د هایدګر ( زمان او هستي ) لولم .

د ساعت په بطرۍ فکر وکړم، زر رایاد شي:

هغه خو مې همدا نن سهار راونیوه، خو څوک پوهېږي که دوکاندار زړه بطرۍ را باندې پلورلې وي؟!

دوکاندار مې مخې ته راشین شي:

نه هغه په هغه سپینه ږیره کله ناچله شیان پلورلی شي؟ ـ

خو پخبله خبره بېرته شکمن شم او ټول هغه ټګمار ، ظالم، مستبد ږېرور حاجیان، امیران ، پاچاهان او د مذهبي کوندونو مشران مې مخ ته راشنه  شي ، چې د دوکو ، استبداد ، ظلم او جګړوپر کیسو بې تاریخونه ډک دي .

له ځانه وپوښتم:

ـ له کومه ځایه وپوهېږم چې څو بجې دي؟ ما چې کتاب لوست، مېرمن مې د تلویزیون په ننداره وه، زوی مې هم په کمپیوټر کې د کوچنیانو لوبې لیدلې. لور مې هم د نانځکو په لوبو بوخته وه، سپینه پیشو، د څوکۍ په څنګ کې د مچانو او جولاګګ تارونو او حرکت ته ځیر وه، غوږونه څک ونیسم، د ټلویزیون غږ نه راځي، د زوی چیغې او خندا هم چې د لوبوپروخت یې وهي نه اورم. د لېوني او سودايي په څېر په لوړ غږ مېرمن ته غږ کړم:

پلوشې!

هېڅ غږ وانه ورم. زوی ته چیغه کړم:

انوره!

شک راولوېږي، تیاره ده، خو شپه نه ده، که شپه وای څنګه مې مېرمن د خوب کوټې ته په دې نیمه شپه کې نه ده راستنه شوې؟

هېڅ غبرګون ونه وینم، اندېښنه راولوېږي، سپک راپاڅم، کتاب پخپل حال پرانیستی پرېږدم، د ناستي خونې ته چابک ورننووځم، مېرمن مې په کوچ کې پرته ده، تلویزیون چالان دی خو ددې سترګې پټې دي. خندا راشي، په ولې یې لاس کېږدم، لکه ساه یې چې وتلې وي، هېڅ ونه ښوري. په تندي مې مړې خولې را ماتې شي، وار وپار مې خطا شي، له غوسې چیغه کړم:

پلوشې، پلوشې، پلوشې!

اړوم را اړوم یې ، لا هم بې هوښه او بیده وي، بلا پوښتنې مې سرکې راوټوکېږي، شک راولوېږي:

نه چې له ما یې په پټه هغه اپین نه وي خوړلی چې زه یې کله د وچ ټوخي لپاره کاروم.

زر پخلنځي ته لاړشم، اپین پخپل ځای او نه وي کنډو شوی، بېرته راوګرځم، ږز و غپ بیا واچوم، پخپل ټول توان پرته له دې چې د ګاونډیانو د خوب پروا او خیال وساتم، چیغې جوړې کړم:

پلوشې، پلوشې، پلوشې! ـ

خو مېرمن مې لکه یخ لرګی پرته وي، سترګې یې نه ښوري، نابېره کلمه تېره کړم:

لااله الاالله محمدالرسول الله!

پرته له دې چې وپوهېږم مړه ده که ژوندۍ، په چیغو، چیغو وژاړم. خو زر مې د هغې د لاس رګونو ته ور پام شي، لکه ډاکټر چې یم، د لاس په رګونو یې ګوتې کېږدم، غوږ ونیسم، ټکان یې واورم، سینې ته یې هم سر ور ټیټ کړم، د زړه درزا اوخرهاری یې هم واورم. حواس مې بېرته راټول شي. ډاډ حاصل کړم چې ژوندۍ ده، شکر وکاږم. د زوی خونې ته سر ور ننباسم، زوی مې کمپیوټر لګولی پریښی، موږک یې په لاس کې ټینګ نیولی دی، د مور په څېر دی هم په درانه خوب ویده دی، سر یې دیخوا اخوا واړوم را واړوم، نه ښوري ، هېڅ غبرګون ونه ګورم، چیغه کړم:

انوره، انوره، انوره!

سر یې سینې پورې ونښلوم، د زړه ټکان یې واورم، د مرګ اندېښنه یې له مغزو وکاږم، ځان بېرته را ټول کړم. پخپل حال یې همداسې بیده پرېږدم. کوچنۍ لور ته هم ور وګرځم، هغه هم په خواږه خوب بیده ده، ګوډۍ یې څنګ ته ایښې ده، په سر یې لاس راکاږم، په ستوني یې ګوتې کېږدم، ټکان یې واورم. زړه مې له دې هم راټول شي. ښه شیبه یې خوا کې ودرېږم. سودا مې نور هم پسې واخلي، نابېره دباندې راووځم، په دهلېز کې لکه لېونی په چیغو سر شم  که کوم ګاونډی راووځي. خو لکه ټول چې زما د مېرمن ،زوی او لور په څېر په درانده خوب بیده اوسي، له هیچا غږ و غوږ وانه وربدل شي. زر لاندې پوړ ته ښکته شم. د لوی څو پوړیزې ودانۍ له لوېې دروازې کوڅې ته راووځم. کوڅه له خلکو ډکه وي. خوعجیبه ده خلک ټول په ولاړه خوب وړې دي او لکه مړي له ځایه نه ښوري، خو عجیبه ده څو تنه چې روان دي، سرونه یې شاته اوښتي دي، مخ په شا روان دي. په تن مې لرزه ګډه شي،

ویره مې واخلي، داسې یم لکه په لویه هدیره کې چې یوازې روان یم. له پښو مې ساه ووځي، په وجود مې ته وا سرې تبې ونیوم ساړه ننوځي. په چیغو، چیغو وژاړم ـ خو پوهېږم چې په لار او کورونو کې شته وګړي ټول په درانه خوب بیده دي. او هغوی چې مخ په شاه روان دي او سرونه یې شاته تاو شوي، کاڼه دي، هېڅ خبره نه اوري.

د مېرمن خونې او بیا زوی ته سر بیا ورښکاره کړم. دوی لا هم له ځایه نه ښوري، بیا د خوب خونې ته راوګرځم، دیوالي ګړۍ ته وګورم، د ساعت ستنه لا هم نه ښوري او ځای پرځای ولاړه ده. زمان درېدلی دی. کړکۍ ته راشم، سر دباندې وباسم، پاس آسمان ته وګورم که د کوم ستوري د رڼا څرک راڅرګند شي، خو آسمان هماغه شان تیاره او لړو نیولی دی.

له کړکۍ راوګرځم، په کور کې د شپې دوربین په لټه شم، ویې موم، کړکۍ ته ودرېږم، سترګو ته یې ونیسم، لیرې پورې غاړه په لویه هدیره کې څوک نه ښکاري ــ خو هدیره دومره پراخه او دومره نوې بې شمېره قبرونه کیندل شوي ، ته به واېې هیڅوک ژوندی نه دی پاتې او ټول مړه شوي دي . خوا مې را وګرځي، مخ مې لکه مچۍ یې چې وچیچي، سور را واوړي، وپړسېږي. زر تشناب ته منډه کړم. مخ ته شړپ یخې اوبه واچوم، بېرته را وګرځم، هنداري ته ودرېږم، هک پک شم، ځان ونه پېژنم لکه زه چې نه یم، د مخ غوښه مې توږلې وي، د سترګو کسي مې ننوتي وي. رنګ مې سپین را اوښتی وي. داسې یم لکه پخپلو سترګو چې خپل مړی وینم. غواړم د مېرمنې خوا ته ورشم، خو چې ګورم، پښې مې بوډۍ ونیوې، له پښو مې ساه ووته، غږ مې په ستوني کې وچ شو، په سترګو مې تیاره ده، نږدې ده چې ړوند شم، په غوږونو کې مې هم بنګاری جوړ شي، ځمکه را باندې وڅرخي، ځای پرځای کښېنم او ډېر زر د هغو قطار ته ورګډ شم چې په ژوندوني مړه دي.

د کړکۍ لاندې د سړک په سر یو دروند غږ لکه بم چې وچوي واورم، وریږدم ، ټکان وخورم، ځانته مې فکر شي، د فکر تنابونه مې یو دم وشلېږي. بیا سړک او لارویو ته زیر شم. لاروي هماغه شان ځای پر ځای وېده دي، خو هغوی چې ښوري او روان دي پر څلورو دي او شاته منډې وهي . . د باد څپه ورو - ورو بوټو او ونو ته ناز ورکوي، زه بېرته له کړکۍ را لیرې کېږم ، خپلې څوکۍ ته راځم. اندېښنې مې واخلي او بیرته مې د سبا غم په خېالونو او خوبونو کې لاهو کړي.

لندن – انګلستان - ۲۰۲۱د اګست ۱۷



# په کابل کې د دعوت رسنيز مرکز دري کتابونه

دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو نورو فرهنګي فعاليتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت میډیا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼو تر څنګ په دې وروستيو يو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طريقه او د کتاب بيه او پوستي بيه ښوول کيږي.




## پری افغان در کییف

کتاب داستان واقعی (پری افغان در کییف) را علاقمندان میتوانند در کابل از کتابفروشي سروش به ادرس ذیل بدست آورند:

کتابفروشی سروش ، مینه یار مارکېټ، د دريیمي ناحيې کوڅې ته نږدې، میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل- افغانستان. 0785200212

## کله چې طوطي والوت

د ماشومانو دغه پاسني کتاب مينه والی په کابل کې د سروش کتابپلورنځي څخه په لاندې ادرس ترلاسه کولی شئ:

**مازيګر کتابپلورنځی** - مينه يار مارکېټ - کوټه سنګي – کابل

**سروش کتابپلورنځی**، مينه يار مارکېټ، د درېيمې ناحيې کوڅې ته نږدې، میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل-785200212




## د کييف افغانه ښاپېرۍ

د يوې ريښتيني کيسې له مخې ليکل شوی کتاب (د کييف افغانه ښاپېرۍ) د لومړي ځل له پاره په هېواد کې چاپ چې تر اوسه په پښتو، دری او انګليسي ژبو خپور شوی، مينه وال کولی شي په کابل کې يې د سروش کتابپلورنځي څخه په لاندې ادرس ترلاسه کړي:

- مازيګر کتاب پلورځی - مينه يار مارکېټ - کوټه سنګي
- سروش کتابپلورنځی، مينه يار مارکېټ، د دريیمي ناحيې کوڅې ته نږدې، میرویس میدان (کوټه سنګي)، 785200212



# د ناروې میشتو هېوادوالو د پام وړ!

### ناروېژي پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok

هغه هېوادوال چې په کور، کمپ، لیلیه، ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون، کارځای او سیمه اییز کتابتون (Bibliotek) کې یې تر اوسه ناروېژي پښتو قاموس نه وي نو کولای شي چې د خپل ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون او سیمه ایز کتابتون څخه د ناروېژي پښتو قاموس (Stor Norsk-Pashto Ordbok) غوښتنه وکړي تر څو یې ورته واخلي تاسو یواځې هغوئ ته د کتاب نوم، د لیکوال نوم او د اس بی این ISBN شمېره ورکړئ نور هغوئ پوهیږي چې څنګه یې ترلاسه کړي. د ناروې په هر کمون، ښوونځي، پوهنځي او پوهنتون کې یوه او یا له یوې ډېر کتابتونونه وي .

د کتاب نوم :

ناروېژي پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok

د لیکوال نوم:

محمد طارق بزګر Mohammed Tariq Bazger

اس بی این: ISBN: 978-82-691395-0-1

په شخصي ډول یې په لیلستروم Lillestrøm کې د دعوت میډیا مرکز څخه تر لاسه کولی شئ .




د ویپس او یا هم بانکي اکونټ ته د ۵۰۰ کرونو په رالیږلو به کتاب ستاسې په پوستي ادرس تر تاسو دررسیږي.

د معلوماتو له پاره په لاندې شمېره او همدا شمېره د ویپس له پاره کارولی شئ: 90856195

د دعوت میډیا بانکی اکاونټ شمېره: 0530 2294668

او یا هم د ویپس د لارې90856195 :

د هر ډول معلوماتو له پاره زموږ د تلیفون شمېره: 90856195 سره په اړیکه شئ.

# د دعوت رسنیز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

دعوت رسنیز مرکز ویاړي چې د خپلو نورو فرهنګی فعالیتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت میډیا ۲۴ او افغان سباوون ویبپاڼو تر څنګ په دې وروستیو یو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طریقه او د کتاب بیه او پوستي بیه ښوول کیږي.




## یوه افغانه ښاپیرۍ په کیېف کې

### لیکوال محمد طارق بزګر

۱/ دا کتاب چې د یوې ریښتنې پېښې له مخه لیکل شوی او د افغان جګړې د ناخوالو، نتیجو ، تاثیراتو او په ټولنه او خلکو یې اغېز، ښځه په افغاني ټولنه کې او د یوې افغانې د دردونکې او تریخ ژوند کیسه چې بلاخره بدلمنۍ ته مجبوریږي.

د کتاب بیه ۱۵۰ ناروېژي کرونه یا د هغې معادل او پوستي د لیارې ۲۰۰ ناروېژي کرون (د نړۍ ټولو هېوادونو ته).

---




## ملي رسالت (د محمد طارق بزګر کارنامې)

لیکوال ارواښاد مصطفی عمرزی

۲/ دا کتاب چې د دعوت رسنیز مرکز او مسئول مشر بیلابیل فعالیتونه او د لسګونو مطرحو افغانانو نظرونه هم په بر کې لري د دې کتاب ژبه پښتو او دري ده. کتاب د ګټې له پاره نه دی مینه وال یې یوازې د چاپ د مصرف په ورکولو سره تر لاسه کولای شي د کتاب د چاپ بیې تر څنګ پوستي مصرف یې ۷۰ کرون یانې (۷) ډالرو په ورکړې سره تر لاسه کولای شي.

## زموږ کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا)

۳/ د ژوند، کار، فعالیتونو او د دغه ستر انسان په اړه د لسګونو افغانانو نظرونه او نور ډیر څه د عکسونو سره راغونډ شوي دي، د کتاب ژبه پښتو او دري ده، دا کتاب هم په وړیا ډول یوازې د پوستي مصرف (۱۰۰ ناروېژۍ کرون یا ۱۰ ډالر) په ورکولو سره هر افغان چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي وغواړي ورته لیږل کیږي.




۴/ **کله چې طوطي والوت** د ماشومانو له پاره د یو ناروېژي کتاب ژباړه ده د کتاب لیکوال انتون ایسپیرو او ژباړن یې محمد طارق بزګر دی. دا کتاب د ماشومانو له پاره په خوږه پښتو ژباړل شوي او په ښکلی قطع او صحافت چاپ شوی دی. د کتاب بیه ۱۰۰ کرون یانې (۱۰ ډالر) ده او د پوستي مصرف سره ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر ده د نړۍ په هر ګوټ کې هېوادوال کولای شي دا کتاب د دعوت رسنیز مرکز څخه قیمت په بدل کې وغواړي.

---






/۵ په انګلیسي ژبه د کیيف ښاپیرۍ (An Afghan Beauty in Kiev) چې لیکوال يې محمد طارق بزګر دی د یوې رېښتنې کیسې او پېښې له مخې لیکل شوې چې په تړوله کې د جنګ جګړو د ترخو ناخوالو له امله د یوې افغانې د ژوند دردونکې کیسه چې په پای کې بدلمنۍ ته مجبورېږي. د دې کتاب بیه ۱۰۰ ناروېژي کرون یانې ۱۰ ډالر ده چې د پوستي مصرف سره ټول ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر کیږي چې د قیمت په ورکړې سره د نړۍ هر ګوټ ته مینه والو ته لیږل کیږي. دا کتاب په بهرنیو هېوادونو کې ستاسو بهرنیو دوستانو، استادانو، د کار همکارانو، ګاونډیانو، ملګرو له پاره هم یوه ښه ډالۍ ده.

---

## ناروېژي - پښتو قاموس

### Stor Norsk-Pashto Ordbok




/٦ چې د محمد طارق بزګر د ۱۷ کلونو د زیار او هڅو نتیجه ده چې ټول ۵۰۰۰ لغاتونه او کتاب ۱۰۰۰ مخونه لري په لوړ معیار چاپ او له ناروې بر سیره په سویډن او ډنمارک کې هم هېوادوال ترینه ګټه اخیستلای شي. په دې کتاب سره د هر مسلک د خاوندانو ستونزې تر ډېره حلیږي یا په بل عبارت د لومړي ټولګي تر پوهنتونه، په هر ډول کاري چاپیریال او په کور کې د والدینو له خوا د ماشومانو ژبنۍ ستونزو په حل کې پوره مرسته کوي. د ناروېژي ژبې د هر ډول لغاتو مانا په اسانه په کتاب کې پیدا کولی شئ دا باید هم یادونه وشي چې د یو زیات شمېر لغاتونو، نومونو او نورو څیزونو عکسونه د اسانه پوهاوي په پار د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي چې دا په اسانه د پوهاوي په برخه کې د قاموس کاروونکو سره مرسته کوي. د دې کتاب شتون په هر افغاني او پښتنې کور او ستاسو په کتابتون کې ضروري او د ناروېژي ژبې په حل کې ستاسو ښه مرستندوی دی. د دې کتاب بیه ۵۰۰ ناروېژي کرون ده. د ناروې د هر کتابتون څخه د لاندې معلوماتو په ورکولو سره ناروېژي پښتو قاموس غوښتلای شئ.

د کتاب نوم: ناروېژي پښتو قاموس

**Stor Norsk-Pashto Ordbok**

د لیکوال نوم: محمد طارق بزګر

**Mohammed Tariq Bazger**

ایس بی این شمېره: **ISBN: 978-82-691395-0-1**

د پاسنیو کتابونو مینه وال او غوښتونکي کولای شي په حضوري ډول يې د لیلیستروم په ښار (ناروې) کې يې د دعوت رسنیز مرکز څخه واخلي او یا هم د بانک د لارې پیسې د دعوت میډیا په اکاونټ **AC#0530 22 94668** او یا د دعوت رسنیز مرکز د ویپس په شمېره شمېره **Vipps: #557320** د خپل بشپړ پوستي ادرس سره راولیږئ ستاسو د خوښې او اړتیا وړ کتاب به ډېر ژر تر تاسو دروسیږي.

د دعوت رسنیز مرکز دفتر Dawt Media Center
Voldgt. 37A 2000 Lillestrøm, Norway
Mobil: +0047 90856195 Tel: +0047 63844384

# افغانستان: رښتيا پلټنه

## ليکوال: بروس گ. ريچارډسن

## ژباړن: رحمت اريا




۷/ دا کتاب چې د امريکايی ليکوال ښاغلي بروس ريچارډسن د بيلابيلو مقالو پښتو ژباړه ده چې ټول ٦۴٨ مخونه او د ۵۰۰ ټوکو په شمېر څو کاله وړاندې د دعوت رسنيز مرکز له خوا په پېښور، پښتونخوا کې د چاپ په گاڼه ښکلی شوی دی. کتاب ټول د معتبرو اسنادو په مټ ليکل شوي چې د ليکوال د لسيزو کار ثمره ده. دا کتاب په ځانگړې ډول د شمال ټلوالې د قوماندان احمد شاه مسعود په اړه ډير اسناد ښکاره کوي چې مسعود په څه ډول د روسانو يا د وخت د شوروي اتحاد سره اړيکې درلودې او په څه ډول يې د هغوئ له پاره يا د هغوئ په گټه کار کاوه.

د دې کتاب مينه وال کولی شي دا کتاب د ناروې په ليليستروم ښار کې د دعوت رسنيز مرکز څخه ترلاسه کړي. او هم يې هېوادوال د پوست د لارې تر لاسه کولای شي د کتاب بيه ۲۰۰ کرون او پوستي مصرف يې ۱۲۵ ناروېژي کرون کيږي.




# Afghanistan Ending the reign of Soviet Terror

**By: Bruce G. Richardson**

۸/ دا کتاب د امريکايي ليکوال ښاغلی بروس گ. ريچارډسن د زيار نتيجه ده. کتاب ټول ۱۸۰ مخونه لري. دا کتاب په افغانستان د شوروي اتحاد د يرغل په موده کې افغانستان او سيمې ته د ليکوال د مختلفو سفرونو د ليکنو او د هغه مهال د ځينو عکسونو په بر کې نيوونکی دی. دا کتاب هم د شورويانو سره د شمالي ټلوالې د قوماندان احمد شاه مسعود په اړه ډير معتبر اسناد ښکاره کوي او د هغه چا له پاره چې غواړي پوهه شي چې احمد شاه مسعود څوک او څه يې کول او څه يې وکړل ډير ښه او معتبر لاسوند دی.

دا کتاب هم کلونه وړاندې د دعوت رسنيز مرکز له خوا په انگليسي ژبه چاپ شوی د کتاب مينه وال يې د ۱۵۰ کرونو په بدل کې د دعوت رسنيز مرکز څخه تر لاسه کولای شي. او هم هېوادوال ته د پوستې د لارې (۱۵۰ + ۵۵= ۲۰۵) کرونو په بدل کې ليږل کيدای شي.

---

# Afghanistan: A Search for Truth

## By: Bruce G. Richardson

۹/ دا کتاب د امریکايي لیکوال ښاغلی بروی ریچارډسن د کلونو زیار او څېړنو مجموعه ده. کتاب ټول ۴۸۰ مخونه لري او د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر د دعوت رسنیز مرکز له خوا چاپ شوی دی. دا کتاب هم د ٦٩ مقالو او خو لیکونو ټولګه ده. لیکوال د افغانستان او افغانانو سره د ډیرې مینې او اخلاص له امله له نورو لویدیځو او امریکایی لیکوالو سره څرګند توپیر لري او د لویدیځ له ګټو زیات یې د افغانستان ګټې محترمې ګڼلی دي. د دې کتاب لوستل د هر افغان په ځانګړې ډول هغوئ چې په انګلیسي پوهیږي او غواړي د خپل هېواد له وروستیو څو لسیزو او د شوروي د اشغال له مهال څخه کره معلومات تر لاسه او ځان باخبره کړي د دې کتاب لوستل ورته اړین دی. دا کتاب د افغانانو غیر افغاني دوستانو ته چې په انګلیسي پوهیږي خورا ښه ډالۍ ده.

دا کتاب هم د ناروې په لیلیستروم ښار کې د دعوت رسنیز مرکز څخه د ۱۵۰ ناروېژي کرونو په بدل کې تر لاسه کولای شئ.

او هم یې هېوادوال او مینه وال د پوست د لاري (۱۵۰ + ۱۲۵= ۲۷۵) کرونو په بدل کې تر لاسه کولای شي.






د لومړي مخ پاتې

# شهید ګیله‌من وزیر د معاصر تاریخ نه تکراریدونکی شخصیت

کله چې مکار دښمن وپوهېد چې نور نه شي کولی د دې ځوان مخه ونیسي نو د مرګ فیصله او حکم یې صادر شو. لومړی یې داسې ټپي کړ چې د ژوندی پاتې کېدو چانس یې نه درلود او درې ورځې وروسته د همدغو ټپونو له امله په اسلام اباد کې د تل له پاره خپلې سترګې پټې کړې.

د ګیله‌من د ټپي کېدو او شهادت خبر سره په پښتنو افغانانو ځمکه سره شوه، او ټول د غم په ټغر کېښناستل. له شهید کېدو وروسته ګیله‌من اتل شو، د ګیله‌من ګیلې واورېدل شوې، د ګیله‌من شعرونه، ویناوې، غوښتنې او ارمانونه برالا شول، د هر پښتون افغان تر غوږونو ورسېدل، ګیله‌من د پښتنو غږ شو، ګیله‌من د حق غږ شو، ګیله‌من د انقلاب پیلامه شوه، د دغه میړنی ځوان جنازه چې ملیونونو افغانانو پکې ګډون کړی وو په سیمه کې ساری نه و، او دا ویر یوازې د ده کورنۍ پورې محدود پاتې نه و. هغه مخکې هم په خپل شعر کې ویلی و:

**زما په لاش به دومره ویر وي چې توبې وباسی**
**ځکه چې زه د شپږو خویندو کشرى ورور یم**

ګیله‌من د خپل شهادت وروسته د هر چا په خوله شو او پیغام یې تر ډېرو ورسېد. نن ګیله‌من نشته خو لاره او فکر یې ژوندی دی. ګیله‌من له خپل شهادت وروسته د زړونو اتل شو او د ملي اتلولۍ لقب یې خپل کړ.

د لوی پښتون او افغان قوم دښمنان تل هغه ککرې په نښنه کوي چې د پښتونوالۍ او افغانیت بوی ترې خیژي. څوک چې د پښتنو د بیدارۍ، ویښتیا، یووالي او حقونو غوښتنه کوي هغه خپل دښمن بولي. ډارن دښمن پر ګیله‌من دا ګوزار د دې له پاره وکړ چې غږ، فکر او خوله یې بنده کړي خو خبر نه و، چې د ګیله‌من شهادت د پښتنو له پاره د ژوند، یووالي او مبارزې پیغام درلود په مرګ یې ځان په پښتنو وپیژاند او پښتانه یې له ډېر دروند خوبه راویښ کړل. تور دښمن وبایلله او پښتون قام د خپل رښتیني زوی په وینو وګټله.

ملي اتل په پښتني او افغاني دود کې هغو کسانو لپاره کارول کېږي چې د خپل هېواد، قوم او خلکو لپاره د بې سارې خدماتو او قربانیو له لارې ځانونه اتل او قهرمانان ثابتوي. دا اصطلاح عموماً هغو کسانو ته کارول کېږي چې په جګړو، ملي غورځنګونو، یا ټولنیزو خدمتو نو کې مهمه ونډه لري او د خلکو د خلوص او مینې له مخې د اتل په توګه یادیږي. چې په دې ویشنه (کټګورۍ) کې شهید ګیله‌من وزیر په سر کې راځي. د ملي شهید کلمه کارول هم د هغه چا له پاره کارول کېږي، چې د خپل هېواد، قوم، او خلکو د خپلواکۍ، او ملي ارزښتونو د دفاع لپاره خپل ژوند قربان کړي. ملي شهید د خلکو په زړونو کې د قهرمان او اتلانو په توګه ځای لري او د دوی قربانۍ او اتلولۍ د هېواد د تاریخ یوه مهمه برخه ګڼل کېږي. دغه اصطلاح عموماً د هغو کسانو لپاره کارول کېږي چې په نظامي جګړو، ملي غورځنګونو، او نورو مبارزو کې په شهادت رسېدلي وي.

ګیله‌من د لوی افغانستان په خپلواکي او ملي بیرغ دومره مېئن و، چې هسې مینه به هېڅوک ونه لري. ملي بیرغ یې ځان او وجود و، ملي بیرغ یې سره کرښه وه. هغه په ملي بیرغ او ملي ازرښتونو خپل سر بایلود او په خپلو شعرونو کې یې تل د درې رنګه بیرغ یادونه کړې. لکه:

**درې رنګه بیرغ زما ایمان دی**
**په دې باندې مې سر و مال قربان دی**

یا دا:

**که مړ شوم د وطن په ننګ نو ما په کې دفن کړئ**
**له درې رنګه ملي بیرغه جوړ راته کفن کړئ**

ګیله‌من د لر او بر افغان ملت د یووالي ارمان له ځان سره خاورو ته یووړ. هغه له موږ څخه جسماً د تل له پاره لاړ؛ خو فکر، شعر، مېړانه یې د هر پښتون افغان د فکر ملګری شو. ګیله‌من په خپل شهادت افغان ولس راویښ کړ، د هغه فکر د هغه له شهادت وروسته لکه د ځنګل اور د هر افغان د فکر میلمه شو. هغه لاړ خو د هغه په نوم پښتون افغان ولس د یوې لویې تاریخي ملي جرګې کوربه شوه. هغه لاړ خو فکر او نوم یې ټول اصیل افغانان په یو ټغر راټول کړل. که نن ګیله‌من وزیر له موږ سره نشته خو فکر او لار به یې د تل له پاره د پښتنې مبارزې سرخط وي. که دښمن فکر کوي چې په دې ډول جنایتونو او وژنو به د پښتون ولس برحقه غوښتنې او سرښندنې وځپي، د ګیله‌من شهادت دا په ډاګه کړه چې تور دښمن خپل ګور کیندل پخپله پیل کړل، پښتانه یې لا یوموټې او وهڅول چې خپله توره تیره او د خپل حق او خپلواکۍ له پاره لا جدي، منسجم، او یوموټې شي.

**د لر او بر آفغـــان په غم باندې غمجنه یاره**
**خدای دې جنت درکړي شهیده ګیلامنه یاره**



**The Road Ahead**

The road stretching nearly 500 kilometers from Faizabad, the capital of Badakhshan, to China's Yarkand region traverses some of Afghanistan's most isolated and elevated terrains. Upon completion, it is anticipated to play a pivotal role in the economic integration of Afghanistan with China, positioning the country as a crucial junction between China, Europe, and the Middle East.

Yet, the path ahead is fraught with challenges. While the road's construction represents a significant milestone, it marks merely the onset of a protracted and intricate journey to establish robust economic and diplomatic relations with China. Building trade and economic connections extends beyond the mere existence of an unpaved route; it necessitates international agreements, substantial infrastructure development, and, above all, stringent security measures.

As global attention shifts to the Wakhan Corridor, it teeters on the edge of transformation from a remote outpost to a vital lifeline for Afghanistan.

The corridor embodies the renewed hope of the Silk Road for the people of Badakhshan, yet its potential realization hinges on the intricate balance of geopolitical, economic, and security factors in this turbulent region.

Whether this new route will usher in prosperity or present new risks remains to be seen, but one certainty emerges: “the Wakhan Corridor is poised to shed its former obscurity and emerge as a gateway to Afghanistan's future.” Said Tabi.



# Wakhan Corridor: A Forgotten Frontier Now Poised to Become Afghanistan's Lifeline

By Humayoon Babur

